دا کتاب د انډرويډ موبايلو لپاره په لاندې مشخصاتو په ګوګل سټور کې هم موندلای شئ

د کتاب ټول ټال وزن ۱۴ ایم بي ده

د کتاب هره برخه،هرمضمون کاپي او په ټولنیزو شبکو نشرولای شئ

په کتاب کي د سند په ټول ۸۱ اتیا انځورونه او د یوټیوب او ځینو نورو سایټو لینکونه شته دي چې مستقیم پې کتلای شئ

په اپلیکېشن کي پلتنځای شته پلټنه کي کولای شئ

په کتاب کي د خوښي وړ لیکنه د خوښي وړ ځای کي درته سرېښ کولای شئ

د کتاب ټولې لیکبڼې په پنځه ډوله تغیر او سایز پي ورته کوچنی او غټولای شئ

لیکلو ته د خپلې خوښي مطابق رنګ اتخابولای شئ

د لیکولو په مابین کي فاصله د خپلې خوښي مطابق انتخابولای شئ

هره لیکنه او یا هم مکمل اپلیکېشن له ملګرو سره شرېکولای شئ

په کتاب کي د الهداية خپرندویه اداري لخوا ګوګل سټور ته د پورته شویو کتابونه مجموعه لینک شته چې له هغه ځایه ټول کتابونه کتلای شئ

Ketabton.com

د اپلیکېشن ډاونلوډ کول

په ګوګل سټور کي ورته ولیکئ (**له موصله تر ننګرهاره حقایق**) او یا له لاندې پیوندونو څخه استفاده وکړئ

ټلیګرام چینل: www.Telegram.me/HedayatApp

فېسبوک ډله (ګروپ) www.facebook.com/groups/Hedayatapp

یادونه : د فېسبوک له ګروپ څخه یي د فېسبوک په انټرنیټ پیکج (بنډل) هم ډاونلوډ کولای شئ

په درنښت

الهداية خپرندویه اداره

Hedayatjanjan@gmail.com

ketabton.com - The Digital Library

داعش له موصله تر ننګرهاره(حقایق،اسرار،اسناد،) دلیکنو مستنده لړۍ

سریزه

ليکوال: قاري سعيد خوستی

د یویشتمي پیړۍ په لومړۍ یوه نیمه لسیزه کې د نړۍ سُپرپاور امریکا او د هغې پوځي ائتلاف ناټو زمور بشري نړۍ له خورا سترو چیلنجونو سره مخ کړه. د ۱۱م ستمبر د ناڅرګندي معما په پلمه یې لومړی پر افغانستان پوځي برید وکړ ورپسي یې د هستوي وسلو په بهانه پر عراق یرغل وروړ چې په دې توګه یې په سویلي آسیا او منځني ختیځ کې د مرګ او ژوند یوه ناتمامه تراژیدي را پیل کړه چې تراوسه لا جریان لري.

دا ناورین یوازې تر پوځي ځواک کاروني پورې محدود پاتې نه شو، بلکې په ترڅ کې یې نورو فتنو هم سر را اوچت کړ، چې د مسلمانانو د ډېرې سترې ځوروني سبب شو . په عراق کې د شیعه سني ، تر نامه لاندې فتنه دومره وغوړیده چې ان ټول شرق الأوسط یې په لمبو کې را ایسار کړ. د همدغې فتنې د لا تازه کولو او ژوندۍ ساتلو په موخه د داعشي خلافت په نوم، یوه بله فتنه رامنځ ته شوه. د خلافت نامه ته که څه هم د لنډ مهال لپاره د مضطرب امت هیله مندي پیدا شوه خو متاسفانه چې ډېر ژر د هغوی د نا اسلامي او نا انساني کړنو له امله بېرته ټول اسلامي امت نا امیده شو.

دغه فتنه د مسلمانانو لپاره هغه وخت نوره هم خطرناکه ثابته شوه چې د بنسټ لینک یې له یهودي او صلیبي چینلونو سره تړلی وګڼل شو. د یرغلګرو دا لوبه هغه مهال نوره هم واضحه شوه چې تخم یې د افغانستان په پاکه خاوره کې هم را وټوکید.

ریښتیا هم دا خبره ګرانه ده چې د داعش په نوم د اسلامي خلافت یوه لوبه ډله، ځنګه د مسلمان امت لپاره سردرد بلل کیږي ؛ په داسی حال کې چې هغوی ځانونه د نبوي منهج اصلي پیروان ګڼي. دا پېژندنه یې داسی یو تحقیق او څېړني ته اړتیا لري چې په اړه یې د پېژندني مستند شواهد د باخبره عالمانو لخوا وړاندې شي. همدا اړین کار و چې قاري سعید خوستي صاحب انجام کړی، په دې کتاب کې یې پرته له څه ذهني تمایل نه ، پر مستندو دلایلو ولاړ ښه ژور تحقیق کړی چې یاده ډله یې داسي معرفي کړي چې د هغوی بنسټ ، پیدایښت ، عروج او د پرمختګ مراحل یې راسپړلي ، بیا یې د هغوی ټولې سمې او ناسمې کړنې ذکر کړي دي ، په عربي او نوره اسلامي نړۍ کې د هغوي په وړاندې د علماؤ نظرونه بیان شوي ، ورپسې یې د داعش خلافت او د هغوی ډله د قرآن او حدیث د نصوصو په رڼا کې څېړلې. افغانستان ته د داعش د را انتقالیدلو په اړه په کتاب کې خورا جالب او معلوماتي بحث شوی دی.

نو زه باور لرم چې دا کتاب به له هغه چا سره ډېره زیاته مرسته وکړي چې غواړي د داعش او د هغوی د اسلامي خلافت په اړه ځان پوه کړي ، خصوصاً هغه ځوانان چې د داعش په لیکو کې نوي جذب شوی او یا د جذب په حال کې دي ؛ هغوی دې هرو مرو دا کتاب ولولي ترڅو د حق او باطل لوری ورته څرګند شي او په یوه متشابه لاره کې د دوی له پاکو جذباتو سره لوبې ونشي.

دا کتاب کولای شی چې تاسو ته یو ښه لوری وټاکی . ترڅو په دنیا کې له داسی فتنو څخه وژغورل شو چې د آخرت د تباهۍ اسباب راته مهیا کوي.

خدای تعالی دي یې لیکوال ته د حق د بیانولو نور هم توفیق او لوستونکو ته د اعظمي استفادې توان ورپه برخه کړي.

آمین

موسی فرهاد

ketabton.com - The Digital Library

لومړی فصل

خوارج

خوارج د اسلام په تاريخ کې د مبتدعه ډلو په مينځ کې لومړۍ ډله ده چې راڅرګنده شوه. د خارجي فکر ظهور د الله د رسول صلی الله عليه وسلم په حياتِ طيبه کې وشو. ذوالخويصره التميمي يا حَرقُوص بن زُهَيرالسَّعدي (بناء په اختلاف د رواياتو) لومړۍ خارجي ؤ چې د الله د رسول په وړاندې يې ګستاخي وکړه او داسې يې اويل: إعدل يامحمد.

د لغت په لحاظ خوارج د خارجي ډيرن دی چې يا له طاعته وتونکي او يا له دينه وتونکي ته ويل کيږي.

دخوارجو په آړه نبوي ص ارشادات او د هغې فقه او فوايد

لومړی حديث: امام احمدبن حنبل او امام بخاري پخپل خپل سند سره د ابو سعيد الخدريرض څخه نقل کوي چې ويې فرمايل: بَعث عليٌّ وهو بِاليمن إلى النبيّ صلَّى الله عليه وسلم بذُهَيْبَةٍ فِيْ تُربَتِها إلى رسولِ الله صلَّى الله عليه وسلم فقسّمها رسولُ الله صلّى الله عليه وسلم بَين الأقْرع بن حابس الحَنظلِيّ ثُم أحد بني مُجاشعٍ، وبين عُيَينة بن بَدْرالفزّاري، وبين عَلقمة بن عُلاثة أحد بني كِلاب وبين زَيْدالخيرالطّائيّ ثم أحد بني نبهان قال:فغضِبتْ قُريشٌ والانصار قالوا:يُعطِي صَناديد أهل نجدٍ ويدَعُنا؟ قال إنما أتألّفهم . قال فأقبل رَجلٌ غايرُالعَينين، ناتئُ الجَبِين، كَثُّ اللِّحية، مُشرفُ الوَجْنتين، مَحلوق الرَّأس، فقال : يامحمد إتَّقِ اللهَ فقال: ومن يُطعِ اللهَ إذا عَصيتُه؟ يأمنُنِيْ على أهلِ الأَرض ولاتأمنُونِي " قال: فسأل رجلٌ النبيَّ صلّى الله عليه وسلم قتلَه_أُراه خالدَبن الوليد_ فلما ولَّى قال:إنّ من ضِئضِئِ هذا قوماً يَقرؤون القُرآن لايُجاوِز حَناجرهم′ يمرقون من الإِسلام مُروقَ السّهمِ من الرميَّةِ′ يَقتلون أهل الإسلام ويَدَعون أهل الأوثان′ لئن أنا أدركتهُم لأَقتلنَّهُم قَتل عاد" (بخاري ج٢ حديث نمبر٧٤٣٢ مسند امام احمد ج٣ ص ٤)

ژباړه:عليرض له يمن څخه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د سرو زرو داسې تکړه راولېږله چې په خاورو آلوده وه (نوي وه) رسول الله صلى الله عليه وسلم د اقرع بن حابس، عيينه بن بدرالفزاري، علقمه بن علاثه، او زيد الخير په مينځ کې تقسيم کړه، قريش او انصار غصه شول چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د نجد د خلکو مشرانو ته ورکړه کوي او مور پرېږدي(څه نه راکوي) هغه مبارک اوفرمايل: زه دوی ته پدې خاطر مال ورکوم چې د اسلام سره يې مينه پيدا شي. يو کس چې ژورې سترګې، وتلی تندی، کنه ږيره، اوچت اننګي، خرڅيلی سر يې ؤ راغلو او ويې ويل: آی محمده له الله څخه اوېرېره هغه ص اوفرمايل: نو څوک به د الله اطاعت کوي چې زه يې نافرماني وکړم؟ الله تعالی زه د زمکې په خلکو امين ټاکلی يم خو تاسې ما امين نه ګڼی. راوي وايي : له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يو کس چې ګمان کوم خالد بن وليد به وي د ده د وژلو اجازه اوغوښته ،خو چې کله دا سړی واپس شو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: د دې سړي له نسبه به داسې خلک

ketabton.com - The Digital Library

راؤوځي چې قرآن به لولي خو له اسلامه به داسې وځي لکه غشی چې له ښکاره وځي، مسلمانان به قتلوي او بت پرستان (کافران) به پريږدي که ما د دوی د راوتلو زمانه بياموندە د عاديانو په شان به يې اوژنم (يعنې بيخ اوبنياد به ختم کړم) .

دحديث فائدې

(۱) له حديث څخه د خوارجو کمالِ کستاخي معلوميږي چې دوی حتی د الله د رسول په وړاندې دومره بې ادبه ؤ .

(۲) د خوارجو د راڅرګندیدو لوی سبب د مال طمع وه. همدا ذوالخويصرة التميمي ځکه په رسول الله صلى الله عليه وسلم د ظلم تهمت ولګولو چې هغه ته د حنين د غنيمتونو څخه څه ورنکړل شول.

(۳) خوارج د امورو په وړاندې له بيړې څخه کار اخلي او په صبر او حلم سره فيصله نه کوي .

(۴) خوارج د مصالحو او مفاسدو اصل نه مراعتوي، چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم يې تنفيد وکړ په داسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مصلحت په بنياد هغوی ته مال ورکړی ؤ.

(۵) د دوی صفت د ظاهر اصلا او د باطن فساد دی همدا وجه ده چې ابن عباس وايي :ليس باشدَّ اجتهادا من اليهود والنصارى ثم ضلوا ؛ خو د دې سره بيا هم دوی له دين څخه وتونکي دي.

(۶) دخوارجو بل صفت بدګماني ده چې د دوی نيکه په رسول الله صلى الله عليه وسلم کړي وه همدا ډول هغه څه ګناه بلل چې ګناه نه وي.

(۷)حافظ ابن حُجر وايي :کله چې مراد په دين سره اسلام شي، نو دا بيا دليل د هغه چا لپاره دی چې خوارج کافر بولي خو که مراد له دين څخه طاعت شي نو بيا دوی فاسقان دي چې دا قول د جمهورو دی(فتح الباري ج۶ ص ۶۱۸)

(۸) په حديث کې ترغيب دی په قتال د خوارجو. ځکه خارجي فکر اسلام ته تر يهوديت او نصرانيت هم لوی خطر دی ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی لپاره يوازې د وژلو تمنا نه کوي بلکې د عاديانو په څير يې بنياد ختمول غواړي ځکه د اسلام په تاريخ کې خارجيت دشا لخوا خنجر ثابت شوی.

(۹) د خوارجو سره د نورو مبتدعه ډلو برعکس تعامل کولی شي، په دې معنی چې د باغيانو سره جنګ کولی شي تر هغې چې په طاعت د امام کې داخل شي، د باغيانو اسير او زخمي نه شي وژلی خو د خوارجو لپاره د عاديانو په څير وژنه غوښتل شوې ده. علامه ابن تيميه وايي: د خوارجو په اړه د قتال امر د باغيانو او لاروهونکو په څير نه دی ځکه دوی د عاديانو په شان وژل نه دي روا په خلاف د خوارجو چې هغوی بايد دعاديانو په څير له بيخه اويستل شي (الصارم المسلول ج۲ ص ۳۴۷)

ketabton.com - The Digital Library

(۱۰) يقتلون اهل الاسلام ويدعون اهل الاوثان دا د خوارجو بل ممتاز صفت دی چې کفار مشرکين به نه وژني بلکې د دوی توري به هر وخت د مسلمانانو کردنونه پرې کوي. امام ابن تيميه ؒ ليکي: لأن أولئك عندهم كفارٌ أصليون وهولآء مرتدّون وكُفرالرِّدة أغْلَظ بالإجماع من الكُفرالأصلي (مجموع الفتاوى ج۲۸ ص ۸۴۷) ځکه چې دوی عام مؤمنان مرتدين بولي او په اجماع سره د ارتداد کفر سخت دی د اصلي کفر څخه نو د دوی د پليت اعتقاد مطابق لومړی بايد مرتدين اوژل شي .وروسته د اصلي کافرانو سره مقابله وشي

دويم حديث

امام بخاري د يُسَيربن عمرو څخه پخپل سند سره نقل کوي چې فرمايي: قلت لسُهيل بن حُنَيْف هل سمعتَ النبيَّ صلّى الله عليه وسلم يقول فِي الخوارج شيئاً؟ قال سمعتُه يقول وأهوى بيده قِبَل العِراقِ يَخرُج منه قوم يَقرؤون القرآن لايُجاوزُ تَراقيهم يَمرقون من الإسلام مُروق السّهمِ من الّرميةِ (بخاري ج۲ ۶۹۳۴)

ژباړه:يُسيربن عَمرو وايي چې ما سُهيل بن حُنيف ته اويل: تا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د خوارجو په آړه څه شی اوريدلي دي؟ هغه اويل چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې او په لاس سره يې د عراق په لور اشاره وکړه: له دې خوا به يو قوم راؤوځي چې قرآن به لولي خو له مريو به يې لاندې نه کوزيږي له اسلامه به داسې وځی لکه غشی چې له ښکاره ووځي .

دريم حديث

امام ابن ماجه او امام احمد پخپل خپل سند سره د ابن عمر څخه نقل کوي چې فرمايي: سمعتُ رسولَ اللهِ صلّى الله عليه وسلم يقول :كُلّما خرج قَرنٌ قُطع أكثر من عِشرينَ مرةً حتى يَخرجُ في عِراضِهم الّدجّال (سنن ابن ماجه ص۱۴۷ مسند امام احمد حديث رقم ۵۵۶۲)

ژباړه: ابن عمر فرمايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: کله چې هم د دوی (خوارجو) ښکر (څه قوت)راڅرګند شي الله تعالى به يې پرې کړي تر دې چې دا کلمه يې ۲۰ ځله تکرار کړه هغه مبارک اوفرمايل :تردې چې د دوی په ډله کې به آخر دجال هم راڅرګند شي

د دوارو حديثونو فايدې

(۱) رسول الله صلى الله عليه وسلم د عراق په لور په لاس سره اشاره کول دا خبره په ډاګه کوي چې عراق به د دوی د ظهور مرکز وي، تاريخ ثابته کړي چې عراق تل د فتنو او مبتدعه ډلو لپاره ځاله پاتې شوي ده. د اسلام په تاريخ کې عراق دلويو فتنو .او فسادونو شاهد پاته شوی چې له امله يې ټول اسلامي امت سخت کړيدلی دی

ketabton.com - The Digital Library

(۲) له پورتني حديث معلوميږي چې دا ډله به تکرارا راڅرګنديږي خو الله تعالی به يې هلاکوي، داسلام په تاريخ کې خوراجو خوځله ظهور کړی دی چې ترټولو خطرناک يې د عراق اوسني بعثي خوارج دي

(۳) تر ټولو خطرناک دا چې په دوی کې به دجال راڅرګنديږي يعنې دجال به هم د خوارجو له ډلې څخه وي.

(۴) د خوارجو بل هغه صفت چې په احاديثو کې ذکر شوی هغه قرآة القرآن دی، يعنې دوی به قرآن ډير ښکلی او په تجويد سره لولي خو دا به يې تر ظاهره محدود وي په باطن کې به يې قرآن هيڅ آثر نه کوي.

څلورم حديث

امام احمد، امام ترمذي، امام ابن ماجه پخپل خپل سند سره د سعيد بن جهمان څخه روايت کوي چې فرمايي:كُنّا نُقاتل الخوارجَ، وفِينا عبدالله بن ابي أَوْفى، وقد لَحق غُلام له بالخوارج ،وهم من ذالک الشَّطِّ ونحن من ذا الشّط فنادیناه: أبافَيْروز، أَبافَيْروز، وَيحک هذا مولاک عبدالله بن أبي أوفى قال :نِعم الَّرجل هو لو هاجر؛قال: مايقول عَدُوّالله؟ قال قلنا يقول: نعم الرجل لوهاجر؛ قال فقال: أهِجرةٌ بعد هجرتِيْ مع رسول الله صلَّى الله عليه وسلم؟ ثم قال: سمعتُ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم يقول : طُوبى لِمن قتلهم وقتلوه.

ژباړه: سعيد بن جهمان وايي: عبدالله بن ابي اوفى زموږ سره راسره ؤ کله چې موږ د خوارجو سره په جنګ کې ؤ، دنوموړي يو غلام د خوارجو صف ته ورغلو، موږ په يو طرف کې ؤ دوی په بله خوا کې ؤ، موږ ورته چيغه کړه چې ابافيروزه ابافيروزه هلاک شي دا دی ستا مولی عبدالله بن ابي اوفى (ديخوا ته راشه) هغه غلام چې خارجي ؤ اويل: عبدالله ښه سړی دی خو که هجرت يې کړی وای، عبدالله اويل دا د الله دښمن څه وايي؟ موږ ورته اويل چې داسې وايي هغه اوفرمايل: آيا د الله د رسول سره له هجرت څخه وروسته بل هجرت؟ بيا يې اويل: چې ما له رسول الله څخه اوريدلي چې فرمايل يې: خوشالي ده هغه چا لره چې دوی يې اوژل او هغه چا لره چې دوی اوژلو.

دحديث فايدې

(۱) خوارج د دوی له سلطې څخه وتلي ټولې زمکې دارالحرب بولي او په مسلمانانو له هغه زمکو څخه هجرت فرض بولي او څوک چې هجرت نه کوي هغه مجرم بولي ځکه ابافيروز خارجي په جليل القدرصحابي طعن اويلو.

(۲) لوی فضيلت هغه چا لره چې د دوی لخوا شهيد کړل شي او هغه څوک چې په دوی ځان غازي کړي.

پنځم حديث

ابوداؤد، ابن ماجه، احمدبن حنبل پخپل خپل سند سره د ابو سعيد خدريؓ ،انس بن مالکؓ، څخه نقل کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل:سَيكُون فِي أُمّتي إختلاف وفُرقةٌ' قومٌ يُحسنونَ القِيل ويُسِيئُون الفِعلَ' يَقرؤُون القُرآن لايُجاوز تراقيهم' يَحقِر أحدكم صَلاتُه مع صلاتِهم وصيامُه مع صِيامهم' يَمرُقون من الدين كما يمرُق السّهم من الَرميَّة '

ketabton.com - The Digital Library

لايرجعون حتى يرتدُّ السهم على فُوقه هم شرُّالخلق والخليقةِ طُوبى لمن قتلهم وقتلوه يدعون إلى كتاب الله وليسوا منه في شئٍ من قاتلهم كان أولى بِالله منهم(مسندالإمام احمدج٣ص٢٢٤، سنن ابي داؤودج٢ص ٣٠٨ سنن ابن ماجه ص١٧٥) وعن إبن عمر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:الفتنة ههنا من حيث يطلع قَرْن الشيطان وأشار بيده نحوَالعِراق(صحيح البخاري ج٢ص٦٢٣، صحيح مسلم ج٢ ابواب الفتن واشراط الساعه،مسند امام احمدج٢ص١٢١)

ژباړه:په نړۍ وخت کې به زما په امت کې تفرقه او اختلاف پيدا شي، داسې يوه ډله(قوم) به رامينځ ته شي چې خبرې به يې ښائسته وي خو عمل به يې بدرنګ وي ، قرآن به لولي خو له مريو به يې لاندې نه ښکته کيږي، يو له تاسې به د دوی د لمانځه په وړاندې خپل لمونځ سپک ګڼي او خپله روژه به د دوی د روژې په وړاندې سپکه ګڼي، له دين څخه به داسې وځي لکه غشی چې له ښکاره وځي ،بيا به دين ته نه واپس کيږي تر څو چې غشی خپل فُوق (دوتلو ځای) ته واپس شوی نه وي(نو هغه خو ناممکن دي دا هم ناممکن دي) دوی بدترين مخلوق دی خوشالي ده هغه چا لره چې دوی قتل کړي او هغه چا لره چې د دوی له لاسه اوژل شي، چا چې له دوی سره جنګ وکړ هغه ډير لايق دی په دې جنګ سره د دالله په نزد له دوی څخه (ځکه هغه په حقه دی). ابن عمر له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نقل کوي چې ويې فرمايل: فتنه به دلته وي له کومې خوا چې د شيطان ښکر راڅرګندیږي او په لاس سره يې د عراق خواته اشاره وکړه.

د حديث فائدې

(١) قومٌ يُحسنون القِيل ويُسيئون الفعل. د اوسنيو او پخوانيو خوارجو ګډ صفت چې صادق او مصدوق ﷺ يې ١٤ سوه کاله پخوا وړاندوينه کړې وه څومره رښتيا دی! خوارج تل په خوله هغه څه وايي چې له کردار او عمل سره يې آړخ نه لګوي، دوی تل دمسلمانانو د غولولو لپاره ځانونه داسې معرفي کړي چې همدا دوی د اسلامي امت د ډوبيدونکي کشتۍ ژغورونکي دي په داسې حال کې چې دوی د اسلامي امت په خاصره کې خنجر دی .

(٢) يقرؤون القرآن لايُجاوز تراقيهم : معنی دا چې دوی به د قرآن لوستونکي وي خو هغه به يې په عمل کې نه وي ځکه تر مری به يې لاندې نه وي کوز شوی .

(٣) يَحقِر أحدكم صلاته مع صلاتهم وصيامه مع صيامهم: په رواياتو کې دا کلمات په دوه ډوله نقل شوي لومړی داچې تاسې به خپل لمونځونه او روژې د دوی له لمونځونو او روژو سره سپک ګڼی ځکه دوی به ډير عبادت ګذار وي او ټول عبادات به په کامله توګه اداء کوي نو تاسې ته به خپل لمونځونه ډير ټيټ ښکاري. دويم دا چې: يحقرون صلاتكم مع صلاتهم وصيامكم مع صيامهم: دوی به ستاسې لمونځونه او روژې د خپلو لمونځونو او روژو سره سپک ګڼي ځکه دوی به تاسې ته د يو مسلمان عقيده نه لري، چې دا هر څه نن مورِ مشاهده کولی شو.

(٤) يمرقون من الدين : يمرقون د نَصَرَ يَنصُر له باب څخه د مضارع (راتلونکي) فعل دی، دلته د ماضي (تير) فعل (ورب) رانه ورل شو ځکه دوی له دين څخه وتلي نه دي خو د دوی اخيري مرجع به له دينه وتل وي ، ځکه دوی به د هغه چا مرګ مبا

ketabton.com - The Digital Library

بولي چې شرعا قاطع حرام وي دوی به هغه مالونه او حتی هغه ناموسونه چې شرعا حرام دي حلال بولي چې د تحليل د حرام او د تحريم د حلال اصل په مقتضی به دوی آخرالامر کافر کړئي.

(۵) د ابن عمر په حديث کې د الله رسول عراق طرف ته اشاره کړي ده چې د دې خوا ځخه به فتنه ځرکندیږي همدا عراق دی چې د تاريخ په اوږدو کې د فتنو د رهبری مرکز پاتې شوی .

دخوارجو سره د علي رض تعامل

عبدالله بن سبأ يهودي چې ظاهرا يې ځان مسلمان معرفي کاوه عراقي قبايل چې اکثر يې عراقي خوارج ؤ له ځان سره ملګري کړل او مدينې منورې ته په دې منظور راغی چې ګواکې اميرالمؤمنين عثمان رض بايد معزول کړل شي ځکه هغه په ټولو لوړو منصبونو خپل رشته داران مقرر کړي دي . وقعة الدار د اسلام په تاريخ کې تر ټولو غمجنه ورځ ده په هغه ورځ چې اميرالمؤمنين په خپل کور کې له اوږدې ظالمانه محاصرې ځخه وروسته د خوارجو له لاسه په داسې حال کې شهيد کړل شو چې د قرآن کريم دا مبارک آيتونه يې زمزمه کول: طه ما انزلنا عليک القرآن لتشقی الخ اوپه وينو يې قرآن کريم لت پت شو، دا يهودي پروژه هم د يهودو لخوا طرحريزي او د خوارجو لخوا عملي جامه وروا غوستل شوه .

همدا خوارج چې په قراؤو(قاريانو) مشهور ؤ او تعداد يې هم ډير ؤ له حضرت علي رض سره بيعت وکړ خو کله چې حضرت معاويه رض خبر شو نو د حضرت علي رض سره يې د بيعت لپاره شرط دا مقرر کړ چې لومړی بايد د حضرت عثمان قاتلين قصاص کړل شي خو حضرت علي رض د خپل اجتهاد له مخې غوښتل چې د دوی ځخه وروسته انتقام واخيستل شي ، چې همدا اجتهادي خلاف د دوی ترمينځ د جنګ تر پولې ورسيدو ، جنګ جمل رامينځ ته شو، جنګ صفين رامينځ ته شو چې په زرګونه صحابه کرام پکې شهيدان شول چې د دې جنګونو پړه هم د خوارجو په غاړه وه .

په جنګ صفين کې شاميانو د خپل شکست د مخنيوي لپاره قرآنِ کريمونه په نيزو کې پورته کړل او د جنګ د بندولو غوښتنه يې وکړه او ويې ويل چې راځئ چې په قرآن فيصله وکړو، حضرت علي رض چې پوهيده چې دا د شکست د مخنيوي يوه هڅه ده په لومړي سر کې يې د جنګ بندولو غوښتنه رد کړه خو قراء، خوارج چې سفهاء الاحلام ؤ حضرت علي رض ته اخطار ورکړ چې که دې جنګ بند نه کړ د عثمان په څير به اوژل شي.

جنګ بند شو او د حکمينو په مقررولو موافقه وشوه، دحضرت معاويه له لورې حضرت عمروبن العاص او د حضرت علي له لورې حضرت ابو موسی الاشعري د مينځګړو په توګه وټاکل شول د دوی سره د صحابهءکرامو يوه ډله هم وه، په دومةالجندل مقام کې لومړی غونډه ترسره کړه او له دواړو خواؤ ځخه يې کلکې ژمنې واخيستې چې د دوی فيصله به مني.

کله چې علي رض له صفين ځخه واپس شو، دولس زره کسان چې په قراؤ مشهور ؤ له ده ځخه جدا شول او علي رض يې په دې وجه کافر اوباله چې له الله تعالی ځخه سوا يې نور حاکمان مقرر کړي دي او دا شعار يې له ځان سره ليږداوه: لاحکم الالله فيصله يوازې د الله تعالی معتبره ده .

ketabton.com - The Digital Library

خوارج د حضرت علي رض په دور کې، له دوی سره دده رض تعامل

حضرت علي رض په لومړي سر کې دوی ته د دوی د اصلا او تقنیع په منظور کسان ورولیږل خو حرقوص بن زهیر او زرعه بن برج د خوارجو لخوا راغلل او علي رض ته یې اویل چې حکم او فیصله یوازې د الله تعالی د منلو وړ ده ،الله ته توبه اوباسه، او موږ خپل دښمن طرف ته ورولیږه چې له هغوی سره وجنګیږو او کنه په الله قسم موږ به ستا سره ترهغه وجنګیږو چې تر څو یا ته اصلا نه شی او یا موږ کامیابی او دالله رضوان ته ونه رسیږو یعني شهیدان شو (ددوی په ګمان).

عبدالله بن سخبره السلمي خارجي خپل ملګرو ته ډیر فصیح بلیغ بیان وکړواو په یوه برخه کې یې اویل: د دوی مخونه او څټونه او تندي په تورو اوهۍ تر هغې چې دوی د الله اطاعت وکړي که تاسې کامیاب شی نو د الله دین به په ځمکه قایم کړی او که شهیدان شوی نو د الله له رضا او جنت ته له تګ څخه کوم شی لوړ دی؟(البدایةوالنهایة ج۷ص۴۸۲)

خوارجو ته حضرت علي رض عبدالله بن عباس ورولیږلو خو حرقوص بن زهیر د اوسنیو لمسیانو په څیر خپلو کسانو ته اویل : تاسې دا سړی پیژنی؟ دا هغه سړی دی چې د ده او د ده د قوم په آړه الله تعالی فرمایي:بل هم قوم خصمون (بلکې دوی یو جګړه مار قوم دی) وروسته یې علي رض ته جواب ولیږلو چې: که ته الله ته توبه اوباسې او پخپل کفر اعتراف وکړې او اوایې چې زه د الله له دین څخه مرتد شوی وم نو موږ به بیا ستا سره د جنګ په آړه مشوره وکړو یعني جنګ به نه درسره کؤو.(تاریخ الطبري بتصرف ج۵ص۷۴ ،البدایةوالنهایة ج۷ص۴۸۳)

خوارجو خپلو ټولو همفکرانو ته خبر ورولیږلو چې ټول باید د نهروان ځمکې ته هجرت وکړي تر څو د دوی قوت یو ځای شي، په نهروان کې خوارجو د رسوال الله ص صحابي عبدالله بن خباب بن الارت چې هلته اوسیده ونیوه او ورته یې اویل چې ته د الله له دین څخه په دې وجه مرتد شوی یې چې د علي رض په تحکیم رضا یې، هغه یې په چاړه ذبح کړ (دسیرت علماء وایې فهم اول من سن الذبح بالسکین في القتل دوی لومړی ډله وه چې د ذبح رواج یې جاري کړ) دوی (خوارج) د ده ښځې ته راغلل هغه یې هم ذبح کړه او هغه حامله وه د هغې خیټه یې څیري کړه او هغه جنین (ماشوم) یې هم ذبح کړ.(البدایةوالنهایة بتصرف ج۷ص۴۸۵)

علي رض د دوی سره د جنګ کولو فیصله وکړه خو له هغې وړاندې یې د اتمام د حجت په خاطر دوی ته خبر ولیږلو چې که تاسې موږ ته زموږ د شهیدانو قاتلین وسپاری موږ به له تاسې څخه واپس شو، خو هغوی په جواب کې اویل : موږ د هغوی اوستا ویني حلالې بولو نو د دوی په قتل کې موږ ټول شریک یو، حرقوص بن زهیرخپلو ملګرو ته غږ کړ د دوی سره خبرې مه کوئ او د الله تعالی سره ملاقات ته ځان تیار کړئ د جنت په خوا مندې اوهۍ او د هغه چا ګردنونه اوهۍ چې دالله دین یې بدل کړی دی. (البدایةوالنهایة بتصرف ج۷ص۴۸۷)

ketabton.com - The Digital Library

حضرت ابو ايوب الانصاري صحابي هم په دې جنګ کې شريک ؤ، د امان بيرغ د ده په لاس کې ؤ، يو خارجي يې په نيزه اوهلو هغه چيغه کړه : هغه جنت ته چې پلنوالی يې د اسمانونو او ځمکو برابر دی ، ابوايوب ورته اوفرمايل: دروغ وايې د الله دښمنه بلکې هغه جهنم خوا ته چې ستاسې لپاره تيار شوی دی.

دخوارجو شوکت مات شو ډير يې اوژل شول څه يې توبه کار شول او څه پخپله پليته عقيده مغلوبه په نورو ښارونو کې تقسيم شول، حافظ ابن کثير رح او امام ابن جريرالطبري رح ليکي: چې عبدالرحمن بن ملجم چې ښايسته سپين رنګ او تر غوږونو څڼې او په تندي يې د سجدې نشان او برک بن عبدالله التميمي او عمرو بن بکرالتميمي چې درې واړه په تقوی او ډير عبادت مشهور ؤ پخپل مينځ کې مشوره وکړه چې بايد مسلمان د حضرت علي ،حضرت معاويه ، حضرت عمروبن العاص رضی الله عنهم له شره خلاص او د خپلو شهيدانو انتقام تريې واخلو.

عبدالرحمن بن ملجم اويل چې زه به د حضرت علي کار درته خلاص کړم، برک بن عبدالله اويل چې زما په غاړه معاويه شو، عمروبن بکر التميمي اويل چې زما په غاړه عمروبن العاص شو، موافقه وشوه چې هر يو به د رمضان په ۱۷ په خپل هدف برید کوي.

عبدالرحمن بن ملجم کوفې ته راغلو او د کوفې په جامع جومات کې يې د عبادت په پلمه واړول او خپل راز يې هيچاته څرګند نه کړ. په کلي کې يوه ښځه د قطام بن الشحنة په نوم چې ډيره ښايسته وه ؛ عبدالرحمن بن ملجم وليده او خپل هدف ترې هير شو او د هغې په عشق کې ډوب شو، هغې ته يې د نکا ح پيغام ورولېږلو خو هغې پرې شرط کړه چې حضرت علي يې ورور او پلار وژلی دي نو که حضرت علي اوژني نکا ح به ورسره وکړي چې ابن ملجم ورته خپل حال اوايه او ډاډ يې ورکړ چې د دهمدې هدف لپاره يې ډيرې ستړياوې ګالل دي.

ابن ملجم دا راز له يوه بل کس سره چې د شبيب بن نجدة الحروري الاشجعي په نوم ؤ شريک کړ او ورته يې اويل چې آيا غواړې چې د دنيا او اخرت شرف درته حاصل شي؟ د علي وژل ، شبيب ورته اويل څنګه به ته په هغه قادر شې؟ ابن ملجم ورته اويل چې: زه د جومات په يو کونج کې ورته پټيږم که پرې قادر شوم نو د دنيا آخرت کاميابي به تر لاسه کړم ،که شهيد شوم نو هغه څه چې د الله تعالی سره دي، غوره دي د دنيا څخه، خو شبيب ورته اويل چې حضرت علي خو په اسلام کې سابقه لري او د رسول الله ص قريب دی نو زما سينه خو د ده وژلو ته نه خلاصيږي خو چون ابن ملجم چالاک ؤ او شبيب يې په مزخرفو دلايلو وغولاوه او له ځان سره يې شريک کړ.

ابن ملجم په حضرت علي رض حمله وکړه او هغه رض سخت ټپي شو شبيب په عين حال کې د يو کس لخوا اوژل شو او ابن ملجم ژوندی ونيول شو. ابن ملجم د حضرت علي رض په وړاندې ودرول شو هغه پوښتنه ترې وکړه چې ولې آی دالله دښمنه ستا سره ما احسان نه ؤ کړی ؟ ابن ملجم اويل:چې ځلويښت ورځې مې الله تعالی ته زاری کولې چې زما په دې توره هغه کس اوژنې چې تاته ډير ناخوښ وي. حضرت علي رض ورته اويل چې ستا دا دعا قبوله شوي او ته به پخپله په دې توره وژل کيږې.قاتله الله (البداية والنهاية بتصرف ج۷ص۵۴۳ تاريخ الطبري بتصرف ج۵ص ۱۴۳)

ketabton.com - The Digital Library

د خوارجو له پورته تفصیل څخه هدف دا ؤ چې معلومه شي چې داوسنیو خوارجو او د دوی د نیکونو ترمینځ څومره کامل تشابه وجود لري، هغوی حضرت علي کرم الله وجهه په وژلوچې د لوړو مناقبو او فضایلو خاوند ؤ الله ته نزدیکت غوښتو،اوسني خوارج هم د هغو مجاهدینو په وژلو الله ته تقرب طلب کوي چې صلیبیانو یې د وژلو لپاره په ملیونونه ډالر ولګول، هلته هم دوی صحابه مرتد بلل حضرت علي رض یې مرتد باله اوسني خام فکره خوارج هم د دوی سوا ټول امت کافر بولي چې په وروسته لیکنو کې به په مستند ډول دا مور ثابته کړو.

دخوارجو په وژنه ولې دومره ټینګار؟

وړاندې مو په نبوي ص ارشاداتو کې ذکر کړل چې دوی باید دعادیانو په څیر اوژل شي ځکه په اسلام کې خوارج یواځینۍ ډله ده چې دوی خپل بدعت او ګمراهي د ټوپک او تورې په زور په نورو منل غواړي، بل داچې کفار مسلمان د خپلو مادي ګټو په خاطر وژني او دوی د خپل پرمختک په وړاندې خنډ بولي خو خوارج مسلمانان د یوې ایډیالوژۍ او عقیدې له مخې وژني او دا کار د ځان لپاره لوی سعادت بولي.

دویم فصل

داعش

داعش له ابوبکربغدادي وړاندې،دابوعمرالبغدادي له لورې د امارت اعلان

امریکا لا په عراق یرغل نه ؤ کړی؛ چې یو اُردنی تبعه احمد فاضل نزال الخلایلة چې وروسته یې په ابومصعب الزرقاوي شهرت پیدا کړ، د سیستان بلوچستان له لارې عراقي کردستان ته ورسیده او هلته د خپلو ملګرو په تنظیمولو بوخت شو، ځکه هغه وخت داسې یقین ؤ چې امریکا به په عراق حمله کوي . عرب مجاهدین او په القاعده پورې تړلي کسان داسې یوې موقع ته په طمع ؤ چې له امریکایانو سره مخامخ وجنګیږي.

د امریکایي یرغل سره هم مهاله ابو مصعب د خپلو ملګرو د یوې ډلې سره یو ځای عراق ته ورسیدو او هلته یې لومړۍ د مجاهدینو په جلب او جذب پیل وکړ چې لږه موده وروسته دا نوم دومره رسنیز شو چې سهار او ماښام به د خبرونو سرټکی ؤ. نومورې په عراق کې د ټولو هغو کسانو په مینځ کې چې د امریکایانو په وړاندې یې وسله پورته کړې وه د هماهنګۍ لپاره ډیرې هڅې وکړې او بن لادن سره له بیعت وروسته یې د قاعدة الجهاد في بلاد الرافدین په نوم تنظیم تاسیس کړ.

ابومصعب امریکایان ډیر سرکردانه کړل چې بالآخره په ۷/۶/۲۰۰۶م په یوه کور کې د امریکایي طیارو په مټ شهید شو. دا هغه وخت ؤ چې په عراق کې د وحشتونو وژنو لړۍ اوج ته رسیدلې وه د ابومصعب له شهادت وروسته ابوعمرالبغدادي او ابو حمزةالمهاجر د امیر او نایب په توګه وټاکل شول.

ketabton.com - The Digital Library

دشیخ زرقاوي هڅه دا وه چې په عراق کې د امریکایي یرغل په خلاف جنګیدونکي ټول مجاهدین په یوه صف کې سره راټول کړي چې په همدې منظور د شوری المجاهدین په نوم مجاهدینو د ټولو ډلو یوه شوری رامینځ ته شوه، خو د ابومصعب د شهادت څخه وروسته په عراق کې جنګیدونکي مهاجر مجاهدین له قیادته څنډې ته کړل شول او د شوری المجاهدین غړو چې غوښنه برخه یې عراقیان ؤ د ابومصعب په ځیر د یو مهاجر د امارت مخه ډب کړه.

شیخ اسامه بن لادن د زرقاوي له شهادت وروسته غوښتل چې په عراق کې د واک واګې بیا داسې یو کس لاس ته کړي چې په نوییمو کلونو کې د افغانستان په محاذ کې جنګیدلی وي او د القاعدې منهج(تګلاره)تعقیب کړي خو شیخ ابن لادن د مصلحت په بنیاد د عراقیانو پریکړه ونه ننګوله او حامد داود محمد خلیل الزاوي چې په ابو عمرالبغدادي یې شهرت لاره د نوي امیر په توګه ومانه.

خلیل الزاوي د شوری المجاهدین له لورې امیرالمؤمنین وټاکل شو او شوری المجاهدین له لوري په ۱۵/۱۰/۲۰۰۶م الدولةالاسلامیة في العراق تر نامه لاندې د نوي دولت اعلان وشو،چې بیا هم د القاعدې مشر بن لادن نادیده ونیول شو او د اسلامي دولت په اعلان کې تري مشوره ونه غوښتل شوه په داسې حال کې چې د ابوعمر البغدادي په غاړه کې د بن لادن بیعت ؤ.

دا مهال د عراق فوځ جنرالانو د اسلامي دولت لیکو ته مخه کړه او اسلامي دولت یې هم په دې وجه هرکلی وکړ چې دا کسان له جنګي خِبرو او د سیمې په آړه بلدتیا څخه پوره برخمن ؤ. حجي بکر چې دعراق په فوځ کې لوړپوړی جنرال او د صدام د بعثي نظام د استخباراتو مخکښ افسر ؤ، یو له دې ډلې څخه ؤ چې د ابوعمر البغدادي سره یې پیژنګلوي پیدا شوه.

د ابوعمرالبغدادي دولت اوپه آړه یې شکایتونه

ابوسلیمان العتیبي چې په عراق کې د زرقاوي له وخته د مجاهدینو عمومي قاضي ؤ او بیا د اسلامي دولت له اعلانه وروسته هم تر څه وخته پورې قاضي پاتې شو؛ وروسته له هغه له خپل منصب څخه معزول کړل شو چې د اسلامي دولت سره یې یو لړ منهجي اختلافات راوټوکیدل، دا هغه وخت ؤ چې په عراق کې جدي هڅې روانې وې ترڅو مهاجر مجاهدین له لوړو څوکیو څخه کوښه کړل شي چې ځینې عراقیانو تنقید کاوه چې څنګه یو سعودی ځوان چې عمر یې ۳۰ کالو ته نه رسیږي په اسلامي دولت کې د قضاء په تر ټولو لوړ منصب فایز وي.

ابوسلیمان العتیبي معزول کړل شو اوپه ځای یې د عراق د جبوري قبیلې یو کس ابواسحاق الجبوري وټاکل شو.ابو سلیمان العتیبي افغانستان ته راغلو او دلته د امریکایانو سره په یوه مخامخ جګړه کې د احمد القحطاني سره یو ځای شهید شو.

ابوسلیمان العتیبي د خپلې قضاء په دور کې شیخ اسامه ته یو خط ولیږلو چې د دولت په آړه پکې شکایتونه شوي ؤ چې مور په لنډ ډول هغه مضمون ستاسې مخې ته ږدو:

ketabton.com - The Digital Library

په خط کې عتيبي له سلامه وروسته د شيخ بن لادن سره د ليدلو شوق څرګندوي او دهغه وضعيت څخه سرټکوي چې د زرقاوي له شهادت وروسته عراق مجاهدين ورسره مخ دي. نومورې د يو شمير هغه منهجي سرغورونو يادونه کوي چې د زرقاوي له شهادت وروسته رامينځ ته شول.

نومورې وايي:

رمادي هغه ښار ؤ چې د مجاهدينو د واک ساحه پکې پراخه وه، هلته وضعيت زمونږ په ګټه ؤ خو کله چې هلته امارت اعلان کړل شو امريکايانو او د هغوی غلامانو يوازې په دې ښار کې تر ديرشو پورې امنيتي پوستې جوړې کړې او په ځای د دې چې د امارت اعلان وضعيت د فتحې په لور سوق کړي په مجاهدينو کړې نوره هم تنګه شوه .

مونږ د القاعدې د سياسي طرزالعمل څخه په تقليد د دولت يا امارت اعلان نه کولو او د امارت اعلان مو د القاعدې سره له توافق پرته د اصولو څخه سرغړاوې باله خو چې کله دا کار تر سره شو نو مونږ له يوې بلې فاجعې سره هم مخ شو هغه دا چې د دې امارت امير ابوعمر البغدادي وټاکل شو چې په تنظيم کې يې د يوه عادي فرد حيثيت لاره. ما د دولت د اعلان په سر له ډيرو ناندريو وروسته ابوحمزه ته اويل(مراد يې ابوحمزه المهاجر دی): نو تاسې د دې دولت امير څوک ټاکلی؟ هغه راته په جواب کې اويل چې مونږ تر اوسه د امير په هکله موافقې ته نه يو رسيدلې چې وروسته په ناڅاپي ډول مونږ د بغدادي د اعلان سره مخامخ شؤو.

د حِلف المطيبين له ټرونه وروسته د دولت په تشکيل کې هر چاغ او ډنګر،روغ او ناروغ راټول شول چې د قبايلو اکثرو مشرانو او ځينو تش په نوم ګروپي تشکيلاتو په دې شرط له دولته ملاتړ اعلان کړ چې دوی ته به لوړ منصبونه ورکول کيږي چې همداسې وشول او د مناصبو د تقسيم لپاره له دولته د هغوی ملاتړ په پام کې ونيول شو نه منهج. د بيلګې په ډول الرجال النقشبندية چې نقشبندي صوفيان دي د دولت څخه د ملاتړ په بدل کې د کرکوک او موصل د ځينو سيمو واک دوی ته ورکړل شوی (په داسې حال کې چې په نوره نړۍ کې د داعشيانو په هاند نقشبنديان او په عموم کې صوفيان مشرکين او کافران دي)

عُتَيبي وايي:د ابوعبدالرحمن الفلاحي چې د اميرالمؤمنين نايب دی د هغه د کسانو له لورې له يوه عراقي تاجر څخه ۲۶ لارۍ مال ضبط کړل شو چې تاجر مونږ ته عريضه وراندې کړه مونږ چې کله هغه ته حال ولېږه هغه اويل چې دا مال د روافضو دی خو لږه موده وروسته واضحه شوه چې مال د يوه عراقي سني تاجر دی. مونږ بيا له هغه څخه مطالبه وکړه چې فلاحي راته اويل چې په نومورې تاجر د اسلامي دولت قرض دی له همدې امله تري دا لارۍ نيول شوي خو چې مونږ ځيرنه وکړه هغه قرض آن د يوې لارۍ قيمت ته هم نه رسيده، مونږ بيا هغه ته جواب ولېږه چې د وروستي جواب په توګه يې راته اويل چې اسلامي دولت دا مال له دې تاجر څخه تعزيرا نيولی، مونږ بيا هم ابوحمزه ته موضوع پورته کړه چې هغه په جواب کې راته اويل چې شيخ سليمانه : ته په دومره ورځو موضوعګانو خپل رعب او هيبت له لاسه مه ورکوه.

ketabton.com - The Digital Library

عتيبي په دې خط کې د عراق د کرمه ولايت قاضي د اهل السنة له منهجه منحرف بولي او وايي: ابوهاجر د خپلو ځينو نظرياتو له امله د ګمراهۍ تر پولې رسيدلی، نوموړی وايي چې په عراق کې د امارت اعلانول په داسې يوه حالت کې چې موږ لا له وړاندې د اميرالمؤمنين ملا عمر بيعت په غاړه کې لرو؛هيڅ شرعي صِبغه نه لري او په يوه وخت کې د دؤو اميرانو انتخاب دی

Justpaste.it/do3r (رسالةالشيخ ابوسليمان العتيبي للقيادة في خراسان)

دزرقاوي له شهادت وروسته په اسلامي دولت کې د تکفيري فکر نفوذ

د تکفير په اسبابو او عِلَلو به وروسته وغږيږو خو په معاصرو اسلامي خوځښتونو کې د تکفير لوی لامل د مستبدو رژيمونو ظلم دی چې د دې نهضتونو د غړو په حق کې دوی ترسره کړی دی په خاص ډول د صليبي مؤتلفينو هغه وحشتونه چې دوی په مستعمره هيوادونو کې ترسره کړل . دعراق په ابوغريب کې د امريکايانو ظلمونو د عراقي ځوانانو فکرونه د تکفير خواته سوق کړل ځکه تکفير د هغه عقيدوي صلابت او فکري عُقدو څخه مينځ ته راځي چې يو ظالم، زورواک، مستبد يې د يوه مظلوم په حق کې ترسره کوي چې په نتيجه کې يې هغه معذَّب کس عقده من کيږي او په انتقام کې له فکري انحراف سره مواجه کيږي دا په داسې حال کې ده چې دا ځوانان په رياکشن کې د خپلې علمي خامې له وجې له شرعي پولو آوړي.

په عراق کې امريکايي زندانونه د تکفيري فکر محور ؤ هلته خلک توهين شول، کرامت يې تر ښپو لاندې شو، عزتونه يې تار تار شول، له ډول ډول شکنجو ربړونو سره مواجه شول چې بالمثل عراقي ځوانان له زندانه د راخلاصيدو وروسته د ټولو انتقامي اعمالو په هکله يو سخت دريځ خپل کړ.

که د عراق حالت په دقت وڅيړل شي يوه خبره روښانه کيږي؛ چې په عراق کې امريکايي اشغالګرانو په لوی لاس فرقه واريت ته په لمن وهلو عراقيان په سني او شيعه اويشل او يو د بل په مقابل کې يې ودرول چې په سني آړخ کې تکفير خپلې لوړې کچې ته ورسيدو او عيناً په شيعه آړخ کې يې د عامو سنيانو په خلاف د کرکې زړې وکړل هغه وه چې شيعه ګانو د سنيانو په حق کې له هيڅ ډول زور زياتي څخه دريغ ونکړ.

د عراقي سني مقاومت په مينځ کې داسې ډيرې ځوانان راټول شول چې د کفر فتوی يې نغده په جيب کې وه بلکې د دې مقاومت د سر سړي هم په کامل ډول په تکفيري فکر سمبال ؤ. ابوعمر البغدادي چې د اميرالمؤمنين لقب يې لاره حماس ډله مرتده بلله او په خلاف يې د جهاد او مبارزې ټټر ډباوه چې د همدې فوت شوي امير ميراث اوسنو وارثينو ته پاتې شو او حماس يې کافر اوباله او په خلاف يې عملا سنګر ونيؤو

ketabton.com - The Digital Library

تکفیر څه معنی؟اسباب يې څه دي ؟حکم يې څه دی؟

تکفیر د تفعیل له باب څخه دی چې د باب تفعیل یو خاصیت نسبت د فاعل دی ماخذ د باب ته لکه؛ کفَّرته چې معنی يې ده نَسَبْتُه الی الکفر نو تکفیر معنی ده یو څوک کفر ته منسوبول ،چې په شرعي اصطلا کې یو څوک کفر ته منسوبول یا کافر بللو ته تکفیر ویل کیږي.

تکفیر په مطلق ډول قبیح نه دی، تکفیر د اسلام د قلعې لپاره د یو مظبوط دیوال په څیر دی،اسلام د یوې کنډوالې په څیر نه دی چې وتونکی او ننوتونکی يې تر هیڅ محدودیت لاندې نه دی بلکې دلته حدود شته چې په هغې سره یو سړی په دې قلعه کې مورِ یا داخل یا خارج بللی شو. اسلام داسې یو مَحوطه نه ده چې یو څوک دې ورته راننوځي نو بیا يې وتل نشته؛ نه بلکې داسې معاییر شته چې پر بنسټ يې یو څوک له دې قلعې خارج بللی شو خو هغه معاییر د یو فرد یا تنظیم یا زمان په واک کې نه دی او نه څوک د تکفیر لپاره له ځانه اصول مقررولی شي.

د عثماني خلافت په راپرځولو کې د هغو خاینانو لوی لاس ؤ چې په تکفیري فکر سره يې په دې بهانه دا خلافت راړنګ کړ چې ګواکې دا اسلامي خلافت نه دی بلکې د خلافت حاملین يې مشرکان بلل. د حرمینو نجدي متولیانو د نجدي فکر په خورولو سره ډیر مسلمان مشرکان اوبلل او دهمدې فکري انحراف له امله دا دی دوی مسلمانان په مُختلَفٌ فیها مسایلو کافر بولي او وینه يې حلاله بولي.

د تکفیر درې مهم اسباب دي چې (ا) جهل (با) بې ځایه افراطیت او (ج) د مستبدو او ظالمو مظالم او وحشتونه دي. هغوی چې له نبوي ص له سیرته ناخبره دي همدا خامي يې د دې سبب شوه په قرآن او حدیث کې د وعید ټول موارد په کفر حمل کړي همدا ډول الله تعالی وایي: وکذالک جعلناکم امةً وسطاً الخ چې اسلام مورِ ته د اعتدال او منځ رویې لار راښایي خو هغوی په دین کې له بې ځایه افراط په وجه له سمې لارې کمراه شول. همدا ډول د تکفیري فکر په خورولو کې د اشغالګرانو او د هغوی د ګوډاګیانو هغه مظالم او وحشتونه هم لوی رول لري چې دوی د مسلمانانو په وړاندې ترسره کړي دي.

د حنفي فقه علماء په یو چا د کفر په حکم کولو کې دیر احتیاط کوي ځکه سلف په دې حکم کې ډیر محتاط په دې وجه ؤ چې که په تکفیر کې بیړه وشي یا دا حکم هرچاته په لاس ورکړل شي په امت کې به د قتل او قتال دروازه خلاصه شي او هر څوک به خپل مخالف په سستو او وهمي دلایلو کافروي.

له همدې امله یو د تکفیر عام احکام دي او یو تنزیل د هغه حکم دی په یو معین باندې چې د دواړو ترمینځ توفیر وجود لري، هغه داسې:

ketabton.com - The Digital Library

مورِ د بیلکې په ډول وایو، د فرض لمانځه له فرضیت څخه انکار کفر دی خو که مورِ وایو چې فلانی سړی کافر ده ځکه د فرض لمانځه له فرضیت څخه منکر ده نو یواځې همدومره بسنه نه کوي بلکې دا حکم باید له څو مرحلو تیر شي، چې دا حکم په دې شخص راکوزولو کې باید څو شیان په پام کې ولرو.

د تکفیر لپاره علماء څلور شرطونه وړاندې کوي:

.دا ثبوت چې دا ویل یا کول یا عقیده لرل یا نه کول د قرآن او سنت په استناد کفر دی.

.دا ثبوت چې دا کار له مکلف څخه صادر شوی.

.د حجت او دلیل رسیدنه.

.دا ثبوت چې په دې معین شخص کې به موانع التکفیر (د کفر حکم منع کونکي) نه وي موجود.

موانع د تکفیر څلور دي

.جهل : که نومورِی کس د دې حکم په فرضیت ناخبره ؤ. دلیل یې د انواط حدیث دی چې اصحاب السنن نقل کړی چې صحابه کرامو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اویل: إجعل لنا ذات أنواط کما لهم ذات أنواط. دلته هم صحابه چون له دې حکم ناخبره ؤ، نو د الله رسول په دې خبره دوی کافران ونه بلل.

.خطاء: له نومورِي کس په خطایی کې داسې څه صادر شول چې سبب د کفر وي. دلیل یې د ناڤې مشهور حدیث دی چې کله هغه په اوبو او خوراک بار اوښه پیدا کړي نو له ډیرې خوشالی اوایي: أنت عبدي وأنا ربك

.اکراه: نومورِی کس چا مجبور کړی ؤ چې کفر وکړي. دلیل یې (إلا من أکره وقلبه مطمئن بالإیمان)

.تأویل: نومورِي کس تأویل کولو. دلیل یې د قدامه بن مظعون حدیث ده چې د حضرت عمر رض په خلافت کې یې د حلال ګڼلو په عقیده شراب وچښل ځکه نومورِي د دې آیت غلط تآویل کولو : لیس علی الذین أمنوا وعملوا الصالحات جنا الخ:

نو اوس مورِ ویلی شو چې له فرض لمانخه انکار کفر دی خو که وایو چې فلانی کس ځکه کافر دی چې له فرض لمانخه منکر دی نو باید مورِ دا پورتني شروط پوره کړي وي.

چې ایا دلته خو د تکفیر موانع شتون نه لري؟ دا کس چې مورِ پرې د کفر حکم کوؤ آیا عقل یې سالم دی؟ لیونی یا بې هوشه خو نه دی؟ د دې فرضو د فرضیت تأویل کوؤنکی خو نه دی؟ یا د دې فرضو له فرضیته خو بې خبره نه دی؟ یا نومورِی خو د چا لخوا تر فشار لاندې نه دی؟ یا له نومورِي خو دا قول په غلطۍ کې نه دی صادر شوی؟

ketabton.com - The Digital Library

خو د بغدادي خوارج دا اصول نه پیژني هغوی په سوریه کې لومړی د سوریې ائتلاف او هیئة الارکان کافر اوبلل ځکه چې د بشار په وړاندې له امریکا کومک اخلي او په سوریه کې دیموکراتیک نظام غواړي، وروسته یې ټولې هغه جهادي ډلې لکه الجبهة الاسلامیة، احرارالشام، صقورالشام یا نور په دې دلیل کافر اوبلل چې دوی د هیئة الارکان او جیش الحر سره د بشار په ضد په ځینو عملیاتو کې ګډون کړی او جبهة النصرة له دې امله مرتد بولي چې هغوی تل د احرارالشام سره په عملیاتو کې ګډون کوي او د داعش په ضد ډیری عملیات په ګډه پر مخ وړي

عدناني په یوه غږیز بیان کې داسې وایي:

کله چې د هیئة الارکان او ائتلاف حکم معلوم شو، مور ته د الجبهة الاسلامیة په اړه اول ماتونکی د اسلام ثابت شو چې هغه د هیئة الارکان مرتدینو سره د دوی دوستي ده او په هغه څه موافقت دی چې دا مرتدین پکې واقع دي او هغه د دوی غړیتوب دی په هیئة الارکان کې چې یا دوی خپله هلته موجود دي لکه ابوعیسی او زهران علوش او یا یې نمایندګان دې مجلس ته لیږلي دي لکه حسان عبود چې ابوالزبیر هلته د ده په موافقه تللی دی، نو حسان عبود په دې کفر رضا دی نو د ده حکم هم د کفر شو، ځکه څوک چې د هیئة الارکان سره کومک کوي، د دوی سره دوستي کوي، د دوی د بیرغ لاندې جنګیږي ټول د لاندیني آیت په غوښتنه کافران دي: ومن یتولهم منکم فانه منهم.

دلته یې اوګورئ؛ لومړی خو آیا د هیئت الارکان کفر د کوم رباني عالم له قوله ثابت دی که د بعث د کوم جنرال په خوله؟ بیا په همدې غلط بنیاد نور ورقیاسوي الجبهة الاسلامیة په دې کافر بولي چې د دوی سره یې د بشار په مقابل کې ائتلاف کړی بیا احرارالشام په دې کافروي چې هغوی د جبهې سره ائتلاف کړی او جبهة النصرة په دې چې هغوی بیا احرارالشام مؤتلیفین دي.

خو کله چې حسان عبود د هیئة الارکان له ائتلافه خپل وتل اعلان کړل نو د بغدادي خوارجو بیا هم ونه منله بلکې له نومورې څخه یې غوښتنه وکړه چې په خپل کفر دې اعتراف وکړي او د هیئة الارکان د کفر اعلان دې وکړي، په داسې حال کې چې د بعث په سلګونه کمونست جنرالان په اسلامي دولت کې لوړ لوړ منصبونه لري حتی د مجلس الشوری غړي هم دوی دي، خو هغوی نه د خپل پخواني کفر اعلان وکړ او نه یې په علني ډول توبه اوباسله.

امام ابوالملطي وایي: ثم زاد معتزلة بغداد على معتزلة بصرة: أن الشاک في الشاک والشاک في الشاک الى الأبد الى مالانهاية له كلهم كفار؛ وسبيلهم سبيل الشاک الاول.

ژباړه: د بغداد معتزله د بصرې په معتزله ؤ دا ورزیاتوي چې شک کونکی په شک کونکي کې همدا ډول تر ابده پورې ټول کفار دي او حکم یې د هماغه لومړي شاک دي(التنبیه والرد على اهل الاهواء والبدع ج۱ ص۴۰)

ketabton.com - The Digital Library

شيخ عبدالقاهر بيا داسې وايي: قالت المعتزلة: والشاک في کفره کافر، وکذالک الشاک في الشاک لا الی نهاية. بل ځای نومورې د مرجئه ؤ په اړه وايي: والشاک فيه کافر والشاک في الشاک ايضا کافر ثم کذالک الی الابد.(الفرق بين الفرق ج۱ص۱۵۲، ۱۹۳)

که د بغدادي د خوارجو ميډيا وځارل شي نو د دوی ټول تکفير په همدې اصولو بناء دی بلکې د بغدادي په تکفيريانو کې تکفير د جنون تر کچې رسيدلی چې د دوی څخه يو جدا شوي داعشي په خپلو څرکندونو کې ويلي چې د داعش ځينې غړي د تکفير په اړه د جنون تر حده رسيدلي دي.

د تکفير د حکم په آړه به دومره اوايو چې د سلفو په عباراتو کې اصلاً هغه اصطلاحات وجود نه لري چې معاصر تکفيريان يې کاروي. له دين څخه اوؤښتل چې د فقهاؤ په اصطلا کې ورته ارتداد وايي بايد د شرعي محکمې له لورې ثابت شي او قاضي بايد حکم وکړي چې دا کس مرتد شوی او که په کوم ځای کې شرعي قاضي وجود نه لري بايد هغه علماء چې د فتوی اهل وي دا حکم په يو چا ورکړي. خو د يو فرد يا ډلې صلاحيت دا نه دی چې د يو مسلمان په آړه دې د ارتداد فتوی صادره کړي.

ابو ذر رض له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې ويې فرمايل: لايرمي رجلا رجل بالفسوق ولايرميه بالکفر إلا إرتدت اليه إن لم يکن صاحبه کذالك. رواه البخاري

ابن دقيق العيد د دې حديث لاندې داسې ليکي: وهذا وعيد عظيم لمن أکفر أحد من المسلمين وليس کذالک، وهذا ورطة عظيمة وقع فيها خلق کثير من المسلمين، ومن المنتسبين الی السنة وأهل الحديث لما أختلفوا في العقائد، فغلظوا علی مخالفيهم وحکموا بکفرهم (أحکام الإحکام شر عمدة الأحکام ج۴ص۷۶)

ژباړه:رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل: يو سړی بل په فسق يا کفر نه تورنوي مګر همدا فسق او کفر ورته راګرځي، که دا عمل پکې نه ؤ. ابن دقيق العيد ترې لاندې ليکي: دا د هغه چا لپاره چې يو مسلمان ته د کفر نسبت کوي، يوه لويه زورنه ده، په دې لوی مصيبت کې ډير مسلمانان چې سنتو او اهل حديثو ته يې نسبت کيږي واقع دي، دوی خپل مخالف سره له سختۍ کار اخلي او په هغه د کفر حکم کوي.

علامه ابن تيمية داسې وايي: الکفر حکم شرعي ملتقی عن صاحب الشريعة، والعقل قد يُعلم به صواب القول وخطأه، وليس کل ما کان خطأً في العقل يکون کفراً في الشرع، کما أنه ليس کل ماکان صواباً في العقل، تجب في الشرع معرفته.

ژباړه:کفرداسې شرعي حکم دی چې د شارع له لورې راښودل شوی دی، په عقل پورې تړاؤ نه لري ځکه کم ځله د يوې خبرې ښه والی او بدوالی معلوميدلی شي، داسې نه ده چې عقل يو کار خطاء اوبولي، هغه دې کفر وي يا که عقل يو کار ښه اوبولي نو په شريعت کې دې ښه وي.

(درء تعارض العقل والنقل جا۱ص۲۴۲)

ketabton.com - The Digital Library

ابن الوزير داسې وايي: إنّ التكفير سمعيٌ محضٌ لامدخل فيه للعقل, وإن الدليل على الكفر والفسق لايكون إلا سمعياً قطعياً: تکفیر فقط د شارع څخه په اوریدو په پورې تړلی دی، د یو چا د کفر او فسق دلیل یواځې قاطع او له شارع څخه اوریدل شوی کیدلی شي.(العواصم و القواصم ج۴ص۱۷۹،۱۷۸)

خو د بغداد خوارج په تکفیر دومره زړور دي چې حتی خپل مخالفین په حسناتو هم کافروي.

د (فَقَدْ باء به احدهما) په مقتضی که یو چا مسلمان ته د کافر نسبت وکړ نو پخپله کفر هغه ته واپس کیږي بناءا سلفو د کفر په فتوی کې ډیر له احتیاطه کار اخیستو او کوشش به یې کاوه چې یو څوک کفر ته منسوب نه شي خو د عراق خلفو بیا کفر ته د مسلمانانو منسوبول یو عادت ګرځولی هغوی آن ملاعمر او اسامه بن لادن هم کافر بولي.

د (من لم یکفرالکافر)قاعده

د بغدادي خوارج له دې قاعدې څخه په استفادې، د امت په لویه ډله د کفر حکم کوي. هغوی چې عام شیعه ګان کافر نه بولي، هغوی چې ډیموکراسۍ کې ووټ ورکونکي او کاندیدان دواړه کافر نه بولي، هغوی چې وضعي محاکمو ته د فیصلو لپاره تلونکي کافر نه بولي، د بغدادي حروریان یې د دې قاعدې په استناد کافروي، دوی وایي: څوک چې کافر ته کافر نه وایي یا یې د یوه کافرپه کفر کې شک وي هغه په خپل کافر ګرځي.

خو آیا دا قاعده د امت د عالمانو تر مینځ څومره مسلّمه ده؟

قاضي عياض په خپل کتاب الشفاء کې ليکي: "وَلِهَذَا نُكفِّر من لم يُكَفِّر مَنْ دَانَ بِغَيْرِ مِلَّةِ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الْمِلَلِ.. أَوْ وَقَفَ فِيهِمْ، أَوْ شَكَّ، أَوْ صَحَّحَ مَذْهَبَهُمْ.. وَإِنْ أَظْهَرَ مَعَ ذَلِكَ الْإِسْلَامَ وَاعْتَقَدَهُ وَاعْتَقَدَ إِبْطَالَ كُلِّ مَذْهَبٍ سِوَاهُ.. فَهُوَ كَافِرٌ بِإِظْهَارِهِ مَا أَظْهَرَ مِنْ خِلَافِ ذَلِكَ".وروسته يې دليل بيانوي: "لِقِيَامِ النَّصِّ وَالْإِجْمَاعِ عَلَى كُفْرِهِمْ، فَمَنْ وَقَفَ فِي ذَلِكَ فَقَدْ كَذَّبَ النَّصَّ". امام نووي په روضة الطالبين کې ورته نظر وړاندې کوي: مَنْ لَمْ يُكَفِّرْ مَنْ دَانَ بِغَيْرِ الْإِسْلَامِ كَالنَّصَارَى، أَوْ شَكَّ فِي تَكْفِيرِهِمْ، أَوْ صَحَّحَ مَذْهَبَهُمْ، فَهُوَ كَافِرٌ، وَإِنْ أَظْهَرَ مَعَ ذَلِكَ الْإِسْلَامَ وَاعْتَقَدَهُ".امام بهوتي په کشاف القناع کې داسې وايي: "فَهُوَ كَافِرٌ؛ لِأَنَّهُ مُكَذِّبٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}".

چې د ټولو خلاصه داده چې څوک چې کافر ته کافر نه وایي د قرآن تکذیب کوي ځکه قرآن یهودو او نصاراؤ او د نورو کفري ادیانو واله کافر کړي نو دوی ته کافر نه ویل له همدې نصوصو انکار دی. خو په دې قاعده کې له کافر څخه کوم کافر مراد دی؟

په دې قاعده کې له کافره مراد هغه کافر دی چې کفر یې مجَمع علیه وي یعنې د ده په کفر د ټول امت اتفاق وي لکه یهود، نصاری، وثنیان، قرامطه، بهایان، قادیانیان،له زیدیه او جعفریه ؤ ماسوا ټول هغه شیعه ګان چې قرآن ناقص بولي، ام

ketabton.com - The Digital Library

المؤمنين باندې تهمت لګوي يا داسې نور..... او دا قاعده د فقهاؤ په نصوصو استثناءات هم لري چې مورږ وړاندې د تکفير په موانعو کې پرې خبرې وکړې.

امام ابن أبي العز الحنفي په مشهور کتاب العقيدة الطحاوية کې داسې ليکي: ولأن الشخص المعين يمكن أن يكون مجتهدا مخطئا مغفورا له، أو يمكن أن يكون ممن لم يبلغه ما وراء ذلك من النصوص، ويمكن أن يكون له إيمان عظيم وحسنات أوجبت له رحمة الله، كما غفر للذي قال: إذا مت فاسحقوني ثم ذروني، ثم غفر الله له لخشيته، وكان يظن أن الله لا يقدر على جمعه وإعادته، أو شك في ذلك. لكن هذا التوقف في أمر الآخرة لا يمنعنا أن نعاقبه في الدنيا، لمنع بدعته، وأن نستتيبه، فإن تاب وإلا قتلناه. ثم إذا كان القول في نفسه كفرا قيل: إنه كفر، والقائل له يكفر بشروط وانتفاء موانع، ولايكون ذلك إلا إذا صار منافقا زنديقا. فلا يتصور أن يكفر أحد من أهل القبلة المظهرين الإسلام إلا من يكون منافقا زنديقا. وكتاب الله يبين ذلك، فإن الله صنف الخلق فيه ثلاثة أصناف: كفار من المشركين ومن أهل الكتاب، وهم الذين لا يقرون بالشهادة، وصنف المؤمنون باطنا وظاهرا، وصنف أقروا به ظاهرا لا باطنا. وهذه الأقسام الثلاثة مذكورة في أول سورة البقرة. وكل من ثبت أنه كافر في نفس الأمر وكان مقرا بالشهادتين. فإنه لا يكون إلا زنديقا، والزنديق هو المنافق.

وهنا يظهر غلط الطرفين، فإنه من كفر كل من قال القول المبتدع في الباطن، يلزمه أن يكفر أقواما ليسوا في الباطن منافقين، بل هم في الباطن يحبون الله ورسوله ويؤمنون بالله ورسوله وإن كانوا مذنبين، كما ثبت في صحيح البخاري، عن أسلم مولى عمر رضي الله عنه، عن عمر: «أن رجلا كان على عهد النبي صلى الله عليه وسلم كان اسمه: عبد الله، وكان يلقب: حمارا، وكان يضحك رسول الله صلى الله عليه وسلم، وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم قد جلده من الشراب، فأتي به يوما، فأمر به فجلد، فقال رجل من القوم: اللهم العنه! ما أكثر ما يؤتى به! فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تلعنوه، فوالله ما علمت، إنه يحب الله ورسوله». وهذا أمر متيقن به في طوائف كثيرة وأئمة في العلم والدين، وفيهم بعض مقالات الجهمية أو المرجئة أو القدرية أو الشيعة أو الخوارج. ولكن الأئمة في العلم والدين لا يكونون قائمين بجملة تلك البدعة، بل بفرع منها. ولهذا انتحل أهل هذه الأهواء لطوائف من السلف المشاهير.

فمن عيوب أهل البدع تكفير بعضهم بعضا، ومن مماد أهل العلم أنهم يخطئون ولا يكفرون.

(شرح العقيده الطحاوية لإبن أبي العز الحنفي جـ١ ص٣٠٠)

د دې ژباړه ليکل غواړي

دريم فصل

ketabton.com - The Digital Library

د داعش تشکيل

داعش يا اسلامي دولت په خپل تشکيل کې داسې څيرې لري چې د هغوی سابقې ته په پام هغوی به هيڅ کله د اسلامي امت د خيرښيکنې او يووالي لپاره قدم پورته نه کړي. د داعش په تشکيل کې د صدام د پوځ بعثي کمونستانو ته لوړې څوکې ورکول مورد د تنقيد ځکه دی چې که رښتيا همدې مجرمينو توبه ايستلي وي نو د مقرره ضوابطو او اصولو له مخې داسې کسان بايد تر څه مودې پورې وڅارل شي؛ لوړې څوکې خو بايد په هيڅ صورت ورته عطاء نه کړل شي خو چون اسلامي دولت په عراق کې د اشرف غني د دولت په څير د يوې معاملې له لارې رامينځ ته شو نو همدا بعثي کمونستان پکې واک ته ورسيدل .

(۱)ابوبکر البغدادي :عمومي مسئول يا د دوی په اصطلا (القايد العام) چې دوی ورته د خليفه لقب ورکړی، د ۴۷ کلن بغدادي خپل نوم ابراهيم عواد ابراهيم عبد المؤمن علي البدري دی، نومورې د دواعشو په ګمان بوبدري د سامراء د قريشي حسيني قبيلې څخه دی چې اهل بيت دي. هغه دصدام حسين د کمونيستي رژيم په دوران کې؛هلته چې په هر نوع اسلامي خوځښت مرګانې بنديز ؤ نومورې لومړی د سامراء د احمدبن حنبل د جامع جومات امام بيا د بغداد د طوبچي د کبيسي د جامع جومات خطيب او امام ؤ. له امريکايي اشغال وروسته په ۲۰۰۳/م کال نومورې بيا هم په فلوجه ښار کې د يو مسجد امام ؤ. په ۴/۱/۲۰۰۴م کال کې د امريکايي قواؤو لخوا په دې تور چې د ائتلافي قواؤ په ضد يې څرګندونې کړي ونيول شو او د بوکا په امريکايي زندان کې بندي شو چې په ۲۰۰۶م کال د سپتمبر په مياشت راخوشی شو او له اسلامي دولت سره يوځای شو.

د نومورې پلويان وايي چې هغه د تکريت په جامعه کې په شرعياتو کې استاذ ؤ او په شرعياتو او تجويد کې يې دکتورا کړې ده خو په آړه يې دوی تر اوسه هيڅ اسناد نه دي وړاندې کړي او دا هم د دوی د نورو بې شميره افواهاتو او د شيعه ګانو او يهودانو د بې اساسه اطراءګانو په څير دي .

ketabton.com - The Digital Library

ابوبكربغدادي قريشي او حسيني نه دی

د دواعشو مفتي تركي البنغلي چې په ابوهمام الاثري مشهور دی پخپل كتاب (مَدُ الايادي لبيعة البغدادي) كې بغدادي د اهل بيتو څخه بللی او هغه يې قريشي او حسيني بللی؛ په داسې حال كې چې دا صرف د مسلمانو ځوانانو د تغرير لپاره د دواعشو يوه حِربه ده څو هغوی په دې وغولوي چې گواكې بغدادي ځكه د موعود خلافت اهل دی چې قريشي دی. تركي البنغلي د بغدادي نسب داسې بيانوي: هغه د عرموش لمسی دی عرموش بن علي بن عيد بن بدري بن بدرالدين بن خليل بن حسين بن عبدالله بن ابراهيم الاواه بن الشريف يحيى عزالدين بن الشريف بشير بن ماجد بن عطية بن يعلى بن دويد بن ماجد بن عبدالرحمن بن قاسم بن الشريف ادريس بن الزكي بن علي الهادي بن محمد الجواد بن علي الرضا بن موسى الكاظم بن جعفرالصادق بن محمد الباقر بن علي زين العابدين بن الحسين بن علي بن ابي طالب وفاطمة بنت محمد صلى الله عليه وسلم. (مَدُ الايادي لبيعة البغدادي صـ٣)

پورته نسب د بغدادي نه دی بلكې دا د عراق د اهل سُنَّتو د مشهور عالم سيد شريف صبحي بن جاسم نسب دی چې دواعشو له هغه څخه غلا كړی او په خپل مشر پورې يې تړلی دی. سيد شريف ابوعبدالرحمن صبحي القرشي الحسيني د سامراء اوسيدونكی ؤ چې په ۱۳۵۵ هـ كې پيدا شوی او په ۱۴۳۴ هـ كې وفات شوی دی. دهغه نسب په دې ډول دی :المُحدّث المحقّق السيد شريف صُبحي بن السيد جاسم بن حُميد بن حمد بن صالح بن مصطفى بن حسن بن عثمان بن دَوْلة بن محمد بن بَدري بن عرموش بن علي بن سعِيد بن بدري بن بدرالدين بن خليل بن حسين بن عبدالله بن ابراهيم الاواه بن الشريف يحيى عزالدين بن الشريف بشير بن ماجد بن عطية بن يعلى بن دويد بن ماجد بن عبدالرحمن بن قاسم بن الشريف ادريس بن الزكي بن علي الهادي بن محمد الجواد بن علي الرضا بن موسى الكاظم بن جعفرالصادق بن محمد الباقر بن علي زين العابدين بن الحسين بن علي بن ابي طالب وفاطمة بنت محمد صلى الله عليه وسلم.(تاريخ علماءبغداد صـ٢٨٥ ،أعلام المدرسةالحديثية البغدادية المعاصرة صـ١٣ ،نعمة المنان في اسانيد شيخنا ابو عبدالرحمن صـ١١)

دلته د ابوبكر بغدادي او عرموش تر مينځ دولس نيكونه حذف شوي ځكه بغدادي اوس ۴۷ كلن دی او سيد صُبحي په ۸۰ كلنۍ كې وفات شوی نو بغدادي ته په نسبت صبحي د ده د نيكه په مرتبه جوړيږي. نو پلار او نيكه دوه دا شول او لس كسان هلته نور هم ورک دي او نه دي ياد شوي. كه بغدادي رښتيا د عرموش له لارې د حسين رض له اولاده وي ولې دا دولس كسان نه دي ياد شوي او د ۸ هجري پيړۍ نيكه ته ټوپ اچول شوی دی؟ دويمه لويه غلطي چې دواعش غواړي پرې خلک خطاء كړي هغه د عرموش بن علي بن سعيد په ځای د عرموش بن علي بن عيد راوړل دي. دوی غواړي په نسب كې خلط رامينځ ته كړي په داسې حال كې چې د نسب علماؤ په دې اتفاق دی چې د بدري بن بدرالدين يو ځوی ؤ د سعيد په نوم (موسوعة العشاير العراقية ج۵ ص ۱۷)

ketabton.com - The Digital Library

مورِ ټولو دواعشو ته چیلنج ورکؤو چې د خپل موهوم خلیفه نسب دې په سند سره تر عرموش ثابت کړي

حسین رض خو په ځای پریږده دواعش ولې د خپل خلیفه په نسب کې دومره لوی درواغ وایي؟ جواب ډیر ساده او واضح دی. یو څوک چې د خپل تخت او تاج، جاه او جلال، عیش او عشرت، په خاطر د لکونو مسلمانانو وینه تویولی شي نو هغه دا دروغ نه شي سره غوټه کولی!دوی په همداسې موهومو کاذبو ادعاؤ د مسلمانو ځوانانو عواطف خپلوي او غواړي د دوی پاک جذبات د خپلو شومو مَطَامِحو لپاره استعمال کړي.

امام بخاري په خپل سند سره له ابو ذر څخه نقل کوي: عن ابي ذرٍ رض انه سمع النّبيَّ صلى الله عليه وسلم يقول: ليسَ من رجلٍ إدَّعى لِغير أبيه .وهو يعلم .إلا كفر، ومن إدعى قوماً ليس له فيهم نسبٌ فليتبوأ مقعده من النار. ژباړه :له ابو ذر رض څخه روایت دی چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې اوريدلي دي چې فرمایل يې: نشته هیڅ کس چې له خپل پلاره سوا بل پلار ته ځان منسوبوي مګر کافر ګرځي او څوک چې داسې یو قوم ته ځان منسوب کړي چې د ده نسب په هغوی کې نه وي نو د ځان لپاره دې په جهنم کې ځای تیار کړي.

بغدادي په هغه وخت کې چې د نړۍ اسلامیان د روسي اشغالګرانو په وړاندې په مقدس جهاد بوخت ؤ، د بغداد په بعثي مدارسو کې په تعلیم بوخت ؤ . آیا د عالمي جهاد امام هغه څوک کیدلی شی چې په کاذب ډول يې ځان قریشي او حسیني جوړ کړی وي او د جهاد په نړیوالو سنګرونو کې د هیڅ سنګر ګرد او غبار نه وي وهلی؟ بلکې په ډرامتیک ډول دې په ۲۰۱۰ کال کې راڅرګند شي او جعلي شخصیت دې ورکړل شي؟ ایا د نړیوال جهاد امام هغه څوک کیدلی شي چې هیڅ جهادي او ایثاري سابقه ونه لري؟

(۲) حجي بکر: نوموړی له بغدادي وروسته په اسلامي دولت کې دوهم کس شمیرل کیده چې خپل نوم يې «سمیرعبد محمد نایل الخلیفاوي نایل سمیر» دی، نوموړی په عراق بعثي پوځ کې لومړی په هوایي ځواک کې جنرال او وروسته بیا په استخباراتي اداره کې لوړپوړی افسر پاتې شوی او د بعث ګوند یو له سرکرده کسانو څخه ؤ. هغه یو کیمیایي پوه او له پوځي خِبرو څخه برخورداره افسر ؤ. په اسلامي دولت کې حجي بکر د تصمیم نیونې په برخه کې د بغدادي نبي لاس بلل کیده او بغدادي ته د خلافت په عطاء کولو کې د ده لوی لاس ؤ. نوموړی لومړی د نظامي کمیسیون «المجلس العسكري » عمومي مسئول او وروسته بیا په ۲۰۱۲م کې د التصنيع العسكري وزارت وزیر وټاکل شو.

ketabton.com - The Digital Library



حجي بکر د داعش د ټولو فکري انحرافاتو او د مسلمانانو د وژنو سرچينه بلل کيږي ځکه بغدادي د خلافت په ټولو امورو کې حجي بکر لومړی مشاور باله. حجي بکر د ابو عمر البغدادي له وژل کيدو وروسته په دې برياليۍ شو چې د دولت له مجلس الشوری څخه چې له ۹ تر ۱۱ غړي لري ټول غيرعراقي کسان اوباسي او دا شوری صرف له عراقيانو تشکيل کړي تر څو د هغو پټو تؤطيو د بربنډيدا مخه ونيول شي چې همدا بعثي مجرمين يې د اسلامي امت په آړه لري. حجي بکر په سوريه کې د لواء التوحيد د مجاهدينو له لورې په خپل کور کې اوژل شو او له کوره يې سوريايي پاسپورټ او په هغه پاسپورټ د ايران لپاره ويزا ترلاسه شول.

(۳) ابو احمد العلواني: وليد جاسم العلواني چې د عراق د پوځ ظابط ؤ په داعش کې د عسکري مجلس (نظامي کمسيون) غړی ؤ.علواني د صدام په پوځ کې دنده ترسره کړې او وروسته د داعش له ليکو سره يو ځای شوی.

(۴) ابو علي الانباري: علاء قرداش التركماني د صدام په بعثي حکومت کې د يوې فرقې مسئول ؤ، په ابوجاسم العراقي، ابو قرداش التركماني سره يې شهرت لاره . نوموړی په اسلامي دولت کې شرعي مسئول ؤ او د رِقه ښار د امام نووي په جامع جومات کې د ماسخوتن او ماښام په مينځ کې ليکچر ورکاوه .

(۵) ابومسلم التركماني: فاضل عبدالله احمد الحيالي چې د صدام په جمهوري ګارډ کې يې د ضابط په توګه دنده ترسره کوله له ۲۰۰۳م کال وروسته نوموړي سلفي فکر خپل کړ چې وروسته د تنظيم سره يو ځای شو او د ټولو پوځي چارو مشري يې په غاړه واخيسته.

(۶) ابوعبد الرحمن البيلاوي: عدنان اسماعيل نجم چې په ابوعبدالرحمن البيلاوي شهرت لري په داعش تنظيم کې د مجلس الشوری رئيس او د نظامي کميسيون عضوه ؤ. نوموړی وروسته د خالديه په سيمه کې اوژل شو.

ketabton.com - The Digital Library

(۷) ابو مهند السويداوي: عدنان لطيف حامد السويداوي د بغدادي له نصبيدو لږ وروسته له زندانه راخوشی شو. نوموړی د صليبي تحالف لخوا په دې تور ونيول شو چې د عزت ابراهيم الدوري سره نږدې اړيکې لري. سويداوي هم د صدام په بعثي کميونيستي پوځ کې د جنرالۍ تر رتبې رسيدلی ؤ چې له راخلاصيدو وروسته يې په داعشي تنظيم کې د حجي بکر سره د يو لړ شخصي ستونزو له امله د ده په دنده انتقاد وکړ چې له امله يې حجي بکر د يو څه مودې لپاره له دندې ګوښه شو. ابومهند د رمانة په ښار کې په يوه امريکايي هوايي برید کې اوژل شو .

(۸) عاصي العُبيدي : عاصي د صدام په جمهوري ګارډ کې د يوې لواء مشر ؤ. د ابوغريب په زندان کې بندي شو له راخوشي کيدو وروسته له داعش سره يو ځای شو نوموړی د مجلس الشورى عضوء دی.

(۹) ابوعمر قرداش: قرداش ترکماني الاصل ده او د عراق په کمونستي پوځ کې دنده ترسره کړې ده.

(۱۰) **ابو اسامة العراقي:** عراقي د عراق د تکريت اوسيدونکی دی، د صدام په پوځ کې د لواء رتبې ته رسيدلی ؤ. نوموړی اوس د حسکه والي دی.

(۱۱) ابوأيمن العراقي: نوموړی په سوريه کې د داعش تر ټولو لوی مجرم دی. نوموړي په خپل لاس په سلګونه مجاهدين وژلي دي، د صدام په پوځ کې ضابط ؤ.

(۱۲) ابولقمان : علي موسى الشواخ هم د صدام په پوځ کې جنرال ؤ چې د بشارالاسد د ځواکونو سره په جګړه کې ونيول شو او وروسته د بشار الاسد په فرمان خوشي شو.

(۱۳) ابوعمر الشيشاني: طرخان تيمورازوفيتش باتيرشفيلي له اصله چيچنيايی ده چې د ګورجستان په استخباراتو کې د ضابط په دنده پاتې شوی، نوموړي د داعش د ټولو نظامي عملياتو مشري په غاړه لرله چې څه موده وړاندې په يوه امريکايي

برید کې اوژل شو.

ketabton.com - The Digital Library

څلورم فصل

د بغدادي خلافت او د نظرخاوندان

د خلافت د شرعي حيثيت په آړه مورِ د هغه علماؤ او د جهاد امامانو نظرونه راخلو چې د اسلامي امت صالحه طبقه د هغوی د ربانيت کواهي ورکوي، هغه علماء چې د نړۍ په هر کوټ کې د ضعيفانو مظلومينو د حمايت لپاره يې د امت په بيداری کې رول لرلی دی، هغه علماء چې د نړۍ په هر کونج کې د طاغوت په وړاندې جنګيدونکي مبارزين د دوی په فتوی ميدان ته وتلي دي، هغه علماء چې د جهاد په دؤو پراؤونو(د سوسياليزم او امپرياليزم په وړاندې جهاد) کې په لکونو مسلمانانو خپلې وينې د دوی په فتوی اوبهولې، هغه علماء چې د ديموکراسۍ او جمهوريت په طاغوتي نظامونو کافر دي، هغه علماء چې چې د مصلحتونو او مُتَرَف ژوند په ځای د زندان، مهاجرت، سنګر ژوند غوره بولي.

مورِ د داعش په آړه د هغه علماؤ نظر ته اعتناء نه ورکؤو چې د بلعم بن باعوراء مسير يې خپل کړی، هغه علماء چې د امت د يوې لويې طبقې د ګمراهۍ سبب شول،هغه علماء چې په دربار يې خپل دين او ايمان وپلورلو، هغه علماء چې د صليب او طاغوت په وړاندې مقدس جهاد تروريزم بولي،هغه علماء چې د شيطاني مصلحتونو په بنياد د ديموکراسۍ او جمهوريت په ډنډ کې ترپکې وهي.

(۱) د.ايمن الظواهري د القاعدې د نړيوال تنظيم مشر

« د القاعدې ډله د اسلامي دولت له ډلې سره هيڅ تنظيمي اړيکې نه لري د دولت په جوړولو کې له القاعدې سره نه مشوره شوي ده او نه ترې اجازت غوښتل شوی او نه د دولت په جوړلو القاعده تنظيم خوښ دی، بلکې دوی له دولت جوړولو څخه منع شوي ؤ بناءا اسلامي دولت د القاعدې څانګه نه ده او نه القاعده د دوی د تصرفاتو مسؤليت په غاړه لري» (مؤسسة السحاب بيان بشأن علاقة قاعدة الجهاد بتنظيم الدولة).

ډاکټر ظواهري د دې پوښتنې په ځواب کې چې ستاسو له داعش سره په کومو تکو خلاف دی؟ هغه په ځواب کې داسې اويل: زمورِ او د دوی اختلاف منهجي دی زمورِ منهج (تکلاره) دا ده چې په اوسني وخت کې بايد د زماني په هبل (بت) امريکا او د دوی په صليبي ائتلافيانو او د صهيونستانو او د دوی په اجيرو خاينانو تمرکز وشي او له جانبي جنګونو څخه بايد ځان وژغورل شي. زمورِ منهج دا دی چې بايد په وينو کې احتياط وشي او له هغه عملياتو څخه ډډه وشي چې پکې د بې ګناه انسانانو وينې تويېږي. بالخصوص هغه عمليات چې په بازارونو اومساجدو او د اوسيدو په ځايونو کي بلکې د مجاهدينو په مينځ کې ترسره کيږي.

نومورِی بل ځای داسې وايي:آی مجاهده: ته شام ته د دې لپاره راغلی يې چې د الله کلمه لوړه شي او د کافرانو کلمه ټيټه شي نو خپله لار مه ورکوه او پام چې ځينې خودغرضان دې په خپلو لانجو کې ونه کاروي. هغوی چې د واک، ځواک او القابو

ketabton.com - The Digital Library

اومنصبونو لپاره جګړه د دين په نوم کوي. زه تاته وايم: که زه تاته امر وکړم چې پخپلو مجاهدينو وروڼو تجاوز وکړه او يا ځان د دوی په مينځ کې منفجر کړه نو زما اطاعت مه کوه او زما نافرماني وکړه ځکه زه له تا څخه د الله عذاب نشم کړځولی.

نومورې بل ځای د ابوخالد السوري په هکله هغه چې دواعشو شهيد کړ داسې وايي:

ومن السعاة إلى المناصب دونها هتكوا المحارم جهرةً وفجورا
أسلافهم قتلوا الخليفة ثالثًا يتلو الكتاب مسالمًا وصبورا
طعنوا أبا الحسن الإمام مصليًا حجبت شموسًا طعنةٌ وبدورا
سيخيب في أرض الشآم حفيدهم وكفى بربك هاديًا ونصيرا

ژباړه:هغوی چې د لورو څوکيو لپاره هڅې کوي، په څرګنده او ناروا يې عزتونه ځيري کړل. د دوی پلارانو دريم خليفه په داسې حال کې شهيد کړ چې د الله د کتاب لوستونکی ؤ. هغه سوله خوښوله او صبر يې کولو. د حسن پلار(علي) يې په داسې حال کې په نيزه اوهلو چې لمونځ يې کولو د ده د نيزې کذار سپورمۍ او د لمر سترګې پټې کړې. د هغه خوارجو لمسی (ابوبکر بغدادي)به د شام په زمکه کې ناکام شي او ستا رب د هدايت او نصرت لپاره بس دی.

(۲) ابومحمد المقدسي

عاصم طاهر البرقاوي چې په ابومحمد المقدسي مشهور دی، د عربي نړۍ وتلی ديني عالم دی. نومورې د ابومصعب الزرقاوي استاذ او د سلفي جهادي تَيار روحاني شخصيت دی. هغه د بغدادي دولت او د ده د خلافت په آړه داسې وايي:

په الله قسم چې داسې بد اخلاق مې د غِلو کونکو او غدارانو او درواغجنو او مکارانو(دواعش) سوا بل د چا نه دي ليدلي. هغوی د مسلمانو اخلاق نه پيژني او ايماني وروروڼي نه پيژني، په داسې يوه دِله کې ځان محصور بولي چې د حال په ژبه د يهودو د دې خبرې مصداق جوړيږي (ولاتؤمنوا الا لمن تبع دينكم) دوی له خوارجو هم بدتر دي. ځکه خوارج په لويه ګناه خلق کافر بولي دوی خو په نيک عمل خلق کافر بولي وروسته له هغې چې دا نيک عمل دوی يو ځل ګناه، خيانت ته واړوي د دوی په هاند د تکفير ضابطه خواهش او خصومت دی. دوی له روافضو څخه سخت درواغجن دي او له يهودو څخه سخت بهتانګر دي.

نومورې بل ځای داسې وايي: زه په دؤو خبرو له دوی (داعشيانو) سره مباهله کوم لومړۍ دا چې مورِ دوی ته د ټولو هغو لانجو چې د نورو جهادي ډلو سره يې لري د حل کولو په منظور د هغه قاضيانو د تحاکم غوښتنه وکړه چې د دوی د شروطو موافق ؤ(يعنې هغه علماء او قاضيان چې په طاغوت کافر وي ټول وضعي قوانين کفر بولي) خو دوی له مياشتو ټال متال وروسته دا تحاکم صراحةً رد کړ دوی د الله شريعت حکم د بل چا په حق کې نافذوي خو د الله حکم پخپل ځان نه تطبيقوي.

دويمه خبره دا چې دوی زمورِ د خور ساجدة الريشاوي (هغه فدايۍ ميرمن چې غوښتل يې د واسکټ په توسط په يوه خارجي ميلمستون برید ترسره کړي او د اردني حکومت لخوا ژوندی ونيول شوه) وينه هدر کړه او د هغې د وينې قدرداني يې ونکړه همدا راز د شهيد ورور زياد الکربولي وينه يې بې قيمته اوبلله. مورِ دوی ته خبر ولیږلو چې که تاسو معاذ الکساسبة (اردنی

ketabton.com - The Digital Library

پیلوټ) اوژنی نو اردنی حکومت به دا مجاهده میرمن او دا مجاهد بندي په دار کړي خو دوی مور ته باربار دوکه راکوله. په داسې حال کې چې دوی اردنی پیلوټ په هماغه لومړیو ورځو کې سوځولی ؤ خو د مسلمانو ځوانانو د تغریر او دوکه کولو په پار دوی د کساسبه په بدل کې د ساجدة الریشاوي نمایشي غوښتنه وکړه خو کله چې مور پوه شؤو چې کساسبه لا پخوا سوځول شوی دی او داعش د کساسبه له موضوع څخه میډیایي ګټه پورته کوي، بیا مو د داعش قیادت ته ځواب ولیږلو چې لطفاً که غواړی د یوې مجاهدې خور وینه وژغورل شي نو د کساسبه د سوځونې فیلم مه نشروئ ځکه اردنی حکومت به دا مظلومه مجاهده میرمن په دار کړي خو دوی په ډیره بې شرمۍ دا فیلم نشر کړ او همدوی د امت د یوې اتلې میرمنې او اتل بچي د وژلو سبب جوړ شول.

(۳) ابوقتادة الفلسطيني

عمر محمود عثمان چې په ابو قتادة شهرت لري، په برطانیه کې له اوږده بند وروسته په ۲۰۱۳ م کال د اردن حکومت ته وسپارل شو. نوموړی د اردن، الجزایر،بلجیم، فرانسې،امریکا،اسپانیه، المان، ایټالیا لخوا د وانټید یا مطلوبو کسانو په لیست کې دی. د یادو هیوادونو لخوا په نوموړي بیلابیل تورونه لږول شوي دي. د اردن یوې محکمې نوموړی په ۲۰۱۴م د ډیسمبر په میاشت کې له ټولو تورونو برئ کړ او له زندانه خوشی شو. نوموړی په اروپا کې د بن لادن سفیر بلل کیده او امریکایي استخباراتو هغه د القاعدې مفتي باله او تور یې پورې کاوه چې د محمد عطاء ډلې په المان کې د ده څخه درسونه ترلاسه کړي ؤ.

د ګمراه بغدادي په فتنه کې نه واقع کیږي مکر جاهلان او رذیلان.

نوموړی د پورتني عنوان لاندې لیکي: په الله قسم چې د بغدادي ګمراه په فتنه کې نه پریوځي مګر جاهلان او رذیلان. مور د دوی د اخلاقو ډیره ځارنه وکړه خو په دوی کې داسې کس نشته چې دین اخلاقو او علم ته وفادار وي بلکې دوی ډیر بداخلاقه دي دوی په خطاب کې غِلوه کوي او ځان له نورو پورته بولي. په الله قسم او بیا په الله قسم چې زه د دوی په هکله هر وخت استخاره کوم خو زما بصیرت لاپسې زیاتیږي چې دا خلق د جهنم د اور سپي دي.

نوموړی بل ځای داسې وایي:عدناني خبیث خپلو پلویانو ته داسې اشاري ورکړي چې په خراسان کې د طالبانو خلاف وجنګیږي. دا مفسده ډله چې کوم ښار ته داخل شي هغه فاسد کړي، طالبانو د ملاعمر په قیادت په اوسني عصر کې داسې ایماني وِقفات ثابت کړل چې ټول خلک ترې عاجز دي بیا دا عدناني مجرم راځي د بغدادي مجرم، درواغجن، ګمراه په مشرۍ خپلو اتباعو ته د طالبانو خلاف د جنګ امر کوي دا د خباثت دولت دی. مور له دې دولت سره د دې وجې نه دشمني نه لرو چې دوی د الله له دشمنانو سره دشمني لري بلکې مور د دوی سره ځکه دشمني لرو چې دوی د الله له دوستانو مجاهدینو سره دشمني لري. دوی مجاهدین کافران بولي، هغوی وژني، هغوی ذبح کوي، هغوی ګوابني، د مجاهدینو ښځې هغوی وینځي جوړوي چې دا خبره اوس په یقین بدله شوي ده او له دې نه صرف جاهلان ناخبره دي.

ketabton.com - The Digital Library

(۳) شيخ سلمان العلوان

سليمان بن ناصر بن عبدالله العلوان مشهور سعودي عالم چې په ۲۰۰۴م کال کې د سعودي حکومت لخوا جهادي ډلو سره د تړاؤ په تور جيل ته ولېږدول شو، له ۹ کاله زندان وروسته خوشی شو خو په ۲۰۱۳ م کال کې د سعودي يوې محکمې د هغه د بيا نيولو امر صادر کړ چې تر اوسه په زندان کې دی. نوموړی د داعش په هکله داسې وايي:

دا «بغدادي» د مسلمانانو خليفه نه دی بلکې د يوې ډلې امير دی. دا چې نوموړی له نورو بيعت غواړي او که بيعت نه ورسره کوي نو وژني يې دا عمل د باغيانو دی د نيکو او مصلحينو کار نه دی.

(۵) شيخ عبدالله السعد

د سعودي وتلی فقيه او محدث عبدالله بن عبدالرحمن بن محمد آل سعد المطيري داسې وايي:

مونږ ټول عامو مجاهدينو ته له دوی څخه د لرې والې توصيه کؤو او د دوی مشرانو ته وايو چې له الله څخه اويريږئ. حق ته واپس شئ. توبه اوباسئ. او هغه جرمونه درک کړئ چې تاسې يې کوی.

(۶) شيخ عبدالعزيز الطريفي

عبدالعزيز بن مرزوق الطريفي مشهور سعودي عالم او فقيه د دې منحرفې ډلې په اړه داسې وايي:

د بغدادي سره ټول بيعتونه د فتنې او قتال بيعتونه دي او عام بيعت چې له مشهورو جهادي ډلو هغوی چې په ساحه کې واک ځواک لري له مشورې پرته وي، بدعي بيعت دی او اصلاً منعقد نه دی چې مونږ يې وروسته د فسخې په اړه څه اوايو.

نوموړی بل ځای داسې وايي : په هغه ذات قسم چې له ده سوا بل خدای نشته زه يوه لحظه هم په دې کې شک نه لرم چې دا (داعش) خوارج دي او ځوک چې د دوی په لاس اوژل شي د هغې اجر د الله سره زيات دی د هغې چا څخه چې د اسد د نظام له لورې اوژل شي. د خوارجو هغه دقيق صفت چې ټول دلايل پرې راځرخي، بغير د مکفر څخه د مسلمانانو تکفير دی، دوی د ابن عباس په زمانه کې هم د کفارو سره جنګ کولو او حدود يې قايمول خو له دې سره بيا هم ابن عباس دوی خوارج بلل.

(۷) شيخ علامة ابوالوليد الغزّيُّ الانصاري

هغه څه چې مونږ ترې خبر يو، په عراق او شام کې د دولت اعلان د شام د مجاهدينو اوعلماؤ د اهل حل او عقد په مشوره نه دی شوی بلکې له دې وړاندې په عراق کې د دولت اعلان هم له مشورې پرته شوی ؤ چې په هغه وخت کې هم مونږ د دې اعلان له بدو عواقبو څخه خبرداری ورکړی ؤ.

(۸) شيخ محدث عبدالله صادق السوډاني

ketabton.com - The Digital Library

دا خيالي دولت تر اوسه په ټول عراق واکمن نه دی نو نورو سيمو ته څنګه پراخيدلی شي؟ او دا هغه څه دي چې له عاقلانو پټ نه دي.

(۹) شيخ ابو الفضل عمر الخدوشي

دا عدناني لحان وايي: (فانک بقتال الدولة الاسلامية تقع بالكفر من حيث تدري او لاتدري)نو ته د دولت سره په جنګ کولو کافر ګرځې که ته پوهيږې او يا نه. له امام بخاري څخه هير شوي دي چې په خپل کتاب کې يې باب منعقد کړی وی چې :(باب قتال الدولة الاسلامية كفرٌ) يا دې داسې باب راوړی وی: (باب قتال الدولة الاسلامية ناقض من نواقض الاسلام) خو د لوی دجال له راڅرګندیدو وړاندې به واړه واړه دجالان څرګند شي دا واړه دجالان به لوی دجال ته لار خلاصوي نو عدناني د هغو وړو دجالانو يوه نمونه ده.

(۱۰) شيخ حسن بن علي الكتاني الحسني

دوی هغه اوژلو الله دې دوی اوژني آی د جرمونو او جنايتونو ډلې: تاسې ډير لوی کار وکړو آی د ذوالخويصرة لمسيو، يالله ته دوی ونيسي ځکه دوی تا نشي ناتوانه کولی، الله دې په تا رحم وکړي اباخالده، او تاسې ته زه زيری درکوم چې دا به د جنايتکارې ډلې په تابوت اخري ميخ وي.

نوموړی بل ځای داسې وايي: ابوبکر بغدادي لومړی کس نه دی چې له عثماني خلافت وروسته د خلافت دعوی کوي، الشريف الحسين بن علي الهاشمي د عربي انقلاب څخه وروسته د خلافت دعوی وکړه خو مسلمانو هغه د خليفه په توګه ونه مانه .

په خدای قسم چې دا خلافت په تګلاره د نبوة نه دی بلکې خلافت په تګلاره د مروان بن الحکم او ابوالعباس السفا دی .

(۱۱) شيخ شهيد آدم ګدان

شيخ يحيى آدم ګدان چې امريکايی الاصله دی داسې وايي:

دغه ډلې د بوش هغه عيبجن شعار خپل کړی چې تاسې به يا زمور سره وی يا له تروريستانو سره. دوی هم وايي چې يا به زمور خلافت منی يا به وژل کيږی.

هغه علماء، مشايخ، د جهاد امامان چې د بغدادي او حجي بکر خلافت شرعي نه بولي:

شيخ ابوخالد السوري، شيخ قائد ماجد الماجد، استاذ احمد فاروق، ابودجانه الباشا، شيخ حارث بن غازي النظاري، شيخ ابراهيم بن سليمان الربيش، شيخ ابومحمد الجولاني، شيخ ابوعبدالله الشامي، شيخ عبدالله بن عبدالرحمن الشنقيطي، شيخ عبدالله بن احمد البن الحسيني، شيخ د سامي العريدي، شيخ نصر بن علي الآنسي، شيخ ابومنظر الشنقيطي، شيخ

ketabton.com - The Digital Library

ابوالحسن رشيد بن محمد، شيخ ابوفراس السوري، شيخ مختار بالمختار،شيخ د هائئ الشباعي، شيخ د طارق عبدالحليم، شيخ عبدالعزيز القطري، شيخ ابو مارية القحطاني ،شيخ عبدالله المحيسيني، شيخ مظهرالويس،شيخ ابوسليمان المهاجر، شيخ ابو معاذ نورالدين نفيعة، شيخ د.اياد قنيبي، لؤي السقا ابوالربيع الشامي، شيخ عثمان الغميراوي، شيخ محمد بن صالح المهاجر، شيخ خالد بن عمرباطرافي ابومقداد الكندي، شيخ المنذر الشامي، شيخ ابوالوفاءالتونسي، ابوسياف ماجد الراشد، قائد صلا الدين .

داعش د عراق له اسلامي دولته تر الدولة الاسلامية في العراق والشام بيا تر الخلافة

ابو احمد العراقي چې د زرقاوي له نږدې ملکرو څخه ؤ، خپله قصه داسې بيانوي: په ۲۰۰۰م کال کې افغانستان ته لاړم او هلته د القاعدې له تنظيم سره يو ځای شوم. د سپټمبر له مبارکو عملياتو وروسته مورږ د قندهار په هوايي ډګر کې اوسيدو او زه يو له هغه لسو کسانو څخه وم چې د امريکايي بمبارد څخه ژوندی پاتی شوم، خو سخت ټپونه می په بدن خوړلي ؤ له همدې امله مورږ سيستان بلوچستان ته واړول شو او هلته د علاج لپاره په يوه روغتون کې څه موده پاتی شوؤ. د يوې ډلې سره يو ځای چې موحد المصري هم راسره ؤ د ايران په بلوچستان کی د ايراني حکومت لخوا ونيول شو. د څه مودې بند ورسته ايراني حکومت له مورږ څخه د ځان خلاصولو په پار، مورږ ته عراقي جعلي پاسپورټونه جوړ کړل او مورږ يې په همدې پاسپورټونو مالیزيا ته ولیږلو. په مالیزيا کې له ملکرو سره تر يو ځای کيدو وروسته مورږ بيا ايراني جعلي پاسپورټونه جوړ کړل او بيرته ايران ته راغلو، له ايرانه مو د عراقي کردستان په لوري مخه کړه او هلته د ابومصعب الزرقاوي سره يو ځای شوم مورږ د انصارالسنة ډلې ميلمانه ؤ. کله چې په عراق امريکايانو يرغل وکړ، مورږ له ابومصعب سره يو ځای عراق ته د امريکايانو د مقابلې لپاره ننوتو. زرقاوي له شيخ اسامه سره بيعت وکړ چې په دې سره هلته ټول مجاهدين سره متحد شول او له نورو هيوادونو څخه هم د القاعدې غړي عراق ته راورسيدل.

زرقاوي اوژل شو او د هغه جاسوس هم اعدام کړل شو چې وروسته ابوحمزة المهاجر د تنظيم مشر شو خو عجيبه دا وه چې په نابيره توګه مهاجر ابو عمر البغدادي راوراندې کړ او هغه يې امير مقرر کړ. بغدادي په تنظيم کې يو عادي فرد ؤ چې د مهاجر دغه عمل ته ټول خلک حيران شول او تنظيم نوم دولة العراق الاسلامية ته واړول شو. دولت ته پخوانيو بعثيانو مخه کړه. د کتايب ثورة العشرين ډلې غړي او د عزت ابراهيم الدوري ډله او د ابوعلي الخليلي ډله ټول په دولت کې ننوتل. د دوی په راتګ سره د جهاد مسير واړول شو په عامه ځايونو کې چاودنې، له کنې کونې په ډګ بازار کې انفجارات د همدې بعثي مجرمينو کار ؤ ځکه اوس دوی ته په دې خاطر چې دوی جنګي سابقه لري ټولې نظامې چارې ورسپارل شوي وی. هغوی ؤ چې په عراق کې يې فرقيزې جګړې ته لمن ووهله او په دې جګړه يې تيل اوپاشل.

مورږ پوهيدو چې د جهاد مسير په بدليدو دی خو زمورږ شکايت نه اوريدل کيدو چې له همدې امله د دولت لوی قاضي سليمان العتيبي په خراسان کې قيادت ته خط ولیږلو چې د عراقي جهاد وخيم حالت پکې انځور شوی ؤ. خو چې کله عتيبي پوه شو چې نصيحت يې بی اثره دی نو خراسان ته لاړ چې بالاخره هملته شهيد هم شو.

ketabton.com - The Digital Library

بغدادي او مهاجر په يوه معمايي برید کې اوژل شول او ابوبکر بغدادي بيا په ډير ندرت او د مهاجرينو له مشورې پرته امير وټاکل شو. دا هغه مهال ؤچې په سوريه کې د بشار پر ضد مظاهرې پيل شوې چې بالاخره دا مظاهرې په انقلاب واؤښتې او په سوريه کې د بشار خلاف منظم جهاد پيل شو. مورِ ته د ظواهري له لورې امر راغلو چې يوه ډله مجاهدين سوريې ته د سوريايي ولس د مرستې لپاره ولیږو. د ابو محمد الجولاني په مشری د جبهةالنصرة ډله سوريې ته ولیږل شوه.

ابوبکر البغدادي اصلا د هغه بعثي جنرالانو لخوا راوړاندې کړل شو چې تازه له دولت سره يوځای شوي ؤ او غوښتل يې د دولت واګې په لاس کې واخلي چې په همدې مرام کې دوی کامياب شول. بغدادي د امريکايانو له راتګ سره سم سوريې ته وتښتيدو او هلته د دمشق سره نږدې د سيدة زينب په ښارګوټي کې يې واړول. تر ۲۰۰۶م کال پورې نوموړی په دمشق کې ميشت ؤ. نوموړي له زرقاوي سره نه دي ليدلې او نه يې له هغه سره تعارف لاره خو د زرقاوي له شهادت ورسته بغدادي عراق ته راستون شو او د ابوعمر البغدادي په وخت کې نوموړی د يوه بَرِيد (پوسټ آفس)مسئول ؤ.

بغدادي په سوريه کې د اوسيدو پر مهال د سوريايي نظام د استخباراتي ارګان د دؤو مهمو کسانو معاذ الصفوک او ابوالقعقاع الثاني سره نږدې اړيکې پيدا کړې چې همدا اړيکې په داعش کې د سوريايي نظام د نفوذ پيل ؤ.له بله پلوه د انصارالتوحيد په نوم ډلې مشر د بغدادي باجه (دښځې د خور خاوند) ؤ. نوموړي چې له زرقاوي او مهاجر سره نږدې تعلق لاره د ابوعمر البغدادي سره د ابوبکر البغدادي رابط شو. ابوبکر البغدادي په ۲۰۰۶م کال عراق ته واپس شو او د امريکايانو لخوا ونيول شو او له راخلاصيدو وروسته يې بيا له دولت سره کار پيل کړ.

دابو احمد العراقي ګواهي

ابوعمر البغدادي او ابوحمزه المهاجر د تکريت په لويديځ کې د مناف الراوي په کور کې اوسيدل. مناف الراوي چې د بغداد والي ؤ په ۲۰۱۰م کال کې په بغداد کې داسې مهال د عراقي ځواکونو لخوا ونيول شو

چې له يوې امنيتي پوستې تيريده د هغه د نيولو سره هم مهاله د ابوبکر بغدادي کور ته يو عراقي امنيتي چارواکی ولیږل شو تر څو د اسلامي دولت قيادت آګاه کړل شي چې خپل ځای بدل کړي خو کله چې د امنيتي چارواکی د بغدادي کور ته ورسيدو بغدادي يا د بې پروايی له امله او يا په لوی لاس دا خبرداری نادیده وګانه چې په نتيجه کې يې د مناف الراوي له نيول کيدو يوه

ketabton.com - The Digital Library

هفته وروسته عراقي ځواکونو د مناف الراوي په کور چاپه اوهله چې ابوعمر او ابوحمزه دواړه په بريد کې اوژل شول او د تۀوطيې له مخې ميدان هغه بعثي جنرالانو ته خالي ورپاتي شو چې د موقع انتظار يې کولو.

په سوريه کې د القاعدې رسمي ځانګې جبهةالنصرة يو مشر ابو مارية القحطاني په خپل يوه نوي بيان کې له دواعشو ګڼ شمير پوښتنې دتحدی يا چيلنج په دود کړي چې تر اوسه يې د مقابل لوري هيڅ ځواب نه دی ترلاسه شوی. يوه پوښتنه داده: ابوبکر بغدادي په کومه طريقه وټاکل شو؟ آيا هغه د بعثي جنرال حجي بکر لخوا نه دی ټاکل شوی؟ په هغه وخت کې چې له بغداده يو امنيتي چارواکی د بغدادي کور ته په دې خاطر ولېږل شو تر څو بغدادي خبر کړي چې د اسلامي دولت هغه قيادت چې د مناف الراوي په کور کې اوسېږي حکومت پرې خبر دی او هغوی بايد ځانونه وژغوري خو ستاسو خليفه ولې ابو عمر البغدادي او مهاجر له دې خطر څخه خبر نه کړل؟ آيا ستاسو خليفه د دوی په قتل کې مستقيما شريک نه دی؟

مناف الراوي په ۲۰۱۳ م کال د اپريل په لومړی نيټه د عراقي دولت لخوا اعدام کړل شو. د مناف الراوي له نيونې سره اسلامي دولت له ډيرو ستونزو سره مخ شو او په عراق کې مهاجرين مجاهدين يا ونيول شول يا شهيدان کړل شول چې په دې سره د داعش په ليکو کې حجي بکر او نور پخواني کميونستان تقويه شول او د پريکړو واک د دوی لاس ته ولويدو.

دا مهال چې ابوبکر امير ټاکل شوی ؤ، حجي بکر بيا د ټولو نظامي عملياتو مسئوليت په غاړه لاره، ابو مهند السويداوي د عراق د پخواني پوځ بل جنرال چې کله د عراق له حکومت له زندان څخه راخلاص شو د حجي بکر په ځای وټاکل شو. د دواړو بعثي جنرالانو په دوره کې عراق د سختو فرقي پېښو شاهد ؤ او همدا بعثي جنرالان ؤ چې په عامه ځايونو کې يې حملې تنظيمولې، خو لږه موده وروسته ابو مسلم التركماني چې همدا څه موده وړاندې په يوه بريد کې اوژل شو؛ له زندانه راخوشی شو او د بغدادي ځای ناستی او د ټولو نظامي عملياتو مسئول وټاکل شو.

ابومسلم التركماني د تل عفر د ترکمان قبيلې دی. هغه قبيله چې د القاعدې ډير مجاهدين د دوی په غدر وژل شوي چې يو له هغوی څخه ابو سيف ا لعبيدي الموصلي دی چې د زرقاوي په وخت کې امنيتي مسئول ؤ. نومورې د عبدالرحيم التركماني له لورې اوژل شو چې همدا التركماني اوس د عبدالناصر په نوم د ديرالزور والي دی. د داعش په سوريايي تشکيل کې يواځې ابوايمن العراقي دی چې عبدالرحيم التركماني په خپل نوم پېژني خو ابو ايمن په خپله هم د صدام د استخباراتو ضابط ؤ. نومورې په دې مقوله مشهور دی چې ويلي يې ؤ: مورږ د الله د شريعت حاکميت نه غواړو بلکې مورږ د ځنګل شريعت غواړو.

پنځم فصل:

د داعش او نورو جهادي ډلو ترمينځ کشمکش

ketabton.com - The Digital Library

دقيقاً په ۱۹/۴/۲۰۱۴م د دوشنبې په ورځ اسلامي دولت رسما خپل مشر ابوبکر البغدادي د خليفه په توګه اعلان کړ. له بله پلوه د عرب پسرلي په تعاقب په سوريه کې د بشارالاسد په ضد لاريونونه پيل شول. اسد له دې ويرې چې د قذافي، زين العابدين او حسنی مبارک په انجام اخته نشي له لومړي سره يې د لاريون کوونکو په ځپلو پيل وکړ تر دې چې لاريونونه په وسلوال پاڅونونو واوښتل او لاريون کوونکو وسلې لاس ته کړی.

ايمن الظواهري د القاعدې ډلې مشر د اسلامي دلت مشرتابه ته امر ولېږلو چې شام ته د سوريايي ولس د ملاتړ په منظور يوه ډله مجاهدين ولېږي چې د ابو محمد الجولاني په مشری د سوريايي مجاهدينو يوه ډله هلته ولېږل شوه او په کمه موده کې يې خورا مهمې سيمې د اسد له رژيم څخه پاکې کړې او همدا ډله د سوريې د ولس سره د نصرت او همکاری لپاره لېږل شوې وه چې په ۲۰۱۲م د جنوري په مياشت کې د جبهة النصرة په نوم رسماً اعلان شوه.

ابو محمد الجولاني او جبهة النصرة په ډيره کمه موده کې نړيوال نومونه وګرځيدل او د نړۍ له لراوبر څخه يې د خلکو نظرونه ځان ته واړول. له بله پلوه د سوريايي ولس له لورې د جبهة النصرة د مساعدوي رول په وجه تود هرکلی وشو چې دې چارې د اسلامي دولت بغدادي جنرالان ډير وارخطا کړل ځکه له يوې خوا د خليجي او نورو اسلامي هيوادونو څخه مالي منابع د اسلامي دولت څخه د جبهة النصرة په لوري مات شول له بله پلوه عراقي ديکتاتورو جنرالانو له جولاني څخه ويره لرله چې له دولت څخه بغاوت ونه کړي چې په دی لړ کې حجي بکر ډير رول اداء کاوه.

د اسلامي دولت له لورې هيڅ عراقي ته اجازه نه ورکول کيده چې په جبهة النصرة کې کار وکړي او ټولو د دولت غړو ته اعلام شوي وه که څوک سوريې ته د جهاد لپاره لاړ شي هغه به له اسلامي دولت څخه منشق (وتلی) اعلان شي . د نړۍ له لراوبره د جبهة النصرة په لورې د جهاديانو راماتيدل بغدادي جنرالان ولړزول او حجي بکر بغدادي ته مشوره ورکړه چې له جولاني څخه غوښتنه وکړي چې په يوه صوتي پيغام کې جبهة النصرة د اسلامي دولت يوه فرعه اعلان کړي خو جولاني يې په ځواب د ملګرو سره د مشورې په منظور د وخت غوښتنه وکړه. خو له دوه مياشتو تيريدو سره بيا هم د جولاني لخوا جواب معلوم نه شو چې د بغدادي لخوا بيا غوښتنه وشوه. بالاخره جولاني په ځوابي ليک کې وليکل: د جبهة النصرة د شوری غړو فيصله وکړه چې په اسلامي دولت پورې د دې ډلې تړل د سوريايي پاڅون په ګټه نه دی.

جولاني چې دا مهال په سوريه کې د امريکا لخوا لومړی مطلوب کس اعلان شو؛ د بغدادي لخوا ورته بيا امر ولېږل شو چې د اسد پوځ سره يو ځای د ازادی سوريې پوځ (الجيش الحر) هم د خپلو بريدونو هدف وګرځوي چې د جبهة النصرة لخوا شرعي دليل وغوښتل شو چې په دې سره بغدادي نور هم غوصه شو او جولاني ته يې د دوو خبرو کې اختيار ورکړ چې يا به جبهة منحلوي او يا به د ده ټول اوامر مني خو جولاني بيا له ځنډ وروسته د بغدادي دواړه خبرې رد کړې چې په دې سره بغدادي يو هيئت ولېږلو خو جولاني د هيئت سره له ليدنی انکار وکړ او ورپسې اقدام کې بغدادي يو لوړپوړی هيئت سوريې ته د دې لپاره ولېږلو ترڅو هلته د جبهې نور غړي د جولاني څخه بغاوت ته وهڅوي او سوريې ته د اسلامي دولت د غځيدو لاره هواره کړي چې نومورې هيئت له ليدنو کتنو وروسته د جبهة النصرة ځينې غړي له دې ډلې څخه جدا شول چې ابو ريتاج التونسي،

ketabton.com - The Digital Library

ابوعمر العبادي التونسي، ابو ضمضم الحسني المغربي، ابو الحجاج النواري المغربي، ابوبکرالقحطاني د جبهة النصرة له لورې د تکفيري فکر د اشاعت په تور ونيول چې وروسته ابوبکر القحطاني په اسلامي دولت کې شرعي وټاکل شو.

د اسلامي دولت په مجلس الشورى کې چې غړی يې ټول د پخواني کميونستي پوځ جنرالان دي فيصله وشوه چې بغدادي بايد پخپله سوريې ته سفر وکړي او کوشش وکړي چې جولاني منزوي کړي او ملګري يې له دولت سره يو ځای کړي. بغدادي غوښتل چې له جولاني سره اويني خو هغه له دې ليدنې انکار وکړ چې بالاخره بغدادي خلافت اعلان کړ او جبهة النصرة يې منحل اعلان کړه. حجي بکر سوريې ته ولېږل شو تر څو هلته د هغه ډلو په خلاف وجنګېږي چې د داعش سره له بيعت انکار کوي او د جهادي ډلو خلاف يې څو ځايه جنګونه رهبري کړل چې په پای کې همدا بعثي جنرال هم د لواء التوحيد د مجاهدينو لخوا اوژل شو .

اسلامي دولت په لومړي سر کې د اسد د وسلوالو مخالفينو په مينځ کې يواځې الجيش الحر په دې کافر باله چې په ديموکراسی باور لري خو بعثي جنرالان په دې فکر کې شول چې څنګه هغه خارجي جنګيالي چې د دوی په ليکو کې جنګېږي په دې قانع کړي چې په سوريه کې د بشارالاسد په وړاندې د جنګيدونکو مجاهدينو په وړاندې وجنګېږي؟ دوی لومړی په مزخرفو دلايلو سره دا مجاهدين کافر وبلل وروسته يې د دوی په وړاندې پراخ بريدونه پيل کړل.

د دواړو طرفونو تر مينځ په دې موافقه وشوه چې د عراق او شام موضوع دې ظواهري ته وليږل شي هغه چې هر څه فيصله وکړه دواړو لوريو ته به د منلو وړ وي خو له لږ ځنډ وروسته ظواهري اسلامي دولت ته امر وکړ چې په عراق دې تمرکز وکړي او سوريه دې جبهة النصرة ته پرېږدي خو دا امر بغدادي او د هغه د شورى جنرالانو په دې دليل ونه مانه چې اسلام پولې او حدود نه مني اوظواهري يې په دې تورن کړ چې ګواکې سايکس بيکو (هغه ټرون چې پر مټ يې د برطانوي او فرانسوي جنرالانو لخوا ټول منځنی ختيځ اويشل شو او پولې، سرحدونه رامينځ ته شول) ته ژمن دی. کله چې په سيمه کې د اسلامي دولت له لورې تيريو او بريدونو زور واخيست، ظواهري د دواړو لوريو تر مينځ د توسط لپاره د يمن او سعودي مشهورې جهادي څېرې هر يو شيخ عبدالله المحيسيني، ابوخالد السوري، ابوسليمان المهاجر، ته بلنه ورکړه خو نومورو کسانو له ډيرو هڅو سره بيا هم بغدادي له دوی سره له ليدنې ډډه وکړه او دا کوشش هم ناکام شو.

دا چې بغدادي او ډله يې اوس له دې انکار کوي چې ګني دوی له ظواهري سره بيعت کړی ؤ يا يې هغه حَکَم جوړ کړی ؤ د دوی د تغرير او دوکې څخه ده. عمر القحطاني چې د دولت عمومي شرعي ؤ، په يوه ويډيويي کليپ کې وايې: ابوبکر بغدادي ويلي دي: په الله قسم چا چې له اسلامي دولت سره بيعت کړی د ظواهري په امر يې کړی او که د هغه خوښه نه وي دا بيعت منحل دی خو ورسته ايمن ظواهري په شام او عراق کې اسلامي دولت لغوه اعلانوي او تر عراقه يې محدودوي.

داعش په تيراه کې

ketabton.com - The Digital Library

د اسلامي دولت ویاند ابومحمد العدناني په یوه غږیز پیغام کې ټول تنظیمونه او امارتونه، جبهات منحل اوبلل او د اسلامي دولت له مشر ابوبکر البغدادي سره یې په ټولو مسلمانانو بیعت فرض اوباله. دا چې عدناني څوک دی ؟ او خبرې یې څومره له دجل، مکر، دوکې، درواغو ډکې دي؟ په دې به وروسته خبرې وکړو خو د ده دا اعلان بی اثره پاتې نه شو او په افغانستان او پاکستان کې یې هم غبرګونونه ولرل چې په لومړي غبرګون کې ورسره په ننګرهار ولایت کې د عبدالرحیم مسلم دوست په نوم یو کس بیعت وکړ او د بغدادي بیعت ته یې د مجاهدینو په مینځ کې تحرکات پیل کړل، لږه موده وروسته په سیمه کې د امارت له صفه هغه شړل شوي مجرمین چې دوسیې یې اوس هم په مربوطه مراجعو کې پرتې دي له دې کاروان سره یو ځای شول.

د تیراه ایجنسۍ په غرنی سیمه کې حافظ سعید خان چې پخوا د تحریک طالبان سره ؤ د بغدادي سره بیعت اعلان کړ او د بغدادي لخوا نوموړی د خراسان والي او عبدالرؤف خادم (ابوطلحه)د ګوانتامو پخوانی بندي یې نایب وټاکل شو. په جلال اباد کې پخواني حزبیان هم له دې کاروان سره په دې نیت یو ځای شول چې د حزب اسلامي مجاهدین خو دا ۴۰ کاله د خلافت غم اخیستي او په دې لاره کې یې د ډیرو مسلمانانو وینې هم توی کړي نو چې خلافت یې کور ته راغی نو څنګه به ورسره نه یوځای کیږي؟

حافظ سعید د استخباراتي کړیو په امر له تیراه څخه راکوز شو او په دې هدف چې جنګ د افغانستان خاورې ته ولیږدول شي د جلال اباد په جنوبي ولسوالیو کې یې کورونه، مرکزونه جوړ کړل. نفوذ یې ورو ورو پراخیده چې بالاخره یې له سیمې د امارت ټول مجاهدین راوشړل او دهغه خلکو په وژلو یې پیل وکړ چې له امارت سره یې همکاري لرله. امارت په لومړي سر کې د دوی سره مخامخ کیدل نه غوښتل خو وروسته یې د پریکنده بریدونو فیصله وکړه چې په څو ورځو کې یې له هغه ټولو ولسوالیو دوی وشړل چې نیولې یې وی. دا چې دوی په جلال اباد کې څه وکړل او څه کوي په آړه یې څه ویلو ته ضرورت نشته خو چې کله امارت د خلافت رهبری ته خط ولیږه نو عدناني د بوش په لهجه په ډیره ګستاخانه انداز امارت ته ځواب ورکړ .

همدا اوس عبدالرحیم مسلم دوست رسنیو ته له هغه څه پرده پورته کړه چې دوی د جلال اباد پتمن ولس سره ترسره کړي. هغه څه چې مسلم دوست پرې اوس اعتراف کوي مور پخوا خبرداری ورکړی ؤ، خو دلته بیا هم مسئولیت د بغداد بعثي جنرالانو ته راجع کیږي هغوی غواړي دلته او هلته د اصیلو جهادي خوځښتونو په وړاندې غله او مجرمین راپورته کړي او حقیقي جهاد وننګوي.

د تیراه داعشي مثلث چې د تیراه له هغو چرسیانو چې حتی خپل فرض لمونځونه یې نه دی زده او د پولې له دې غاړې حزبي باند چې په تیرو ۱۴ کلونو کې یې د قدرت او پیسې لپاره له هیڅ وقاحت څخه سر ونه غړاوه او هغه مجرمین چې د اسلامي امارت په محاکمو کې یې د وژنو، غلاؤو، تښتونو دوسیې پرتې دي جوړ دی؛ د خلافت په دې دومره موده کې یې د پاکستان په خاوره کې هیڅ د پام وړ برید ترسره نه کړ. دا په داسې حال کې ده چې د پولې بلې غاړې ته بیا په سلګونو خلک د دوی له لوري په رښا ورځ

ketabton.com - The Digital Library

له کلي کوره تښتول شوي او لا يې هم درک نه دی معلوم، جرم يې دا دی چې د اشغال او صليب په وړاندې جنګيدونکي مبارز ته يې يا شپه ورکړې يا يې ډوډۍ ورکړې.

هغه زميني حقايق چې يواځې ړوند تري سترګې پټولی شي دا دي چې د تيراه داعشي لوبه د هغه چا لخوا پيل شوی چې دا ۳۶ کاله يې د دې ولس سره په غدر، دوکه، دوه مخی تير کړل او دا ولس د دوی په غدر تر اوسه په اور کې سوځي . آيا هغه څوک بايد په بمونو والوزول شي چې ۵۶ کاله يې د لاړميکالي عبادت کړی او که هغه څوک چې ويښتان يې په توحيد او جهاد کې سپين شوي؟

د خلافت زمريان دې د ننکرهار ميړنی ولس پريږدي د هيرا مندۍ غم دې اوخوري .

د خلافت زمريان دې د ننکرهار ميړنی ولس پريږدي د آی ايس آی سره دې د خپلو هغه ملګرو حساب تصفيه کړي چې د نوښار په سيند کې ماهيانو اوخوړل.

د خلافت زمريان دې د ننکرهار ميړنی ولس پريږدي د آی ايس آی سره دې د خپلو هغه ملګرو حساب تصفيه کړي چې آی ايس آی له زرګونه فوټه بُلندی څخه زمکې ته راخطا کړل او د مرغانو خوراک شول.

د خلافت زمريان دې د ننکرهار ميړنی ولس پريږدي، د حفصه جامعې د هغه پتمنو پيغلو غم دې اوخوري چې تر اوسه يې د مرګ او ژوند درک نه دی معلوم.

د تيراه سيمه پريښودل او د ننکرهار مفتوحه سيمې لاندې کول او د عام ولس خلاف د تيراه شريعت نافذول څه معنی؟

مسلم دوست چې رسنيو ته له څه پرده کړې د هغه څه ۱۰۰ برخه هم نه ده چې هلته له مظلوم ولس سره ترسره شوي دي، هلته حتی د تيراه بدماشان له خلکو غواړي چې د خپلو پتمنو پيغلو د واده واک هم دوی ته ورکړي.

له هغه ځايه چې د وحشت، نشه يي توکو،پوډرو، افيمو، وژنو، تښتونو، غلاؤو، لوټماريو، زانګو ده هغه ځای ته چې د علم، معرفت، وقار، شهامت، زانکو ده څنګه اسلام راتلی شي؟

هوکې په دوی کې ځينې داسې خلک ؤ او شته چې د خلافت په جالبو شعارونو غوليدلي، هغوی په ريښتيا په زړه کې د خلافت غم لري خو دا ډله ځوانان علم نه لري او نبوي ص سيرت يې نه دی مطالعه کړی چې هغه صلی الله عليه وسلم په مدينه منوره کې د خلافت تهداب څنګه ايښی ؤ؟

مور د تيراه او جلال اباد په دواعشو ځکه تبصره کول نه غواړو چې په دې لړه موده کې ولس د دوی کړنې د سر په سترګو وليدې او هغوی يې په خپله په آړه قضاوت کولی شي. مور بايد د دوی د مرکز او منبعې فکر وخيړو او وکورو چې آيا دا فکر او عمل له اسلام سره آړخ لګوي او کنه؟

ketabton.com - The Digital Library

هغه خلافت چې په نبوي منهج وي او د سيرت په کتابونو کې يې ډانچه ښودل شوي، صرف د کتابونو تر پانو محدود نه دی بلکې په تيرو ۱۴ سوه کالو کې يې مورِ عملي نمونې هم ليدلې او د مثال په ډول يې وړاندې کولی شو. دواعش فکر کوي چې د خلافت ډانچه امت نه ده ليدلې نو هغوی چې د بعثي خلافت کومه نقشه وړاندې کوي اسلامي امت به يې اومني ځکه خلافت د دوی په هاند پخوا تخيل ؤ اوس دوی وجود ته راؤړ.

په تيراه کې د خلافت دعوه داران د اسلامي امارت په وړاندې د يوه سازش په توګه کارول کيږي هغوی ته د استخباراتي کړيو له لورې د مرستې په نوم پيسې راځي چې مسلم دوست پرې اعتراف کوي.

شپږم فصل

د اوسنيو او پخوانيو خوارجو ۱۶ مشترک صفات

مورِ د سيرت او تاريخ له کتابونو د پخوانيو خوارجو صفات رانقل کؤو، ستاسې مخې ته يې ږدو، قضاوت تاسې ته پريږدو چې څومره په اوسنيو خوارجو(دواعشو) تطبيقيږي.

(۱) مشابهت اوله وجه تکفير: مسلمانانو ته د کفر نسبت کول د پخوانيو خوارجو خاص خصلت ؤ، نافع بن الأزرق د خوارجو د أزارقه د ډلې مشر ؤ. علامه مبرد او د تاريخ نورو علماؤ د ده هغه فتوی راخيستې چې د بنو هاشمو د يو غلام په سوال کې يې ورکړي وه : فشهد نافع أنهم جميعا في النار، ورأى قتلهم: وقال: الدار دار كفر إلا من أظهر إيمانه، ولا يحل

ketabton.com - The Digital Library

أكل ذبائحهم، ولا تناكحهم، ولا توارثهم: ومتى جاء منهم جاءٍ فعلينا أن نمتحنه: وهم ككفار العرب لا نقبل منهم إلا الإسلام أو السيف.

ژباړه: نو نافع د دوی په آړه ګواهي ورکړه چې دوی ټول به جهنم ته ځي، د دوی وژل لازم دي، هغه اویل: دا (د دوی د مخالفینو وطن) د کفر خاوره ده مګر څوک چې ایمان څرګند کړي، د دوی(مخالفین یې مقصد دی) ذبیحه رواء نه ده. د دوی سره نکا رواء نه ده. له دوی میراث نه وړل کیږي. که له دوی څخه مور ته کوم کس راغلو مور به یې امتحان کؤو. دوی د عربو د کافرانو په څیر دي چې یوازې به ترې اسلام قبلولی شي کنه وژل کیږي به یعنې له دوی څخه جزیه نه شي قبلولی.

(الملل والنحل ج١ص١١٩،الزينة لأبي حاتم صـ٢٨٤،الكامل ج٣ص٢٠٧)

غور وکړئ له اوسنیو خوارجو سره یې مقایسه کړئ، د عدناني بیانونه واؤرئ عیناً د أزرق کلمات کاروي.

عدناني په ١٤٣٦هـ د رمضان په ٥ په یوه بیان کې چې نوم یې ؤ(یاقومنا أجیبوا داعي الله) په ١٦ دقیقه کې داسې وایې: فاحذرْ فإنك بقتال الدولة الإسلامية تقع باالكفر من حيث تدري او لاتدري. ته له اسلامي دولت سره په جنګ کولو په کفر کې واقع کیږې (کافر کیږې) که ته پوهیږې او که نه. عجیبه منطق نه دی؟ که اومنو چې دا دولت اسلامي، مشروع دولت دی نو د اسلامي دولت په وړاندې جنګ خو د شریعت په اصطلا کې بغاوت بلل کیږي نه کفر، په داسې حال کې چې دا دولت مور اسلامي دولت نه بولو.

(٢) د مشابهت دویمه وجه د مسلمانانو وینې تویول: تاریخ اوګورئ پخواني خوارج هم د مسلمانانو وینو ته سخت تږي ؤ. امام طبري لیکي: إنّ الخوارج لمّا خرجوا من العراق، فعدلوا إلى المداين، فجعلوا يقتلون النساء والولدان، ويبقرون بطون الحبالى، ويفعلون أفعالاً لم يفعلها غيرهم.

ژباړه: خوارج چې کله له عراق راؤوتل، مداین طرف ته متوجه شول نو دوی به ښځې او ماشومان وژل، د امیدوارو ښځو خیټې به یې څیرې کولې، داسې کارونه یې کول چې چا نه ؤ کړي.

(تاريخ الطبري ج٣ص٥٠٠)

اوسني خوارج هم وګورئ: په سوریه کې د خلافت عسکرو د محمد فاتح د کورنۍ ښځې او ماشومان هم ونه ښښل بلکې په چاړو یې ذبح کړل.

(٣) دریم مشابهت د اهل الذمة وینه حلاله بلل: پخوانیو خوارجو هم د ذمیانو (هغوی چې د مسلمانانو ذمه یې منلي وي) وینه رواء بلله. د عائشة رضي الله عنها د حدیث یوه ټوټه: قالت عائشة ياإبن شداد فقد قتلهم، فقال والله ما بعث إليهم حتى قطعوا السبيل، وسفكوا الدماء، واستحلوا الذمة الخ.....(مسند احمد حديث رقم٦٥٦،الإرواء للألباني حديث رقم ٢٤٥٩)

ketabton.com - The Digital Library

اوسنيو دواعشو هم په عراق او شام کې د اهل الذمه په حق کې سخت جرايم ترسره کړل او پرته له دې چې دوی يې په وړاندې جنګ کړی وي، دواعشو يې ښځې وينځې وګرځولې.

(۴) علماؤ او د دين امامانو پسې بدرد ويل او د دوی توهينول: په پخوانيو خوارجو کې بل خاصيت د علماؤ اسقاط، د دوی سپکول، توهينول، په دوی پسې سپکې سپورې ويل ؤ. کله چې علي رض ابن عباس رض خوارجو ته ورولېږلو، حرقوص بن زهير خپلو ملګرو ته اويل: ياحملة القرآن إنّ هذا عبدالله بن عباس من لم يكن يعرفه، فأنا أعرفه، هذا ممن نزل فيه وفي قومه (بل هم قومٌ خصمون)(الزخرف:58) فردوه إلى صاحبه ولاتواضعوه كتاب الله.

(تاريخ الطبري ج۵ص۷۴، البداية والنهاية ج۷ص۴۸۳، مسند امام احمد حديث رقم ۶۵۶)

د عراق خوارج هغه علماء، د جهاد امامان په ډيرو سپکو نومونه ياد کړل چې د دوی خلافت يې شرعي ونه باله او دوی د امت لوی لوی علماء توهين او اسقاط کړل.

(۵) پنځم مشابهت د دوی تر مينځ د علماؤ نه شتون: ابن عباس رض خوارجو ته د مناظرې لپاره ورغلو او ورته يې اويل: جئتكم من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم وليس فيكم أحدٌ منهم و من عند ابن عمّ رسول الله صلى الله عليه وسلم وعليه نزل القرآن وهوا أعلم بتأويله(البداية والنهاية ج۷ص۴۸۵)

د دواعشو په صف کې له عراقه تر ليبيا له الجزايره تر افغانستانه، د دوی تر مينځ هيڅ د فتوی اهل عالم شتون نه لري او دا هغه څه دي چې ټول يې مشاهده کولی شو. منځنی ختيځ چې د علم او فضل زانګو ده هيڅ مستند، لوی عالم د دوی سره نه دی ملګری شوی.

(۶) شپږم مشابهت حداثة السن: په خوارجو کې بل مشترک صفت د دوی کم عمري ده: د الله رسول صلى الله عليه وسلم فرمايي: أحداث الأسنان (بخاري ج۲ حديث رقم۶۹۳۰)

د اوسنيو خوارجو په صف کې به هم داسې کسان ډير کم اويني چې عمرونه يې له ۳۰ ، ۳۵ اوښتي وي.

(۷) اوم مشابهت يې د دوی خپل مينځ کې يو او بل په شکوکو وژل: ابو نجدة خارجي چې د دوی يو لوی مشر ؤ، د دوی له خوا اوژل شو (تاريخ الطبري ج۶ص۱۷۴)

عراقي خوارج هم په دې کار کې له دوی څخه شاته نه دي بلکې مورِ مسلسل داسې خبرونه اورو چې دوی په شام او عراق کې خپل په سلګونه غټ غټ قومندانان وژلي .

(۸) اتم مشابهت د دوی د حاکميت له خاورې سوا ټوله دنيا کفر بلل: امام ابن تيمية ليکي: وسموا دارهم دارالهجرة، وجعلوا دارالمسلمين دار كفرٍ وحربٍ(فتاوى ابن تيمية ۱۳ص۳۵)

عدناني په ۱۴۳۶هـ په رمضان کې پخپل صوتي بيان کې په عنوان د (ياقومنا أجيبوا داعي الله) ؤ داسې اويل: د اسلامي دولت

ketabton.com - The Digital Library

له زمکې سوا بله هيڅ داسې ځمکه نشته چې په هغې د الله حکم نافذ وي او هغه دې د مسلمانانو کور اوبللی شي.

(۹) نهم نقض د بيعت: پخوانيو خوارجو به چې له يوه امير سره بيعت وکړ نو هغه به يې مات کړ: لمّا اجتمع الخوارج في بيت زيد الطائي، تدافعوا الامارة حتى رضى بها عبدالله بن وهب فقالوا هاتوها، اما والله لا آخذها رغبةً في الدنيا ولا ادعها فرقاً من الموت فبايعوه(تاريخ الطبري ج۵ص۷۵)

اوسنيو خوارجو هم په خپلو غاړو کې د جهاد د امامانو پراته بيعتونه په ډيرو سستو دلايلو مات کړل.

بغدادي په خپل صوتي بيان کې چې عنوان يې ؤ(باقية في العراق والشام) داسې اويل: مورږ ته له يوې خوا د شيخ ظواهري حکم مخامخ ؤ له بلې خوا د الله حکم، نو مورږ د الله حکم د ظواهري په حکم وړاندې کړ. خو بغدادي نه ده واضحه کړي چې هغه د ظواهري کوم حکم ؤ چې د الله له حکم سره په ټکر کې ؤ.

(۱۰) د خپل اعتقاد لپاره سست او وهمي دلايل راؤړل: ابوالعباس المبرد لوی اسلامي مؤرخ ليکي: أنّ مرداساً ابابلال (وهو أحد الخوارج) لمّا عقد على اصحابه، وعزم على الخروج، رفع يديه وقال: اللهم إن كان ما نحن فيه حقاً؛ فأرنا آيةً، قال: فرجف البيت، وقال آخرون: فارتفع السقف؛ فذكر رجلٌ من الخوارج ذالك لأبي العالية الرياحي يُعجبه من الآية، و يُرغبه في مذهب القوم؛ فقال أبوالعالية: كاد الخسف ينزل بهم، ثم أدركتْهم نظرة الله .

ژباړه: مرداس ابوبلال خارجي چې کله د وتلو اراده وکړه او خپل ملکري يې راټول کړل، لاسونه يې پورته کړل او داسې دعا يې وکړه:

آی خدايه:که زمورږ لاره حقه وي نو مورږ ته يوه نښانه راوښيه، هغه وايي: چې نو کوټه په خوځيده شوه، ځينې وايي چت له کوټې څخه پورته شو، ابوالعالية الرياحي ته يوه خارجي د دې نښانو يادونه وکړه ترڅو هغه پرې دوکه کړي خو ابوالعالية ورته اويل: نږدې وه چې دوی په زمکه ننوتلي واي خو د الله نظر دوی بچ کړل.(الكامل في التاريخ ج ۵ص۶۴)

عيناً همدا حال د اوسنيو دواعشو دی چې د مسلمانانو په وژنه کې په داسې سستو دلايلو اتکاء کوي او دا د ځان د حقيت دليل بولي.

(۱۱) د جهاد او علم په امامانو باندې طعن ويل: پخوانيو خوارجو به هم په علماء او د دين په امامانو پسې بدرد ويل : ابن كثير ليکي: أنّ ابنَ مُلجِم والبرك بن عبد الله التميمي وعمرو بن بكر التميمي أيضا - اجتمعوا فتذاكروا قتل علي إخوانهم من أهل النهروان فترحموا عليهم وقالوا: ماذا نصنع بالبقاءِ بعدهم؟ كانوا لا يخافون في اللهِ لومة لائم، فلو شرينا أنفسنا فأتينا أئمة الضلال فقتلناهم فأرحنا منهم البلادَ.....

ابن ملجم او برک بن عبدالله او عمر بن بکر سره راټول شول او ويې ويل: مورږ د خپلو ملکرو له شهادت وروسته ژوند څه کؤو؟ زمورږ دا شهيدان شوي ملکري د الله په لار کې د چا له ملامتيا نه ويريدل نو که مورږ د خپلو ځانونو سودا وکړو او د کمراهۍ دغه امامانو ته (چې هدف يې علي، معاوية، عمرو بن العاص رضى الله عنهم ؤ) ورشو او د مسلمانانو شارونه د دوی

ketabton.com - The Digital Library

نه په راحت کې کړو..... (البداية والنهاية ج٧ص٣٦١)

امام ابن تيمية ليكي: واصل ضلالهم، إعتقادهم في أيمة الهدى وجماعة المسلمين أنهم خارجون عن العدل وأنهم ضالون(فتاوى ابن تيمية ج٢٨ ص ٤٩٧)

عدناني په خپل يوه غږيز پيغام کې چې عنوان يې دی (لن يضروكم الا أذى)، ابوقتادة او شيخ مقدسي ته د حمير العلم نسبت کوي .

(١٢) د خپلو مخالفينو ښځې وينځې بلل اګر که هغوی اهل قِبله وي هم: فالبهسية من الخوارج استحلت القتل والسبي على كل حال. له خوارجو څخه د بهيسيه ډله مريبتوب او وژل په هر حال رواء بولي. (الملل والنحل ج١ص١٢٦،مقالات الإسلاميين ص١١٦)

علامه زركلي ليكي: فقد جاء عند اليعقوبي أن نجدة بن عامرالحنفي الحروري قد خرج في ايام ابن الزبير بناحية اليمامة، ثم صار الى الطايف، فوجد ابنة لعمرو بن عثمان بن عفان قد وقعت في السبي فاشتراها من ماله- بمائة الف درهمٍ- وبعث بها الى عبدالملک. نجدة بن عامر الحنفي الحروري: د خوارجو يو مشر ؤ د ابن الزبير د خلافت په ورځو کې له هغه نه د طايف خواته لاړو، هغه د خوراجو لخوا په نيول شويو وينځو کې د حضرت عثمان بن عفان رض لمسی هم پيدا کړه، هغه يې په يو لک درهم واخيسته او عبدالملک ته يې ورولېږله. (الأعلام للزركلي ج٨ ص١٠)

په عراق کې دواعشو د خپلو مخالفينو ښځې وينځې وکرځولې او په سوق النحاس کې يې خرڅې کړې او په ټوپټر او نورو خواله رسنيو کې يې د هغوی عکسونه په ډير وياړ خپاره کړل. ابوبکر شيکاؤ داعشي په رنا ورځ د خلکو له کليو ښځې په دې دليل بوتلې چې دوی په انتخاباتو کې شرکت کړی او دوی مرتد شوي دي.

(١٣) د اهل قِبله ؤ مالونه حلال بلل:کله چې خوارجو حضرت عثمان رض شهيد کړ نو د هغه د کور ټول مال دوی د استحلال په عقيده لوټ کړ او ټول بيت المال يې هم له ځان سره يوړ.

(تاريخ الطبري ج٤ص٣٩٣)

نې خوارج هم د خپلو مخالفينو مالونه حلال بولي چې ښه بيلکه يې د کوټ، بټي کوټ، نازيانو، او آچين په ولسواليو کې د مسلمانانو مالونه او څاروي غنيمت بلل ؤ.

(١٤) قياس کول: پخوانيو خوارجو به هم قياس کولو علامه ابن حزم ليكي: إنّ الخوارج المتقدمون يستدلون بقتال الصديق في قتال الردة، على جواز مقاتلة اهل القبلة، وقالوا: إن هذا كما فعله ابوبكر بأهل الردة.

بل ځای نوموړی ليكي: انهم اشد الناس عملا بالقياس

ژباړه: پخوانيو خوارجو به هم د اهل قبله (مسلمانانو) په وژلو کې د ابوبکر صديق په قتال دليل نيولو او په هغې يې قياس کولو.(الملل والنحل ج١ص١١٦)

ketabton.com - The Digital Library

په تويټر کې يوه داعشي په خپل ديوال داسې ليکلي ؤ: له رسول الله ص وروسته خلافت د مرتدينو په وژلو قايم شو نن به هم خلافت د مرتدينو په وژلو قايميږي. دوی اوس هم د مسلمانانو په وژلو کې د ابوبکر صديق له قتال څخه استدلال کوي او په هغې قياس کوي.

(۱۵) د اصلي کافرانو څخه د مسلمانانو وژل مهم بلل: امام طبري د بهلول قيصه داسې بيانوي: قال بهلول: نبدأ بهذا العامل الذي قال ما قال، فقال له أصحابه: نحن نريد قتل خالد، فان بدأنا بهذا شهرنا وحذرنا خالد وغيره، فننشدك الله ان تقتل هذا فيفلت منا خالد الذي يهدم المساجد، ويبني البيع والكنائس، ويولي المجوس على المسلمين، وينكح أهل الذمة المسلمات، لعلنا نقتله فيريح الله منه قال:

والله لا أدع ما يلزمني لما بعده، وأرجو أن أقتل هذا الذي قال لي ما قال وأدرك خالدا فاقتله، وإن تركت هذا وأتيت خالدا شهر أمرنا فأفلت هذا، وقد قال الله عز وجل: «قاتلوا الذين يلونكم من الكفار وليجدوا فيكم غلظة» ، قالوا: أنت ورأيك فأتاه فقتله.

ژباړه:بهلول خارجي چې کله د خالد د وژلو اراده وکړه نو ويې ويل: لومړی بايد د خالد دا نماينده اوژنو، خو ملګرو ورته اويل: چې که مورږ دا اوژنو نو خالد به خلاص شي، هغه سړی چې جوماتونه ړنګوي، او ګرجې او د يهودانو عبادتځايونه جوړوي، هغه له مجوسانو سره مولاة کړی، او ذميانو ته مسلماني ښځې په نکا ورکوي، نو مورږ به هغه اوژنو او الله به مو ترې په راحت کې کړي، .....

(تاريخ الطبري ج۷ص۱۳۰)

پورته عبارت اوګورئ او بيا د خوارجو وياند عدناني صوتي بيان هم واؤرئ کوم فرق به پکې محسوس نه کړای شی.

(۱۶) د ائمه ؤ او عالمانو لپاره بد لقبونه کارول: كان الخوارج يسمون الخليفة الراشد، عثمان (النعثل) والراسبي يسمى علياً (الجاحد) من شدة بغضه له. خوارجو به حضرت عثمان رض ته نعثل او علي رض ته جاحد ويل(البداية والنهاية ج ۱۰ ص ۳۰۷،۲۸۲،۵۹۱)

نعثل په مصر کې يو اوږدې ږيرې والا احمق سړی ؤ چې په عربو کې د هر هغه انسان چې احمق وي او ږيره يې اوږده وي، ويل کيږي (تكملة المعاجم العربية ج۱۰ص۲۵۲)

د ابومسيلمة العدناني بيان چې عنوان يې دی (قل للذين كفروا ستغلبون) واؤرئ: نومورې په ۱۶ دقيقه ۱۰ ثانيه کې د شيخ ظواهري په آړه داسې وايي: وإن سفاهة الشيخ لا حلم بعده:وإن الفتي بعدالسفاهة يحلم:

په دې اشعارو کې عدناني په وار وار ظواهري ته د سفيه(احمق) نسبت کړی.

د نينوی ولايت اعلامي مکتب يوه ويډيو خپره کړې چې پکې يې امير المؤمنين ملا منصور ته د عميل او طاغوت القاب کارولي.

ketabton.com - The Digital Library

مورِ په وروسته لیکنو کې د دواعشو تنقیدونه څیړو چې دا تنقیدونه علمي دي او که منبع یې واشنګټن پوسټ او نیویارک ټایمز دی او د هغه استخباراتي کړیو له لورې واردیږي چې تیر ۱۴ کاله امارت ورسره په جنګ تیر کړل؟

اووم فصل

د داعش له لورې په اسلامي امارت تنقیدونه او د هغې مستند ځوابونه (علمي څیړنه)

د داعش د میډیایي جنګ په اړه وروسته خبرې کوو خو داعش په میډیایي برخه کې رسمي او غیررسمي ستوډیوګانې، ویبپاڼې، لري چې د هغې لارې خپل درېځ نورو ته رسوي. زه (لیکوال) یو له هغو کسانو څخه یم چې د داعش میډیا له ډیره وخته تعقیبوم، له هغه وخته چې دوی خلافت نه ؤ اعلان کړی. دابق، وکالة الانباءالحق، اعماق، مؤسسة الفرقان، ترجمان الاساورتي،او.....نور ډیر رسمي او غیررسمي میډیایي منابع لري. د اسلامي امارت په اړه په لومړي سر کې د دواعشو رسمي ویب پاڼې المنبرالاعلامي الجهادي (پلیټ فورم میډیا) د اسلامي امارت د خبرونو مرکو او اعلامیو لپاره یوه ځانګړې کړکۍ درلوده، خو دا هر څه هغه وخت ناڅاپه بدل شول چې کله دوی د اسلامي امارت له بیعت څخه نهیلي شول او دلته د حافظ سعید خان باندې بیعت ورډالی کړ. د اسلامي امارت خلاف لومړۍ د داعش غیررسمي منابعو سنګر ونیؤو وروسته یې په ټولنیزه میډیا؛ فیسبوک، ټویټر کې پراخ تبلیغاتي جنګ پیل کړ.

څه موده وړاندې د دواعشو په اصطلا؟ د فرات ولایت اعلامي مکتب یوه ویډیو نشر کړه چې په اسلامي امارت پکې لاالهالي تنقیدونه شوي ؤ، په ټویټر کې د ابوطالوت الخراساني، او طاهرجان، او محب حکیم الله په نومونو حسابونه د دې لپاره جوړ شوي دي؛ تر څو د امارت یو مکروه تصویر وړاندې کړي. دوی تل په بیلابیلو ډولونو خپل تنقیدونه عیاروي. مورِ په دې لیکنه کې دې تنقیدونو ته ځواب وایو، مورِ د دوی ټول تنقیدونه لومړۍ وار په وار رانقل کؤو.

په هغه ویډیو کې چې د فرات ولایت د اعلامي مکتب لخوا د داعش په رسمي آدرس نشر شوي ده، خبرو کونکی خارجي داسې وایې: آي په خراسان کې زمورِ وروڼو: دا فتنې صفونه پاکوي او د دې فتنو په سبب به منافقین ځرکندیږي او دوی به خپل کفر په ډاګه کوي(دلته په ویډیویی مقطع کې د جلال اباد مظلوم بندیان ښودل کیږي چې په بمونو الوځول کیږي) دوی به د کفارو او صلیبیانو صف ته ګډیږي او په دې سره به له مؤمنانو څخه جدا کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

نوموړی وړاندې د دې عنوان لاندې چې (د طالبانو د درواغو رسوا کیدل) داسې وایي: موږ چې د ملا عمر د وفات په آړه کوم څه اوریدلي ؤ هغه اوس راته ثابت شول چې نوموړی کلونه پخوا وفات شوی دی. دا هغه مشکل ؤ چې طالبان ورسره له پخوا مخامخ ؤ. د اختر منصور له ټاکل کیدو وروسته هغه چې د ایران دوست دی او د نړیوال کفر سره په نرمۍ شهرت لري، موږ پوه شؤو هغه پیغامونه چې کافرو دولتونو، د ملګرو ملتونه کفري اداړې، امریکا، اروپا، ته لیږل کیږي او هغوی ته پکې ډاډ ورکول کیږي، هغه پیغامونه چې له نړیوال کفر سره په خواخوږۍ ډک دي، هغه پیغامونه چې د الله د دین لوړوالی پکې نشته، ایران ته اسلامي دولت ویل، د حماس او شیعه ؤ په آړه موقف، نورو طاغوتي دولتونو ته اسلامي دولتونه ویل. دالله فضل دی چې په ټولو خبرو موږ پوه شؤو. د ملا عمر په نوم پیغامونه د طاغوت قوتونو لخوا نشریدل. نو موږ ویلی شو چې استخباراتي کړیو (چې هدف یې آی ایس آی ده) د طالبانو د شورۍ او فیصلو په ارګان کې نفوذ کړی دی، او روافضو او شیعه ؤ په طالبانو کې ریښې غځولي دي او د دوی ټول فرامین د دوی له لورې او د دوی په خوښه صادریږي.

په دې ویډیو کلیپ کې دا خارجي درې ډوله تنقید کوي

۱. ملا عمر وفات شوی ؤ نو طالبانو ولې د هغه د وفات خبر پټ ساتلی ؤ؟

۲. ملا منصور د پورته یاد شویو علتونو په اساس د مشرۍ وړ نه دی.

۳. طالبان د آی ایس آی ایجنټان دي او دوی امریکا او نورو کافرو دولتونو ته استازي لیږلي دي، دوی حماس، شیعه کافر نه بولي، دوی قطر او نور طاغوتي نظامونه مسلمان بولي.

ابوطالوت الخراساني، چې یو مجهول الهویة کس دی په ټولنیزو شبکو کې د امارت په وړاندې پراخ پروپاګند ته ګومارل شوی دی د لاندینۍ عنوان لاندې داسې وایي:

زموږ قبیله په خوست، پکتیا او پکتیکا کې میشت دي، موږ د طالبانو سره ډیرې قربانۍ ورکړي ځکه موږ فکر کاوه چې دا یو اسلامي خوځښت دی چې د فساد په وړاندې یې قیام کړی دی. هلته چې صلیبیان افغانستان ته راغلل نو دوی یې په وړاندې

ketabton.com - The Digital Library

جهاد پيل کړ مورِ هم د دوی سره يو ځای د جهاد په صف کې ودريدو، خو له ۲۰۰۸م کال وروسته مو د دوی په کړنو شکونه پيدا شول. دوی د شريعت او خلافت په قيام کې جدي نه ؤ، دوی غوښتل چې صرف د کابل په عرش کيني خو چې په هره بيه وي.

نومورِی وړاندې د هغه علتونو يادونه کوي چې د ده د پورتني سوال ځواب دی.

(۱) طالبان يو قومي او وطني خوځښت دی چې د پوښتنو څخه جوړ دی او د پوښتون د قدرت لپاره د جهاد په نوم جنګ کوي.

(۲) د طالبانو ډيرې غړي فاشيست او متعصب دي او د نورو قومونو لکه تاجک، ازبک، هزاره، مجاهدينو سره دشمني لري.

(۳) له طالبانو سره د عالمي جهاد اصلا سوچ نشته بلکې دا يو قومي تحرک دی چې په کابل واک غوړي.

(۴) طالبان په خلافت او د نړۍ په کوټ کوټ کې د مسلمانانو له قضاياؤ څخه په دفاع باور نه لري.

(۵) طالبان د القاعدې مشرانو ته په دې دوکه ورکوي چې له دوی سره به په عالمي جهاد کې ونډه اخلي.

(۶) طالبان په اسلامي نړۍ کې د فاسدو او مزدورو حکومتونو مشروعيت ته قايل دي.

(۷) طالبان په ديپلوماسۍ او سياست باوري دي، اګر که له شرعي اصولو سره په ټکر کې وي هم.

(۸) طالبان ملګري ملتونه او اروپايي ټولنه او نورې کفري نړيوالې مؤسسې مستقلې اداړې بولي.

(۹) طالبان د سايکس-بيکو سرحدي ټرون ته ژمن دي.

(۱۰) طالبان د خليج فاسد دولتونه مشروع حکومتونه بولي.

(۱۱) طالبان پاکستان او ايران په راتلونکي کې په اقتصادي او نظامي برخه کې کډ شريکان بولي.

(۱۲) تير ۱۴ کاله ټول هغه پيغامونه چې د ملا عمر له آدرسه نشريدل جعلي ؤ او په مورِ يې منل لازمي ؤ.

(۱۳) طالبان باور نه لري چې روافض او شيعه مشرکين دي.

(۱۴) طالبان په نړيوالو ټرونونو باور لري هغه ټرونونه چې د مسلمانانو د کمزورۍ او د کفارو د واکمنۍ سبب ګرځيدلې دي.

(۱۵) طالبان په هغه خلافت باور نه لري چې اسلامي دولت قايم کړی دی.

(۱۶) د طالبانو ځينې مشران د پاکستاني استخباراتو سره تړلي دي.

ketabton.com - The Digital Library

(۱۷) طالبانو له هغو پاکستاني علماؤ څخه مالي او افرادي ملاتړ تر لاسه کوي چې په پاکستاني پارلمان کې چوکۍ لري.

(۱۸) طالبان په ډیورنډ کرښه باور نه لري خو په نورو پولو باوري دي.

(۱۹) طالبان په افغانستان کې یو پاکستانی ریاست قایمول غواړي.

(۲۰) طالبان محمد مرسي ته د خواخوږی پیغام لیږلی ؤ، او اخوان المسلمین مسلمان بولي .

(۲۱) طالبان د قطر دولت ورور دولت بولي او هلته یې دفتر جوړ کړی.

(۲۲) طالبانو کافرو دولتونو ته د ډاډ او اطمنان پیغامونه لیږلي دي.

(۲۳) طالبانو څو وارې کافرو دولتونو ته سفرونه کړي او د کفارو په غونډو کې یې کډون کړی دی.

(۲۴) طالبان د پاکستان په ښارونو کې ارام ژوند کوي او په بدل کې پاکستانی دولت کافر نه بولي او په خلاف یې مبارزه جهاد نه بولي.

دواعش په اسلامي امارت نور ډیر تنقیدونه لري خو هغه اصلا ځواب ته اړتیا نه لري ځکه هغه تنقیدونه پخپله د دوی فکري انحراف په ګوته کوي د مثال په ډول؛ مورږ به په وروسته لیکنو کې هغه ویډیو درسره شریکه کړو چې ابومحمد التونسي د داعش د حسکة ولایت شرعي او ابومصعب التونسي د دیرالزور شرعي او ابو اسامة العراقي د حسکة ولایت والي په خپل مینځ کې خبرې کوي او دوی طالبان مرتدین بولي ځکه هغوی عبدالحکیم مجاهد ملګرو ملتونو ته د سفیر په توګه لیږلی ؤ او اسامه بن لادن ځکه مرتد ؤ چې د طالبانو د مرتد دولت په ارتداد چپ ؤ العیاذ بالله.

مورږ په وروسته لیکنه کې د دې سوالونو علمي ځیړنه کؤو.

د خوارجو د تنقیدونه څخه په مجموع کې لاندې ټکي باید ځواب شي.

(الف) اسلامي امارت له ټولو ګاونډیانو سره ښه سلوک غواړي، په داسې حال کې چې ځینې ګاونډیان د مسلمانانو په ربړولو او ځورولو بوخت دي، ولې؟

(با) اسلامي امارت په قطر کې سیاسي دفتر جوړ کړ، ولې؟

(ج) د اسلامي امارت نمایندګان په نړیوالو کنفرانسونو کې برخوال شول او له جنګیدونکو کافرانو سره یې په یوه میز ډوډۍ اوخوړله، ولې؟

(د) د اسلامي امارت زیاتره غړي په پاکستان کې آرام ژوند کوي، ولې؟

(هـ) اسلامي امارت له آی ایس آی سره خوږې اړیکې لري، ولې؟

ketabton.com - The Digital Library

(و) اسلامي امارت ايران اسلامي دولت بولي، له حماس سره خواخوږي ښيي، مرسي مشروع مشر بولي، ولې؟

(ز) اسلامي امارت ټولې کفري نړۍ ته ډاډ ورکوي چې د دوی لپاره خطر نه دی، ولې؟

( ) اسلامي امارت په پولو باور لري، نړيوال جهاد ته باوري نه دی، ولې؟

وړاندوينه

له نبوي ص هجرت څخه وروسته کفار په درو ډلو اويشل شول، لومړۍ ډله يې جنګيدونکي کافر، دويمه ډله يې د ټرونونو لاندې کافر، دريمه ډله يې منافقين ؤ، د لومړۍ ډلې سره جنګ تاکل شوی ؤ، د دويمې ډلې سره جنګ نه ؤ بلکې د مسلمانانو په څير تعامل ورسره کيده په استثناء د ځينې احکامو، خو د منافقانو سره بيا ممتازانه چلند دا ؤ چې هغوی رسول الله صلى الله عليه وسلم آن د مسلمانانو له ټولنې هم ونه شړل.

امام بخاري پخپل سند سره د عبدالله بن عباس څخه نقل کوي چې فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل:«كان المشركون على منزلتين من النبي صلى الله عليه وسلم والمؤمنين، كانوا مشركي اهل حرب يقاتلهم ويقاتلونه، ومشركي اهل عهد لايقاتلهم ولايقاتلونه،» بخاري ج٢ صـ٣٠٥

كه نبوي سيرت ته وکتل شي، له هجرت وروسته نبي کريم صلى الله عليه وسلم له ځينې کافرانو سره معاهدې، مصالحې، موادعې، ټرونونه وکړل او له ځينو نورو سره يې هغه جنګ ته دوام ورکړ چې د دوی له لورې د مسلمانانو په خلاف اعلان شوی ؤ. محمد بن كعب القُرَظِي وايي: لما قدِم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينةَ وادعَتْه يهودَها كلُّها ، وكتب بينه وبينهم كتاباً ، وأَلحَقَ كلَّ قومٍ بحُلَفائهم . وكان فيما شَرَط عليهم ألاّ يُظاهروا عليه عدواً ، ثُمّ لما قدم المدينة بعد وَقعةِ بدرٍ بَغَتْ يهود ، وقطعَتْ ما كان بينها وبين رسولِ الله صلّى الله عليه وسلم من العهد ، فأرسل إليهم فجمعهم وقال : « يامعشر يهود أسلموا تَسلموا ، فوالله إنكم لتعلمون أنِي رسول الله » (السيرالكبير ج٥صـ١٦٩٠، الأم للإمام شافعي ج٤صـ١٢٩)

ketabton.com - The Digital Library

د لغت په کتابونه کې د ټرون لپاره بيلابيل لفظونو په کار راوړل شوي دي، لکه معاهده، مصالحه، موادعه، مهادنه، مواضعه، مهاوده، مسالمه، صلح، استئمان. خو د دوی ټولو په مينځ کې مهادنه موادعه معاهده مسالمه استئمان، صلح مترادف دي (شرح حدود ابن عرفة ج۱ ص۲۲۶)

پورته مرادف اصطلاحات احناف داسې تعريفوي : له مشرکينو سره معلومه موده جنګ بندي کول، له کافرانو سره معلومه موده په بدل د مال کې يا بغير له بدل څخه صلح کول(السيرالکبير ج۵ ص۱۷۸۰، تحفة الفقهاء للسمرقندي ج۳ ص۵۰۷)

حنبليان يې داسې تعريفوي: تر يوې مودې په جنګ نه کولو سره موافقه کول (الانصاف للمرداوي ج۴ ص۲۱۱، کشاف القناع للبهوتي ج ۳ ص۱۰۳)

مالکيان يې داسې تعريفوي: له حربي کافر سره د يو مسلمان هغه ټرون چې په اساس يې جنګ بند شي او کافر د اسلام د حکم لاندې نه وي(الشرح الکبير للدردير ج۲ ص۲۰۶)

شافعيان يې داسې تعريفوي: له کافرانو سره د سولې هغه ټرون چې تر يوې مودې پکې جنګ بندي شوي وي ، په عوض وي يا بې عوضه (فتح الباري ج۶ ص۲۵۹، مغني المحتاج ج۴ ص۲۶۰)

د کفارو سره د جنګ بندی دلايل

امام محمد رح وايي: ژباړه: په هغه صورت کې چې له مسلمانانو سره د کفارو په وړاندې د جهاد کولو وس وي، نو موادعه (جنګ بندي) ورسره رواء نه ده ځکه په دې سره يا خو فرض جهاد صورةً او معنیً پاتې کيږي، يا وروسته کيږي، چې دواړه کاره د امير لپاره له ضرورت پرته ناروا دي، ځکه الله تعالی فرمايي:وَلاتَهِنُوا وَلاتَحزَنُوا وأَنتُم الأَعلَونَ إِن كُنتم مُومِنِين* او فرمايي: فلاتَهِنُوا وتدعُوا إِلى السَّلمِ وأنتم الأَعلَونَ* (او تاسې مه سستيږئ او مه خفه کيږئ، تاسې به سرلوړي وی که مؤمنان وی، او مه سستيږئ او دوی سولې ته مه رابولئ او تاسې به سرلوړي وی) او په هغه صورت کې چې له مسلمانانو سره قوت نه وي او په جهاد قادر نه وي نو په داسې حالت کې موادعه(له کافرانو سره جنګ نه کول) رواء دي ځکه په دې کې بيا د مسلمانانو خير دی (السيرالکبيرج۵ ص۱۶۸۹، مبسوط السّرخسي ج۱۰ ص۸۶، تبيين الحقايق ج۳ ص۲۴۵-۲۴۶، تفسير أحكام القرآن للجصاص ج۳ ص ۷۰-۴۲۸،۶۹-۴۲۹)

وإِن جَنَحُوا لِلسَلمِ فَاجْنَحْ لَها وَتَوَكَّلْ عَلَى الله* فَفِي الآيةِ الكريْمةِ دَلالةٌ عَلى مَشْرُوْعِيَّة المُصالحةِ والمُوادَعَةِ إذا طَلبها المُشركُونَ ومالُوْا إليها وإذا كان فِي الصلحِ مصلحةٌ فلا بأسَ أن يَبتَدِئَ المسلمون إذا إحتاجُوا إليهِ. ژباړه: «که دوی سولې ته چمتوالی اوښودو نو ته هم سولې ته مايل شه » دا عزتمن آيت کې لاسوند دی د دې لپاره چې له کافرانو سره سوله، جنګ بندي رواء ده، خو که کله په سوله کې د مسلمانانو لپاره خير وي او دوی سولې ته ځې وي، نو بيا که مسلمانان لومړی د سولې وړاندیز

ketabton.com - The Digital Library

وکړي هم څه باک نشته (تفسير الطبري ج١۴ صـ۴٠، تفسير البغوي ج٣ صـ٣٧٣، أحكام القرآن للجصاص ج ٣ صـ٧٠-۶٩، فتح الباري ج۶ صـ٢٧۵ ،عمدة القاري بشرﷺ البخاري ج ١۵ صـ٩۵)

امام شافعيرﷺ او امام محمدرﷺ له محمد بن كعب القُرَظي څخه آثر نقل کړی:لما قَدِم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينةَ وادَعَتْه يهودها كلُّها وكتب بينهم كتاباً الخ«كله چې رسولص مديني منوري ته راغی له ټولو يهودانو سره يې جنګ بندي وکړه او يو خط يې ورسره وليکه(السير الكبير ج۵ صـ١۶٩٠، كتاب الأم للشافعي ج۴ صـ١٢٩)

له کافرانوسره جنګ بندي او له هغوی څخه د پيسو بدل کې د سولې په غوښتو علماء له دې حديث څخه دليل راوړي: امام ابن سعد، ابن اسحاق، ابويوسف، عبدالرزاق، بيهقي، واقدي په خپلو خپلو سندونو سره نقل کوي: أَرسل النَّبي صلى الله عليه وسلم فِي غَزوةِ الخندق إلى عُيَيْنةَ بن حِصنٍ والحارثِ بنِ عَوْفٍ وهما قائدا غَطفان « أَرَأَيتَ لو جعلتُ لَكَ ثُلث ثِمار الأَنصار أَتَرجِعُ بِمن مَعك مِن غَطفانَ وتُخذِّل بين الأحزاب؟» وفي رِوايةٍ أرسل عُيَينةُ بن حصنٍ إلى النبي صلى الله عليه وسلم: تُعْطينا ثمرالمدينةِ هذهِ السَّنةَ ونَرجِعُ عنك و نُخلِّي بينك وبين قومِك فتُقاتلهم؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا، قال: فنِصفُ الثَّمر؟ فقال: نعم. ثم أرسل رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى سعد بن مُعاذ وسعد بن عُبادة وهما سيِّدا الحيَّينِ فاستشارهما، وقد حضر عُيينةُ وقال: أُكتُبْ بَيننا كتاباً فدعا رسول الله صلى الله عليه وسلم بِصَحيفةٍ و دَواةٍ ليكتب بَينهم فقالا يارسول الله أُوحِيَ إليك في هذا؟ فقال: لا، ولكني رَأيت العَرَبَ قد رَمَتْكُم عَن قوسٍ واحدةٍ، فقلت أَرُدُّهم عنكم. فقالا: يارسول الله والله إنَّهم ليأكلون العِلْهِزَ في الجاهليَّةِ من الجهد، وما طعموا منّا قَطُّ أَن يأخُذوا ثَمرةً إلا بشِراءٍ أو قِرَى فحين أكرَمنا الله و هَدانا الله بِك و أيَّدنا بِك نُعطِيْ الدنيَّة؟ لا نعطيهم إلا السَّيف فشقَّ رسول الله صلَّى الله عليه وسلم الصحيفةَ وقال: اذهبوا لا نعطيكم إلا السيف.

ژباړه: عيينة او حارث ته رسول الله صلى الله عليه وسلم پيغام وليږلو، كه مور تاسې ته د مديني د انصارو له كجورو څخه دريمه دركړو، تاسې به غطفان له مور څخه واپس کړی، چې احزاب (قبايل) شكست اوخوري؟ په بل روايت کې دي چې عيينة رسول الله ته ځواب وليږلو، كه ته مور ته د مديني له ميؤو څخه د دې كال ټوله ميوه راكړې مور به لاړ شو او تا او ستا قوم به سره پريږدو، د الله رسول ورته اوفرمايل: نه، هغه اويل نو نيمې؟ د الله رسول ورته اوفرمايل: هو. بيا رسول الله صلُّى الله عليه وسلم د دؤو قبيلو مشرانو سعد بن معاذ او سعد بن عبادة ته خبر وليږلو. له دوی سره يې مشوره وكړه چې عيينة هم ناست ؤ، عيينة اويل: چې خط وليكئ . د الله رسول كاغذ او سيې راوغوښته ترڅو خط وليكي. دوی دواړو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اويل: يارسول الله تاته په دې آړه وحي شوي ده؟ رسول اللهص اوفرمايل: نه خوما چې وليدل چې ټول عرب تاسې له يوې ليندې څخه ولې نو ما وغوښتل دوی له تاسې وكرځوم، دوی دواړو اويل: يارسول الله په الله قسم دوی به په جاهليت کې له ډيرې لوړې غټ ملخان خوړل، او له مور څخه يې كجورې له بېې او ميلمستيا پرته نه دي خوړلي، نو چې اوس الله تعالى مور عزتمن كړو او ستا په سبب يې راته هدايت وكړ نو مور به په دين کې سرتيتي او ذلت برداشت كؤو؟ مور دوی ته له تورې پرته هيڅ نه وركؤو. رسول الله صلى الله عليه وسلم خط څيرې كړ او دوی ته يې اويل: لاړ شئ مور تاسې ته له تورې پرته بل څه نه دركؤو.

ketabton.com - The Digital Library

(الطبقات الكبرى لابن سعد ج٢ صـ٧٣،السيرة لابن اسحاق ج, صـ٢٢٣، كتاب الخراج للامام ابويوسف صـ٢٢٥، مصنَّف عبدالرزاق ج٥ صـ٣٦٨-٣٦٧،دلايل النبوة للبيهقي ج٤ صـ٤٣١-٤٣٠،المغازي للواقدي ج٢ صـ٤٧٧.٤٧٩،تلخيص الحبيرلابن حجر ج٤ صـ١٣١، مصنّف ابن ابي شيبة ج١٤ صـ٤٢٠،مجمع الزوائد للهيثمي ج ٦ صـ١٣٢)

په پورته ليکل شوي حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم له عيينة او حارث سره د مال په بدل کې سوله اومنله خو دا چې دا کار د اصحابانو د هوسايۍ لپاره ؤ او دوی د تکليف برداشت ته تيار ؤ نو ځکه يې وروسته لغوه کړ کنه پخپل ذات کې دا عمل رواء ؤ.

د خوارجو د تنقيدونو څيړنه

امام محمد رحمه الله له کافرانو سره موادعه معنوي جهاد بولي: كما أَنّ المُوادعةُ هي جهادٌ معنىً اوهي من تَدبيرِ القِتالِ والجهاد فإنّ على المُقاتل أن يَحفظَ قُوَّةَ نفسه أولاً ثُمّ يطلبَ العُلُوَّ والغلبةَ إذا تمكن من ذالك وربما يكون فِي الموادعةِ حفظ لقوّة المسلمين.

ژباړه:موادعه هم معنوي جهاد دی او د جهاد يو تدبير دی. ځکه په مجاهد لازمه ده چې لومړی خپل قوت وساتي وروسته چې کله ممکنه شي غلبه او فتح اوغواړي. نو ډيرکله په موادعه سره د مسلمانانو قوت وساتل شي(السيرالكبير ج٥ صـ١٦٨٩-١٦٢٤، المبسوط للسرخسي ج١٠ صـ٨٦)

ketabton.com - The Digital Library

خو ځيني بيا تنقيد کوي چې سورة براءة يا سورة توبه د نزول له آړخه آخري سورة دی او د مسالمې يا موادعې حکم په انفال سورة کې بيان شوی چې لومړی ورته ناسخ بللی شو هلته چې د کافر په وړاندې يواځې يو حکم دی يا جزيه يا وژل. خو امام جصاص د دې تنقيد په ځواب کې ليکي: ولم يختلفوا أنّ سورةَ براءة التي فيها الأمرُ بالقِتال من اخرِ ما نزل من القرآن وسورةُ الأنفال وفيها الأمرُ بالمسالمة نزلتْ عَقِيْبَ بَدرٍ بيَّن فيها حكم الأَنفالِ والغنايمِ والعهودِ والموادعاتِ فحكمُ سورةِ براءة مستعملٌ على ما وَرَد وماذكر من الأمرِ بالمسالمة إذا مال إليها المشركون حكمٌ ثابتٌ أيضاً وإنما اختلف حكمُ الآيتينِ لإختلافِ الحالين فالمسالمةُ والمهادنةُ في حالِ قِلّة عدد المسلمين وكثرةِ عدوّهم والحال التي أمر فيها بالقتال هي حال كَثرَة المسلمين على عدوّهم.

ژباړه: د علماؤ ترمينځ په دې آړه څه اختلاف نشته چې سورة براءة هغه چې پکې په جنګ امر شوی له سورة انفال څخه ورسته دی هلته چې په مسالمه امر شوی، چې له بدر وروسته نازل شو پکې د غنيمتونو اوټرونونو حکم ښودل شوی ؤ. نو د سورة براءة حکم په خپل ځای دی او په سورة انفال کې چې د مشرکانو د ميلان په صورت کې د مسالمې حکم هم په خپل ځای دی. د آيتونو ترمينځ تفاوت د حالتونو په تفاوت پورې آړه لري. مسالمه او مهادنه د مسلمانانو د شمير د کموالي او د کافرانو د زياتوالي په صورت کې دی او د جنګ حکم بيا د مسلمانانو د زياتوالي په صورت کې دی. (أحكام القرآن للجصاص ج۳ ص۶۹)

خو آيا د کافرانو سره موادعه يا متارکه هر څوک کولی شي که يواځې امام دا چاره تر سره کولی شي؟

ژباړه او لنډيز: د فقهاؤ غټه ډله(جمهور) په دې آند دي چې معاهدې او ټرونونه يواځې امام يا د هغه نائب سرپرستي کولی شي، خو د يوه ځانګړي اقليم والي له کافرانو سره د مصلحت په بنياد مهادنه کولی شي. ګويا هغه د خپل اقليم په آړه خودمختاره دی خو په شرط د دې چې په مصلحت ولاړ وي.

(حاشية الدسوقي على شرح الكبيرص۲۰۵، جواهر الإكليل ج۱ ص۲۶۹، الخرشي على الخليل ج۳ ص۱۵۰، الأم ج۴ ص۱۱۱، العزيز شرح الوجيزج۱۳ ص۵۵۴، روضة الطالبين ج۱۰ ص۳۴۳، المهذب ج۱۸ ص۲۲۱، مغني المحتاج ج۴ ص۲۶۰، المغني ج۱۰ ص۵۱۲،كشاف القناع ج۳ ص۱۰۳، المبدع ج۳ ص۳۹۸،)

احناف په دې آړه داسې نظر لري: ژباړه او لنډيز: د کافرانو سره د ټرونونو واک يواځې تر امام يا نايب محدود نه دی بلکې د مسلمانانو يوه ډله د امام له اجازې پرته کولی شي چې له کافرانو سره جنګ بندي وکړي ځکه د ټرون بنياد په مصلحت ولاړ دی نو چې د مسلمانانو پکې خير وي رواء دی(بدائع الصنائع ج۹ ص۴۳۲۵-۴۳۲۴، عالمګيري ج۲ ص۱۹۶)

خو بيا هم فقهاؤ د موادعې لپاره د مسلمانانو مصلحت او نفعه شرط بولي.

ژباړه او لنډيز: په ټولو ټرونونو کې د مسلمانانو مصلحت او ګټه شرط دی او دې ټرونونو لره ضرورت وي. د بيلګې په ډول مسلمانان کمزوري وي او کافران ځواکمن وي، مسلمانان پخپلو ځانونو د هلاکت څخه ويريږي ځکه دوی ځواک نه لري يا له

ketabton.com - The Digital Library

نورو وجو په جنګ بندی کې خير وي(المبسوط ج ۱۰ صـ۸۶، بدئع الصنائع پخوانی حواله، فتح القدير ج۴ صـ۲۹۳، تبيين الحقايق ج۳ صـ۲۴۵، البحرالرائق ج۵ صـ۸۵، الفتاوى الهندية عالمكيري ج۲ صـ۱۹۶)

د ټرون او جنګ بندی لپاره موده

د کفارو سره د جنګ بندی ټرونونه په درې ډوله دي.

۱- مؤقته (تريوې معلومې مودې)

۲- مؤبده (دايمي)

۳- غير مؤقته (چې وخت پکې نه وي معلوم شوی او د وخت له تعين پرته وي)

لومړی ډول ټرونونه د ټولو فقهاؤ په اتفاق رواء دي خو موده بايد څومره وټاکل شي؟ په دې آړه د احنافو فقهاؤ رايه دا ده چې د جنګ بندی ټرونونو لپاره ټاکلی شرعي حد نشته بلکې څومره موده چې مصلحت وي او د مسلمانانو لپاره پکې خير وي ټاکل کيدلی شي. احناف فقهاؤ داسې ليکي: ويَري الإمام محمد تبعاً لشَخَيه أبي حنيفة وابي يوسفَ أنَّ المُعاهَدةَ لايَقتصرُ جوازُها على عَشْرَ سنينَ كما هو مَرويٌّ في صلح الحديبيةِ بل إنَّ ذالك مفوَّضٌ إلى رأي إمام المسلمين ومايراه من المصلحةِ والحاجةِ فقد تكون المصلحةُ والخيريةُ في تجاوز هذه المُدَّةِ إلى مُدَّةٍ أخرى أكثر منها أما إذا لم تكن المدَّةُ خيراً ولم يكن فيها مصلحة فإنَّه لايجوز تعَدِّيها.

ژباړه: د امام محمد، د خپل شيخينو، امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په پلوی رايه دا ده چې له کافرانو سره د ټرونونو رواء والی په لس کلنې مودې پورې ترلې نه دي. ځنګه چې دا موده د حديبيې په سوله کې نقل شوي، بلکې دا چاره د مسلمانانو د امام رايې ته سپارل شوي ده، ځکه کله له دې مودې څخه د ټرون په غځولو کې خير وي. هو کله که پکې د مسلمانانو خير نه ؤ نو بيا له دې مودې څخه تجاوز رواء نه دی (مبسوط السرخسي ج ۱۰ صـ۸۶، الخراج للامام ابويوسف صـ۴۲۴، فتح القدير ج۴ صـ۲۹۳-۲۹۴، تبيين الحقايق ج۳ صـ۲۴۵-۲۴۶،البحرالرائق ج۵صـ۸۵، الاختيار لتعليل المختارج۴ صـ۱۹۰، مجمع الانهر ج۱صـ۶۳۷، اللباب شر الكتاب ج۴صـ۱۲۰، عمدة القاري ج۱۴صـ۱۸- ج۱۵صـ۱۰۵،)

مالكي علماء هم د موضوع په آړوند ورته نظر لري: إنَّ مُدَّةَ المُعاهدةِ غيرُ محدودةٍ تُترَكُ لإجتهادِ الإمامِ وقدرِ الحاجةِ ولكن لايطيل فيها لِما فيها قد يحدثُ من قُوَّةٍ للإسلامِ والمسلمين ويندبُ ألا تزيد على أربعةِ أشهرٍ إلا مع العُجز عن الجهادِ وهذا إذا استوت المصلحة في تِلك المُدَّةِ وغيرها وإلا تعيَّن ما فيه المصلحةِ.

ژباړه: يقيناً چې د ټرون موده ټاکل شوي نه ده، د امام اجتهاد ته سپارل کيږي او په حاجت پورې آړه لري، خو بيا هم غوره دا ده چې که له جهاد څخه بې وسه نه وي له ځلورو مياشتو پې وانه روي، خو دا د مصلحت په صورت کې، که کله مصلحت له دې په زياته موده کې ؤ نو بيا مصلحت غوره دی. (جواهر الإكليل ج۱صـ۲۷۰-۲۶۹، الخرشي على الخليل ج۳صـ۱۵۱،

ketabton.com - The Digital Library

المعيارالمعرب للونشريسي ج۶ص۲۰۸، الشر الكبير للدردير ج۲ص۲۰۶ ، الكافي لإبن عبد البر ج۱ص۴۰۴، شرج السنة للبغوي ج۱۱ص۱۶۱، الغاية القُصوى ج۲ص۹۶۱)

له شافعي عالمانو د سكالو په ارتباط دوه رايې نقل شوي.

لومړی چې د خطابي او ابن حجر رايه ده وايي: په دې آړه پريکړه د امام اجتهاد پورې تړل شوي ده. (معالم السنن ج۴ص۸۰، فتح الباري ج۶ص۲۸۲)

دويمه رايه پخپله له امام شافعي او د مذهب له نورو عالمانو نقل شوي ده چې له لسو کالو زياته موده جنګ بندي رواء نه ده.ځېارِه او لنډيز (الأم للشافعي ج۴ص۱۱۰، مغني المحتاج ج۴ص۲۶۰،العزيز شر الوجيز ج۱۳ص۵۵۹-۵۵۶، حاشية البجِيرمي على المنهج ج۴ص۲۵۸، شر السنة ج۱۱ص۱۶۱)

حنبلي او زيدي فقهاء داسې وايي: لاتجوز الهدنةُ إلا إلى مدَّةٍ مقدَّرةٍ معلومةٍ وإن طالت على ما يره الإمام من المصلحة لأنَّ ما وجب تقديره وجب أن يكون معلوماً ولأنها عَقدٌ يجوز في أقل من عشرٍ فجازت في أكثر منها. ولأنَّه إنما عقدها للمصلحةِ فحيث وجدت المصلحة جازت المعاهدة تحصيلاً للمصلحةِ.

ځېارِه: له کافرانو سره جنګ بندي له يوې معلومې نيټې پرته رواء نه ده، هغه موده که ډيره اوږده وي هم، خو چې امام پکې خير ويني، ځکه د کوم شي چې اندازه کول لازم وي د هغې د اندازې تعين هم لازم وي. او بل دا چې دا داسې ترون دی چې له لسو کالو په کمه موده هم رواء دی نو په زياته کې به هم رواء وي، بله داچې دا ترون د مصلحت لپاره کولی شي نو چې کوم ځای کې مصلحت وي دا ترون به هم رواء وي(المغني لإبن قدامة ج۱۰ص۵۰۱۰-۵۰۹،المحرر ج۲ص۱۸۲، الإنصاف ج۴ص۲۱۲، المبدع ج۳ص۳۹۸، كشاف القناع ج۳ص۱۰۴، مطالب اولي النهى ج ۲ص۵۸۷-۵۸۶، البحرالزخار ج۶ص۴۴۸)

خو له حنبلي فقهاؤ څخه دويم روايت دا دی چې له لسو کالو زياته موادعه رواء نه ده خو که مسلمانانو وکړه نو عقد صحيح دی په کم له لسو کالو کې خو له لسو کالو تيريدو وروسته په مسلمانانو وفا لازمه نه ده(حدائق الأزهارمع شرحه السيل الجرار ج۴ص۵۶۵-۵۶۴)

دويم ډول مؤبده يا دايمي جنګ بندي ده.

له کافرانو سره دايمي جنګ بندي د امت د ډيرى عالمانو په آند ناروا ده ځکه په دې سره فرض جهاد پاته کيږي. علامه دکتور وهبة الزحيلي په دې آړه د علماؤ اقوال نقل کړی دی(آثارالحرب ص۶۷۵)

ketabton.com - The Digital Library

خو امام محمد ؒ په سيرکبير کې يوه جزئيه راوړې چې له هغې څخه د دايمې جنګ بندی رواء والی فهمولی شو: وكذالک إن كانت الموادعةُ مؤبَّدةً فليس يَنبغي لهم –للمسلمين- أن يُبطلوا الموادعةُ وإن قدروا على قتالهم حتى يَستَنقِذوا الرهن او يموت الرهن أجمعون او يرضوا بِذالك فحينئذٍ لا بأس بقتالهم لأنَّ المانعَ من النبذِ مراعاةُ حقِّ الرهن و لوجود إحدى هذه الخِصال يَزول المانع(السير الكبير ج۵ص۱۷۵۹-۱۷۵۸)

له کافرانو سره داسې جنګ بندي چې اصلا نيته پکې نه وي ټاکل شوي څه حکم لري؟

له کافرانو سره غير محدوده جنګ بندي

هغه ټرون چې نيته يې نه وي معلومه بلکې تر يوې نامحدودې نيټې پورې پکې جنګ بند شوی وي؛ په آړه يې احناف علماء داسې وايي: لو أنَّ جُنداً من المشركين حاصروا مَدَائِنَ المسلمين فخافهم المسلمون على أَنفسهم و ذَرَارِيِّهم فقال لهم المُسلمون نُصالحكم على أَن نُعطِيكُم عَشرةَ آلافِ دِينارٍ على أن تَنصرِفوا عنَّا إلى بلادكم أو قال المشركون للمسلمين: صالِحونا على أن تُعطونا عشرةَ آلاف دينارٍ على أن ننصرف عنكم فرضُوْا وقبضُوْا ذالك الجُعلَ، ثُمَّ إن المسلمين رأوا منهم عورةً قبل أن يَنصَرِفوا عنهم وبعد ما انصَرفوا قبل أن ينتهوا إلى بلادهم فليس يَنْبغي لهم أن يُغيروا عليهم حتى يَنبُذوا إليهم أو يَرجع القوم إلى بلادهم للصلح والموادعة التي جرَتْ بين الفريقينِ.

ژباړه: په هغه صورت کې چې د مشرکانو يو لښکر د مسلمانانو يو ښار محاصره کړي او مسلمانان له دوی څخه په خپلو ځانونو او اولادونو اوريږي، مسلمانان دوی ته وړاندیز وکړي چې تاسې واپس شئ او له مورِ سره جنګ مه کوئ مورِ به تاسې ته لس زره دينار درکړو، يا مشرکانو مسلمانانو ته دا وړاندیز وکړ، دوی په دې رضا شول او هغه مال يې واخيست خو دوی لا واپس شوي نه ؤ او خپلې خاورې ته نه ؤ رسيدلې چې مسلمانانو له دوی څخه يو خلاف عمل وليد، دوی ته رواء نه دي چې په هغوی حمله وکړي تر څو چې يې په برابره توګه خپل عهد دوی ته ورغورځولی نه وي، ځکه د دوی تر مينځ سوله او موادعه موجوده ده. (السيرالكبير ج۵ص۱۷۱۲-۱۷۱۱، شرح السير الكبير للسرخسي ج۵ص۱۷۱۲)

پورتنی فقهي جزئيه که عراقي خوارج اويني شايد په امام محمد ؒ هم د کفر فتوی ورکړي العياذ بالله. که مسلمانان د کافرانو له لورې محاصره شي او مسلمانان ورته د دوی د خوندیتوب په بدل کې د پيسو وړاندیز وکړي او کافران يې اومني، رواء ده خو هغوی چې په دين کې د افراط او غلو مرتکب شوي، دا عمل به شايد د مسلمانانو له لورې کافرانو ته جزيه اوبولې او فتوی به ورکړي چې مسلمانان دې ټول ځانونه هلاک کړي خو له داسې يوه ټرونه دې ډډه وکړي. خوغراء شريعت بيا د مسلمانانو حالت ته په کتو مسلمانانو ته احکام راليږلي دي.

که له کافرانو يا مرتدينو سره ټرون له نيټې تعين پرته ؤ؛ جواز ته يې احناف علماء تللي دي. د مالکيه يو روايت هم دا دی او د امام احمد بن حنبل څخه هم يو روايت د رواء والي دی. له امام شافعي څخه هم امام مزني د جواز روايت نقل کړی دی(بدائع الصنائع ج۹ص۴۳۲۷، أحكام القرآن لإبن عربي ج۴ص۱۷۸۹، الإفصاح لإبن هبيرة ج۲ص۲۹۶، مختصرالمُزني بهامش الأم ج۳ص۴۰۰-۳۹۹)

ketabton.com - The Digital Library

دشافعيانو او حنبليانو او مالکيانو او زيديانو څخه دويم روايت د عدم جواز دی(الأم ج۴صـ۱۱۱-۱۱۰،المهذب مع تکملة المجموع ج۱۸صـ۲۲۲ ، روضة الطالبين ج۱۰صـ۳۳۶-۳۳۵،الشرقاوي على التحرير ج۳صـ۴۶۷، الوجيز ج۲صـ۲۰۴،المغني ج۱۰صـ۵۰۹، المبدع ج۳صـ۳۹۹، الانصاف ج۴صـ۲۱۳-۲۱۲،کشاف القناع ج۳صـ۱۰۴،مطالب اولي النهى ج۲صـ۵۸۷، الافصا ج۲صـ۲۹۶ ، البحرالزخار ج۶صـ۴۴۹)

خو محققين علماء موادعه او مهادنه له توقيت مطلقه هم رواء بولي چې دا د شيخ الإسلام ابن تيمية او د هغه محقق شاګرد علامه ابن قيم الجوزي نظر هم ده (مجموع فتاوى ابن تيمية ج۲۹صـ۱۴۰ ، أحكام أهل الذمة لإبن القيم ج ۲صـ۴۹۰-۴۷۶،زاد المعاد ج۳صـ۱۴۶)

که کافران له معاهدې ورورسته له مسلمانانو سره دوکه وکړي نو مسلمانانو ته رواء ده چې په دوی حمله وکړي، خو سوال دا دی چې آيا د کافرانو او مرتدينو له لورې د غداری وروسته بيا هم مسلمانان کولی شي چې موادعه وغځوي او يا په دوی لازمه ده چې د غداری په صورت مسلمانان بايد وجوباً له دوی سره جنګ شروع کړي؟

د فقهاؤ په ټولو نصوصو کې هيڅ ځای هم د غدر په صورت په کافرانو د حملې لپاره د وجوب کلمه نه ده کارول شوي بلکې په ټولو مواردو کې د جواز کلمه کارول شوې چې مسلمانانو ته بيا هم د حملې د کولو او نه کولو واک ورکول شوی. لاندې مورِ د فقهاؤ يو څو نصوص وړاندې کؤو.

إنَّ المُعاهِينَ إذا نَقضُوا العهد يَجوز للمُسلِمينَ أن يُقاتلوهم بدون نبذٍ او إعلام..... الخ (بدائع الصنائع ج۹صـ۴۳۲۷-۴۳۲۶، فتح القدير ج۴صـ۲۹۴ ، تبيين الحقائق ج۳صـ۲۴۶ ، البحرالرائق ج۵صـ۸۶، حاشيه ابن عابدين ج۴صـ۱۳۴ ، الفتاوى الهندية ج۲صـ۱۹۷ ، مجمع الأنهر ج۱صـ۶۳۸،) دلته د عهد د ماتوالي په صورت کې د جواز کلمه کارول شوي ده.

امام محمد رح وايي: إذا كان النقض من قِبَلهم إما بجُندٍ أرسلوهم لقتال المسلمين أو برسولٍ أرسلوه إلى إمام المسلمين ينبذون إليه فإنه لابأس للمسلمين هنا أن يُغيروا..... الخ(السير الكبير مع شرح السرخسي ج۵صـ۱۷۰۸-۱۶۹۸) دلته هم د لابأس کلمه کارول شوې ده.

په نورو فقهي عباراتونو کې هم د لابأس او يجوز..... الفاظ کارول شوي دي(الميزان الكبرى ج2صـ۱۸۶ ، الخرشي على الخليل ج۳صـ۱۳۹-۱۴۸ ، الأُم للشافعي ج ۴صـ۱۰۸-۱۰۷ ، روضة الطالبين ج۱۰صـ۲۳۷ ، مغني المحتاج ج۴صـ۱۶۲-۱۵۸ ، المغني ۱۰صـ۵۱۵-۵۱۳،زادالمعاد ج۳صـ۱۳۷-۱۳۶ ، کشاف القناع ج۳صـ۱۳۴-۱۳۲،) په پورته ټولو مصادرو کې د کافرانو له لورې د جنګ بندی د ماتولو په صورت کې هيڅ ځای هم مسلمانانو ته په بدل کې وجوبي حکم نه دی شوی .

لنډيز

له پورتنيو فقهي نصوصو لاندې ټکي څرګندیږي

ketabton.com - The Digital Library

الف.له کافرانو سره د جنګ بندی تړونونه رواء دي.

با – که دا تړونونه د مودې له یاد پرته وي هم رواء دي.

ج – که کافران د مسلمانانو سره په شوي تړون کې غدر وکړي نو مسلمانانو ته په دوی حمله رواء ده.

د – خو په مسلمانانو باندې لازمه نه ده چې په دوی دې حمله وکړي.

هـ - که مسلمان امیر بیا هم له دوی سره په تړون کې مصلحت ویني ورسره کولی یې شي، خو په شرط د دې چې اسلامي شعایر به پکې ساتل شوي وي، او د مسلمانانو د سپکاوي سبب به نه وي.

و - دایمي تړون هم د ځینو فقهاؤ په آند رواء دی.

له همدې ځایه د خوارجو او د اسلامي امارت ضد کړیو هغه تنقید ته ځواب اویل شو چې وایي: اسلامي امارت ولې ځینې کافرو دولتونو ته ډاډ ورکوي او له هغوی سره جنګ نه کوي، چې برعکس اسلامي دولت له ټولې نړۍ سره جنګ اعلان کړی دی؟

دا خو نه له نبوي سیرت سره آړخ لګوي او نه نظامي اصول دي چې ټولو دښمانانو ته په یو وار د جنګ اعلان وکړه بلکې دا هغه احساساتي او جذباتي برخورد دی چې پایلې یې مورِ تل بې ګټې لیدلې. د جهاد ستر قائدﷺ لومړی له قریشو سره جهاد اعلان کړ، په داسې حال کې چې له یهودانو یې سره تړونونه وکړل او وروسته یې د حدیبیې په صلحه کې په یوه منطقي او عمیقه وینا کې قریشو ته داسې پیغام ولیږلو: یا ویحَ قُریشٍ لقد أکلتْهم الحربُ ماذا علیهم لو خَلُّوا بیني وبینَ سائرالعربِ؛ فإن هم أصابوني کان ذالك الذي أرادوا وإن أظهرنيَ الله علیهم دخلوا فِيْ الإسلام وافرین؛ وإن لم یفعلوا قاتلوا وبهم قُوَّةٌ.

ژباړه: قریشو لره دې هلاکت وي دوی خو جنګ اوخوړل، کاش که دوی زه او قریش سره پریښوولي وی، نو که زه مغلوب شوي وای د دوی هدف به خپله حاصل شوی واي، او که زه د خداي په فضل غالب شوی وی نو یا به دوی ټول په اسلام کې داخل شوي وی یا به دوی زما سره په داسې حال کې جنګ کولو چې دوی به قوي شوي ؤ.

زمورِ ډیر مجاهدین ورونه له دې احساساتي شعار څخه ناوړه استعمال شوي دي، چې ګواکې د پولې په دواړو غاړو کې جهاد فرض دی، او دا کوم منطق دی چې په تورخم راپورې غاړه دې جهاد فرض وي او د تورخم پورې غاړه دې جهاد نه وي فرض؟

هوکې دا پرځای خبره ده چې د جهاد فرضیت پوله نه لري خو د جهاد لپاره سنګر تاکل بیا پوله لري او دا له نبوي سیرته ښه واضحه ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټولو محاذونو کې جنګ نه ؤ اعلان کړی او نه یې کافرانو ته داسې تهدیدونه ورلیږل چې له وسه یې پوره نه ؤ. دا یو خارجي او په جهاد کې یو افراطي فکر دی چې مورِ دې په یو وار له ټولې نړۍ سره جنګ اعلان کړو. هغوی چې له ټولې نړۍ سره جنګ اعلان کړ او ټول صلیبیان یې په لوی لاس ځان ته متوجه او یو وار بیا یې د دوی پاشل ائتلاف سره راټول کړ او د اسلامي خلافت له ویرې یې د نړۍ ټول کافران په یوه میز سره راټول کړل، د همدې خارجي، افراطي احمقانه فکر محصول دی.

ketabton.com - The Digital Library

د عراق بعثي جنرالانو چې د اسلامي امت کوم واک، ځواک بې ځایه وکارولو او له دوی څخه یې د دین په نوم د خپلو شومو اهدافو لپاره کټه پورته کړه، مورِ په ډاډ سره ویلی شو که دا مادي او بشري ځواک یو مدبر قیادت ته په لاس ورغلی وی، لږ نه وه چې د مسلمانانو د خلافت تنده یې ماته کړي وه او اسلامي خلافت یې پرې قایم کړی وی. خو دا چې دا مادي او بشري ځواک د یو خودخواه، متکبر، جاهل قیادت او بعثي جنرالانو په لاس کې دی، هغوی چې له مسلمانانو او په منځني ختیځ کې له القاعدې ډلې سره تاریخي عُقدې او دښمنۍ لري، دا قوت د مسلمانانو په ضد استعمالوي.

مورِ ته لا هم ډیر وخت په کار دی چې په د عامو مسلمانانو په اذهانو کار وکړو تر څو هغوی په آینده کې د پیښیدونکي ګواښ په وړاندې ذهناً اماده وي. په داسې حال کې چې زمورِ عام ولس دومره لوړ عزم نه لري چې د ډیرو مشکلاتو برداشت دې وکړاي شي، چې ښه مثال یې همدا اوس د قندوز فتحه او په دې ښار د امریکایانو ړنده بمباري وه، هلته ولس د اسلامي امارت مجاهدینو ته تود هرکلی اوایو خو کله چې امریکایانو اوغوښتل چې عام ولس تنک کړي او بالاخره همدا ولس مجبور شي له طالبانو اوغواړي چې ښار تخلیه کړي او بیرته په شا تک وکړي چې همداسې وشول.

دخوارجو د تنقیدونو څیړنه

په تیرو لیکنو کې له یوې اوږدې مقدمې وروسته د خوارجو دا تنقید پخپله ځواب شو چې اسلامي امارت ولې له ټولې نړۍ سره جنګ نه اعلانوي؟

اصلاً اسلامي امارت له کافرانو سره موادعه او مهادنه رواء ده، په داسې حال کې چې که د موضوع بل آړخ ته وکتل شي نو که له کوم هیواد سره مهادنه ونکړي هم، ځینو هیوادونو ته د دوی ډاډ او د هغوی سره مخکې له مخکې د ښو اړیکو غږ پورته کول یو تکتیک بللی شو، بلکې له دوی سره جنګ بندي کول یا دوی ته ډاډ ورکول صرف مطبوعاتي بڼه لري چې دا پخپل ذات کې یو تکتیک او د اَلْحَرْبُ خِدعةً مقتضی ده. که مورِ د تمدد او توسع چیغې وهو په داسې حال کې چې زميني حقائق بل ډول غوښتنه کوي او مورِ په ځای د دې چې خپل حضور نورو ته پراخ کړو، ورځ تر بلې په مورِ د حصار کړۍ تنګیږي او د کافرانو ائتلاف ورځ تر بلې زمورِ په وړاندې غښتلی کیږي، نو دا مو له خپل رعیت سره خیانت او په جنګي امورو کې نا اهلي او ناپوهي په ډاګه کوي.

له پورته فقهي نصوصو د دواعشو دا تنقید په خپله ځواب شو، چې اسلامي امارت ولې له نورې نړۍ سره جنګ نه اعلانوي؟ او ولې کفري هیوادونو ته ډاډ ورکوي؟ ولې ځینې مشران په پاکستان کې اوسیږي؟

دواعش بل تنقید کوي او وایي چې اسلامي امارت د دوی د واکمنۍ پر مهال ولې په کفري هیوادونو کې سفارتونه خلاص کړي ؤ، دوی د بیلګې په ډول په ملګرو ملتونو کې د اسلامي امارت له استازي عبدالحکیم مجاهد یادونه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

سفير او سفارت په اسلام کې

سفير عربي کلمه ده، د فعيل په ټُوْل (وزن) د قاصد، استازي، بيانونکي په معنى ده، چې سفارت بيا د هغه ځاى نوم دى چې همدا سفير پې د ځان لپاره د استوکنې په توګه ټاکي.

د سفير او سفارت مشروعيت له نبوي سيرت څخه ښه واضح ده.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته قريشو ابورافعؓ د سفير او قاصد په ډول راولېږلو، هغه اويل: والله اني لا أرجع اليهم خو رسول الله ورته اوفرمايل: اني لا أخيس بالعهد ولا أحبس البرد الخ (ابوداؤد ج۴ ص۶۲-۶۳، شرح معاني الاثارج۳ص۳۱۸، الحاكم ج۳ص۵۹۸، ابن حبان ص۳۹۳،)

همدا دول رسول الله صلى الله عليه وسلم کافرانو ته خپل استازي لېږلي دي، چې له هغې جملې څخه نجاشي ته سفير ليږل ؤ چې تر دا وخته مسلمان شوى نه ؤ (سيرة ابن هشام ج۲ص۶۰۶، طبقات ابن سعد ج۱ص۲۵۸، زادالمعاد ج۳ص۶۸۸، الجهاد والقتال في السياسة الشرعية ج۱ص۵۲۸ د. محمد خير هيكل)

امام ابن تيميةؒ او امام ابن القيمؒ د سفارت په آړه داسې وايې: كانتِ السّفارة مُنذ عهدِ النّبي صلي الله عليه وسلم تقوم لمدّةٍ موقتةٍ لإنجاز غرضٍ من الأغراض التي تتصل أساساً بالدعوةِ الإسلامية وتكاليفها وتحقيق مصلحةٍ تندرج تحت هذه الوظيفةِ وليس لذالك حدٌّ في الشرع (الحسبة في الإسلام ص ۱۶-۱۵، الطرق الحكمية في السياسة الشرعية ص۲۵۸)

رسول اللهص مصعب بن عُميرالهاشمي القرشي مديني منورې ته وليږلو چې دا وخت لا د مديني ټولو خلکو ايمان نه ؤ راؤړى، ترڅو دوى ته د دين دعوت وركړي. عمروبن امية الضمري پې د حبشې بادشا، نجاشي ته ورولېږلو. دحية بن خليفة الكلبي پې قيصر ته ورولېږلو. عبدالله بن حذافة السهمي پې كسرى ته ورولېږلو. حاطب بن ابي بلتعة پې د سكندريې بادشاه مقوقس ته ورولېږلو. شجاع بن وهب الاسدي پې حارث غاساني ته ورولېږلو. سليط بن عمرو العامري پې د يمامې بادشاه هوذة بن علي الحنفي ته ورولېږلو. جرير بن عبدالله البجلي پې ذي الكلاع اليمني ته ورولېږلو.

(الطبقات الكبرى ج۱ص۲۵۸، السيرة النبوية ج۲ص۶۰۶، زاد المعاد ج۳ص۶۸۸، السيرة النبوية لابي الحسن الندوي ۲۴۴، امتاع الاسماع ج۱ص۳۰۷-۳۰۹، عيون الاثر ج۲ص۳۲۹)

د اسلامي دولت سفير په کافر هيواد کې لاندې وظيفې انجاموي.

۱. اسلام ته بلنه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل سفيران نورو هيوادونو ته د همدې مقصد لپاره ليږل.

۲. په اجنبي دولتونو کې د خپل هيواد تمثيلول (سير كبير مع شرح سرخسي ج۲ص۴۷۵، ۴۷۱)

ketabton.com - The Digital Library

.د خپل هيواد پيغامونه رسول (سير كبير ج۲ص۵۱۵)

.د كافرانو سره ټرونونه لاسليكول (سيركبير ج۲ص۴۷۵)

.له دوى سره ټرونونه فسخ كول (الترايب الادارية للكتاني ج۱ص۱۹۶،۱۹۵سيركبير ج۲ص۲۹۰)

.له كافرانو سره بنديان تبادله كول يا د هغوى فديه وركول (السيرالكبير ج۲ص۴۷۸،۴۷۶ سيرة بين هشام ج۲ص۶۵۱،۶۵۰ المغازي للواقدي ج۱ص۱۳۹)

.مشروع معلومات يو بل سره تبادله كول (سير كبير ج۲ص۵۱۵)

اتم فصل:

ketabton.com - The Digital Library

د داعش ۱۱ شبهې او د هغې جوابونه

یادونه: د دواعشو هغه شبهات چې دوی یې خپلو اتباعو ته ورپیچکاري کوي، تر څو خپل باطل فکر په دوی اومني؛ ځینې یې هیڅ علمي آړخ نه لري خو ځینې یې علمي آړخ لري او هغوی چې له نبوي سیرته آګاه نه وي په اسانه پرې دوکه کیدلی شي. موږ دلته د دوی ۱۱ هغه شبهې ځوابوو چې علمي آړخ لري او په ځواب کې هم تر ډیره استناد په هغه کتابونو کوؤ چې دوی ترې دلیل راوړي. د بیلګې په ډول د علامه ابن تیمیة او علامه ابن القیم له مصنَّفاتو.

«اوله شبهه»

ابو محمد العدناني دوه ځایه په خپل صوتي بیان کې ویلي: زموږ منهج (تکلاره) د اده چې د لویې کناه کؤونکي ته کافر نه وایو، نو په کوم دلیل موږ ته دوی خوارج وایي؟

دلته هم ځینې دواعش وایي چې موږ خو ځکه خوارج نه یو چې لومړی خو خوارج هغه څوک دي چې په شرعي امام یې خروج کړی وي او بل د خوارجو صفات لکه تحلیق(سرونو خریبل) مرتکب د کبیرې کافر بلل، د سارق لاس له اوږې څخه پرې کول، په حائضه د لمونځ قضایي لازم بلل او داسې نور دي چې یو هم په موږ کې نشته.

ځواب: د خوارجو په هکله چې په احادیثو کې د تحلییق او تکفیر علی الکبایر یا نور کوم علایم چې ذکر شوي دي، هغه په طریقه د حصر سره نه دي. ممکنه ده چې یو څوک دې خارجي وي خو تحلیق دې نه کوي. او د خوارجو تعریف دا نه دی چې په مسلمان حاکم دې یې خروج کړی وي. حافظ ابن حجر لیکي: سُموا بذالک لخروجهم عن الدین، وخروجهم علی خیارالمسلمین.(دوی ته ځکه خوارج اویل شول چې دوی له دین وتلي دي او یا دا چې دوی د مسلمانانو د نیکانو له ټولې وتلي دي)«فتح الباري ج۱۲صـ۲۸۳»

امام نووي وایي: وسُموا خوارج لخروجهم علی الجماعة، وقیل: لخروجهم عن طریق الجماعة، وقیل: لقوله صلی الله علیه وسلم: یخرج من ضئضئ هذا (دوی ته ځکه خوارج ویلی شي چې دوی د مسلمانانو د غټې ډلې څخه وتلي دي او یا ځکه چې دوی د مسلمانانو د جماعت له لارې وتلي دي یا دوی ته د دې حدیث په وجه خوارج ویلی شي یخرج من ضئضئ هذا)«شرح النووي ج۷صـ۱۶۴»

ابن کثیر لیکي: وقد تکلم الناس في کیفیة قتال هولاء التتر من أی قبیل هو؟ فانهم یظهرون الاسلام، ولیسوا بغاةً علی الامام فانهم لم یکونوا في طاعته في وقتٍ ثم خالفوه! فقال الشیخ تقي الدین (أی ابن تیمیة): هؤلاء من جنس الخوارج الذین خرجوا علی علي و معاویة ورأوا أنهم احق بالأمر منهما وهؤلاء یزعمون انهم أحق باقامة الحق من المسلمین (د تتر .د خوارجو هغه ډله چې د ابن تیمیة په وخت کې راڅرکند شول .د قتال په اړه خلک ډیر نظرونه لري چې دوی له کومې قبیلې دي؟ دوی اسلام څرکندوي، دوی باغیان نه دي چې په امام یې خروج کړی وي ځکه دوی په طاعت د امام کې نه ؤ چې بیا ترې وتلي واي. ابن تیمیة یې په ځواب کې اویل: دوی د هغه خوارجو له جنسه دي چې په علي او معاویه یې خروج کړی ؤ او دوی عقیده درلوده چې په امارت د دوی څخه ډیر حقدار دي.«البدایة والنهایة ج۱۴صـ۲۸»

ketabton.com - The Digital Library

او خارجيت لپاره د تکفير على ارتکاب الکباير عقيده ضروري نه ده. امام ابو الحسن الأشعري وايي: والخوارج الذين خرجوا على أمير المؤمنين علي بن أبي طالبٍ والصحابة – رضوان الله عليهم أجمعين- لم يكونوا ممن يعتقد القول بكفر مرتكب الكبائر كاالزنا والسرقة وشرب الخمر، وانما كفروا الصحابة بقبول التحكيم مع أنه ليس بذنبٍ أصلاً. وروسته ليکي: وأجمعوا أن كل كبيرة كفرٍ الا النجدات فانها لاتقول بذالک(هغه خوارج چې په علي او صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم يې خروج کړی ؤ دوی دا عقيده نه درلوده چې د لويې ګناه کوونکی کافر دی لکه زنا، غلا، شرابو چيښل بلکې دوی صحابه د تحکيم په قبلولو کافران بلل سره له دې چې هغه اصلاً ګناه نه ؤ. بل ځای نوموړی وايي: دوی په دې اتفاق کړی چې د هرې لويې ګناه کوونکی کافر دی خو نجدات چې د ټولو خوارجو د سر ډله ده هغه دا عقيده نه لری.«مقالات الاسلاميين ج۱ص۸۶»

امام ابن تيمية ليکي: الخوارج دينهم المعظّم مفارقة جماعة المسلمين و استحلال دمائهم و أموالهم.(د خوارج لوی دين دا دی چې دوی د مسلمانانو له ټولې جدا شوي دي او د دوی وينې او مالونه حلال بولي «مجموع الفتاوى ج۱۳ص۲۰۹؛»

بل ځای ليکي: فانهم يستحلون دماء اهل القبلة لإعتقادهم أنهم مرتدون أكثر مما يستحلون من دماء الكفار الذين ليسوا مرتدين. (دوی د اهل قبله وينه حلاله بولي ځکه د دوی عقيده دا ده چې دا ټول مرتد شوي دي. د دوی په عقيده دا نور کافران مرتد نه دي ځکه د دوی وينه دومره ژياته حلاله نه بولي. «فتاوى ابن تيمية ج۲۸ص۴۹۷»

د سيرت امامانو ليکلي چې خوارج يواځې هغه چاته نه ويل کيږي چې په مشروع امام يې خروج کړی وي بلکې د تاريخ په اوږدو کې خوارجو دولتونه او امارتونه اعلان کړي دی. عبدالله بن وهب الراسبي هم د خلافت دعوی وکړه او خوارجو ورسره بيعتونه وکړل، شبيب الخارجي د عبدالملک په دوره د خلافت دعوی وکړه. عبدالاعلى بن سمح المعافري د منصور په دوره کې د خلافت اعلان وکړو. معز اسماعيل بن طغتکين د پنځمې هجري پيړۍ په پاى کې د خلافت دعوی وکړه.

د اولې شبهې پاى

ابن أبي شيبة په خپل سند سره د عاصم بن شُميخ څخه روايت کوي چې فرمايل يې: سمعت أبا سعيد الخدريّ يقول، وبداه هكذا يعني ترتعشان من الكِبر: لقتال الخوارج أحب اليَّ من قتال عُدَّتهم من اهل الشرک (ما له ابو سعيد خدري رض څخه اوريدلي دي چې لاسونه يې د ډير بودااوالي له امله ريږديدل : ماته د دې خوارجو سره جنګ د مشرکانو له جنګ څخه غوره دی) «مصنّف ابن أبي شيبة ج۷ص۵۵۳»

حافظ ابن حجر له ابن هُبيرة څخه نقل کوي: وفي الحديث أن قتال الخوارج أولى من قتال المشركين والحكمة فيه أن في قتالهم حفظ رأس مال الاسلام، وفي قتال اهل الشرک طلب الربح وحفظ المال أولى (په حديث کې د خوارجو سره جنګ د مشرکانو څخه غوره بلل شوی، چې حکمت يې دا دی؛ د خوارجو سره په جنګ کې د اسلام د رأس المال (دتجارت سر) ساتنه ده، او د مشرکانو سره په جنګ کې د ګټې طلب دی او د رأس المال ساتنه د ګټې له طلب کولو غوره ده) «فتح الباري ج۱۲ص۳۰۱»

«دويمه شبهه»

سوال دا دی چې څنګه په دوی د خوارجو حکم کيدلی شي په داسې حال کې چې دوی ډير عبادتګذار، د سنتو پابند، په عبادت حريص، په دوی کې داسې خلک په نسبت نورو جهادي ډلو ته ډير کم دي چې منکرات او ګناهونه کوي. دوی په جنګ کې ډير

ketabton.com - The Digital Library

زړور دي. ډيرو يې استشهادي عمليات تر سره کړل چې له قوي ايمان پرته امکان نه لري، نو آيا دا د تکلارې د صحت دليل نه دی؟

ځواب: لومړی خو دا خبره دلته زمور د دواعشو په آړه سمه نه ده ځکه په دوی کې زياتره يې بد اخلاقه، ګمراه، په نشو روړدي، کسان دي؛ هوکې ځينې يې رښتيا د سنتو پابند، عبادتګذار، او د خلافت غم اخيستي دي او که د عراق د خوارجو په آړه اويل شي نو دا خبره سمه ده خو.....

لومړی خو عبادتګذاري او د سنتو پابندي د تکلارې د صحت دليل نه شي کيدلی بلکې همدا عبادتګذاري د دوی هغه صفت دی چې په نبوي ص ارشاداتو کې يې يادونه شوي. د بخاري د اوړده حديث يوه ټوټه: يَحْقِرُ أَحَدُكُمْ صَلَاتُه مَعَ صلاتِهم، وصِيامُه مَعَ صِيامِهم(تاسې به د دوی سره خپل لمونځونه او روژې ډيرې سپکې ګڼی ځکه د دوی لمونځ او روژه به په پوره طريقه وي) «صحيح البخاري ج١ص٢٠٠ حديث رقم ٣٦١٠، صحيح مسلم ج٢ص٧٤٣ »

حافظ ابن حجر د دې حديث لاندې ليکي: كان يقال لهم القراء لِشِدَّةِ اجتهادهم في التلاوة والعبادة الا انهم كانوا يتأوَّلون القرآن على غير المراد منه، ويستبدون برأيهم و يتنطعون في الزهدِ والخشوع و غير ذالک (له دې امله چې دوی به په تلاوت او عبادت کې ډير محنت کولو، دوی ته قاريان ويل کيدل. ليکن دوی د قران تأويل کولو بغير د مراد نه، او دوی به جبراً خپله رأيه په نورو منله، په خشوع او نورو عباداتو کې ځان ښودنه کوله) «فتح الباري ج١٢ص٢٩١»

او د خوارجو جرأت او زړورتيا هم دليل نه شي کيدلی ځکه د نهروان په جګړه خوارجو د حضرت علي رض د لښکر په وړاندې دومره په زړورتيا وجنګيدل چې هيڅ يو يې د جګړې له ميدانه ونه تښتيده. يوائې لس کسان هله ژوندي ونيول شول چې وسله يې تمامه شوه نور ټول مقبلين(مخامخ) غيرمدبرين (نه په شا) اوژل شول چې دا دوی د لوی جرات او زړورتيا ثبوت ؤ. حافظ ابن حجر ليکي: مع ما عُرف من شدَّةِ الخوارج في القتال وثباتهم واقدامهم على الموت، ومن تأمل ما ذُكر من اهل الاخبار من امورهم تحقق ذالک (سره له دې چې په جنګ کې د دوی سختي او ثابت قدمي او مرګ ته هرکلی ويل معلوم دي،څوک چې د تاريخ د علماؤ ويناوې اوګوري دا به ورته واضحه شي.«فتح الباري ج٩ص٤٨»

که زړورتيا دليل کيدلی نو د جاپان کاميکازيانو هم په نړيوال جنګ کې د ائتلاف په کشتيو د طيارو په توسط ځانمرګي بريدونه ترسره کړل، همدا ډول ويتناميانو د امريکايانو سره په جنګ کې داسې ميرانه ښکاره کړه چې امريکايان يې ګوته په غاښ کړل. دا مو له مشاهدې څخه يو څو مثالونه پيش کړل.

دريمه شبهه

ketabton.com - The Digital Library

دواعش خپلو پلویانو ته القاء کوي، چې دوی ځکه په حق دي چې د دنیا ټول کفار په یوه سنګر کې د دوی په خلاف سره راټول شوي دي، په دنیا کې هیڅ داسې دولت نشته چې له دوی دې ملاتړ وکړي، ټول غلامان او باداران دوی په وړاندې په جنګ سره یوه خوله دي. د خلافت په وړاندې د دنیا د ټولو کافرانو ائتلاف د دې دلیل دی چې په حق دی.

ځواب: د دې سوال ساده جواب دا ده چې د حضرت علي رض په دور کې د هغه خوارجو چې په آړه یې صحیح نصوص موجود ؤ هم ډیر زیات دشمنان ؤ ټول کافران هم د دوی دشمنان ؤ او ټول مسلمان هم د دوی دشمنان ؤ خو نه دوی او د دوی مخالفینو دا دوی د حقیت دلیل وباله بلکې که تاریخ وکتل شي خوارج د خپلې پلیټې عقیدې له امله نه په مسلمانانو کې خواخوږی لري نه په کافرانو کې.

څلورمه شبهه

داعش په عراق کې امریکا ماته کړه، امریکایان یې له عراقه وشړل او د دوی د قربانیو برکت ؤ چې په وړاندې یې د عراق ګوډاګی پوځ ونه شو درېدای، په سوریه کې یې د بشار د رژیم ملا ورماته کړه او د رقه ښار لومړی ښار ؤ چې داعش فتحه کړ، په فرانسه کې یې بریدونه ترسره کړل، په امریکا کې یې بریدونه ترسره کړل، اسلامي امارت په څوارلس کاله مبارزه کې یو ولایت په بشپړ ډول ونشو نیولای برعکس داعش په ۶ کاله مبارزه کې نه یواځې دا چې امریکایان یې وشړل بلکې د دوی روزل شوی عراقي پوځ یې هم درې ورې کړ، نو څنګه فکر کیدلی شي چې د داسې غښتلي عقیدې او غښتلي عزم او پراخو فتوحاتو واله خلک دې خوارج اوبلل شي؟

ځواب: لومړی خو د جنګ په ډګر کې انتصارات او کامیابۍ دلیل نه شي جوړیدلی. د زمکې په مخ ډیرو قومونو په جنګونو کې فتحې او برلاسي ګټلي دي. دویم دا چې هغوی چې د عراق حالت له نږدې څاري، ورته واضحه ده چې هلته رښتیا داعش دا دومره مناطق په زور ونیوې که د امریکایي پلان لاندې دا سیمې دوی ته تخلیه کړل شوې؟ مور دا نه وایو چې داعش کټ مټ امریکایي پروژه ده، بلکې امریکایان چې د نړۍ شیطان صفته انسانان دي، کله یې چې د داعش فکري انحراف او د القاعدې سره د دوی ټکر درک کړ، وې غوښتل چې د داعش د همدې فکري انحراف څخه دوی ګټه پورته کړي او د القاعدې څخه خپل غچ د دوی په واسطه واخلي.

په ۲۰۰۶ م کال چې کله زرقاوي شهید کړل شو سي آی اې یو پلاوی وګومارله ترڅو له زرقاوي وروسته د عراق د حالاتو راپور وړاندې کړي. سي آی اې داسې شواهد او اسناد اومندل چې ښیي، له زرقاوي ورسته ټاکل شوی مشر د بن لادن اوامر نه مني، او له زرقاوي وروسته د امیر انتخاب هم د بن لادن له خوښې پرته شوی. امریکایانو موقع غنیمت وګڼله او په عراق کې د القاعدې څخه د خپلې ماتې د غچ اخیستو په هدف یې د داعش لپاره په زمینه سازی کار پیل کړ. په لومړي قدم کې امریکایان په بشپړ ډول له عراقه اوتل وروسته په عراق کې د هغو قیادتونه په نښه کول شروع شول چې په القاعدې پورې یې تړاؤ درلود او د بن لادن د افغانستان د محاذونو ملګري ؤ. ترڅنګ یې امریکایانو د هغو بعثي جنرالانو په خوشي کولو هم پیل وکړو چې باور کیده له خلاصیده وروسته به له داعش سره یوځای کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

امریکایانو نوري المالکي ته چې د دوی مخلص غلام ؤ امر وکړ چې په عراق کې داعش ته مناطق تخلیه کړي. نوري المالکي په موصل کې د ۳۰ زره کسیزې پلې لوا قومندان ته امر ورکړ تر څو موصل تخلیه کړي. هماغه ؤ چې له موصل څخه عراقي ځواکونه بغیر له مقاومته وؤتل په داسې حال کې چې د موصل په نیونه کې یو عراقي عسکر هم د داعش په لاس نه دی اسیر شوی.

کله چې د عراق پرلمان د موصل د ۳۰ زره کسیزې لوا قومندان احضار کړ، هغه په زغرده اویل چې د لومړي وزیر دفتر ورته په مستقیمه قوماندو امر کړی ؤ، چې د داعش سره مقاومت ونکړي او د عراق دویم لوی ښار موصل پریږدي، چې له داسې ډیرو اسرارو څخه رابرته ګیټس پخپل کتاب کې پرده پورته کړې ده.

که موصل د یوه پلان له مخې داعش ته په لوی لاس نه وي سپارل شوی، ولې داعش په عراق کې پرمختک نه شي کولی؟ او ولې یې د رمادي ښار له لاسه اوته؟ ولې یې په عراق کې ورځ تر بلې سیمې له لاسه وځي؟ طالبانو له امریکایانو سره ځوارلس کاله په جنګ تیر کړل، طالبان او داعش د امریکایي هوایي ځواک په مقابل کې هیڅ دفاعي سیستم نه لري، همدا دلیل ؤ چې کندز یې له فتحې وروسته ونه ساتل شو. نو دوی څنګه په زرګونه کیلو متره ځمکه ساتي؟ آیا په معمایي ډول اومنو چې بس دا خو د الله نصرت دی؟ که د الله نصرت داسې بې اعداده او بې اسبابو مطلق په عبادت او د ایمان په قوت راتلی نو له رسول الله ص خو لوی عابد او د قوي ایمان او عزم څښتن هیڅوک نه ؤ ولې ورته الله تعالی د وأعدوا لهم امر کوي؟ که دوی وایي چې مورږ اعداد کړی نو کوم دی هوایي اعداد؟ که دوی وایي چې په مورږ د ائتلاف طیارې بمبارد کوي خو مورږ یې صرف په چوف راغورځوو نو وښایئ ستاسو ساحره میډیا خو له ژوندیو انسانانو څخه شهیدان جوړوي او د مسلمانانو د تغریر لپاره یې په ټولنیزو پاڼو نشروي.

د ائتلاف طیارو د ۲۰۱۵ م کال ترپایه په عراق او شام کې ۱۲۴۹۹ بریدونه کړي چې یواځې ۷۲۴ یې په عراق نور ټول په شام کې دي. چې د دې ټولو له جملې یواځې ۴۹۳ یې په عراق کې ۶۷۸ یې په سوریه کې د داعش په هدفونو ترسره شوي نور ټول یا په ملکي وګړو شوي یا پکې د جبهة النصرة مرکزونه هدف ګرځیدلي دي.

په عراق او سوریه کې د ائتلاف په سلو کې یواځې ۸ فیصده بریدونو د داعش په ضد دي نور ټول د القاعدې مجاهدین په نښه کیږي. هغه بریدونه چې په داعش ترسره کیږي هم په دې هدف چې صلیبي ائتلاف د داعش دومره پرمختک هم نه غواړي چې په نوره نړۍ کې د دوی ګټې وګواښي ولې دومره کمزوري کول یې هم نه غواړي چې القاعده یا د نړۍ په لر او بر کې نړۍ مجاهدین مصروف ونه شي ساتلی.

د څلورمې شبهې د ځواب پای

ځینې خلکو د الله د رسول ص دا وینا چې (یقتلون اهل الاسلام ویدعون اهل الاوثان) داسې فهم کړې چې ګنې خوارج اصلا د کافرانو سره جنګ نه کوي، خو څوک چې د قرآن او حدیثو د اسلوب سره آشنا وي، دا شبهه په اسانه درک کولی شي. د لوط

ketabton.com - The Digital Library

عليه السلام د قوم په آړه الله تعالى فرمايي: أتأتون الذكران من العالمين وتذرون ماخلق لكم ربكم الآية...سورة الشعراء ۱۶۶.۱۶۵ {آيا تاسې نرانو ته په بدکارۍ سره راځي او هغه څه پريږدی چې تاسې ته الله پيدا کړي دي. ښځې} داسې خو نه وه چې د لوط قوم به اصلا له ښځو سره جماع نه کوله خو الله تعالى دلته د اغلب حالت لپاره د تذرون کلمه کارولې ده. د تاريخ په اوږدو کې خوارجو ډيرځله د کافرانو سره سخت سخت جنګونه کړي دي خو د دوی د جنګونو نِکايت او ضرر مسلمانانو ته ډير زيات دی په نسبت کافرانو ته. امام ابن تيمية ليکي: وصاروا يقاتلون إخوانهم المؤمنين بنوعٍ مما يقاتلون المشركون، وربما رأوا قتال المسلمين آكد{ دوی همغه ډول چې کافران وژني، مسلمانان هم په يو ډول وژني بلکې دوی د مسلمانانو سره جنګ مهم بولي} مجموع الفتاوي ج۶ص۳۶۰

ينځمه شبهه

دواعش د مسلمانانو د تغرير لپاره دا شبهه کاروي: مورِ چې کله په کومه ځمکه واک ټينګ کړو لومړی پکې حدود نافذوو، شرعي محاکم قايموو، مجرمين، غله، يا نور مفسدين په شرعي حکم محکوموو، د شريعت تطبيق، د حدودو نفاذ، تحاکم الى الله، رد د تحاکم محاکمو وضعيه ؤ ته د منهج د صحت دليل دی.

<u>ځواب:</u> د دې شبهې په آړه يو څو خبرې مهمې دي.

(الف) له لويه سره که د حدودو نفاذ او د شرعي محاکمو قيام د منهج د صحت دليل واي نو د سعودي شاهي دولت هم حدود نافذ کړي هم يې شرعي محاکم قايم کړي، چې دا خبره ټولې دنيا ته واضحه ده. خو د دې باوجود همدا دواعش د سعودي دولت کافر بولي او په وړاندې يې جهاد فرض بولي. خو که دواعش وايي چې، د سعودي دولت د کفر لپاره مورِ نور کافي دلايل په لاس کې لرو، مورِ وايو چې مورِ هم ستاسو د خارجيت لپاره کافي دلايل په لاس کې لرو، نو لکه څنګه چې يواځې د حدودو قايمول، د شرعي محاکمو قيام د دوی لپاره دليل نشي جوړيدای، ستاسو لپاره هم دليل نشي جوړيداي.

(با) د داعش محاکم د اهليت په اعتبار له ډيرو ستونزو سره مخ دي. د دوی ډيرۍ قاضيان او شرعيان په علمي لحاظ د قضاء اهليت نه لري بلکې د دوی د محاکمو ډير حکمونه د دوی د قاضيانو د جهالت ښکاره دليل دی چې بيلګې يې اعدام په ذبحه نافذول، د غله لاس په ساطول پرې کول، په سختو تعذيبونو له متهم څخه اعتراف اخيستل، په شکوکو او شبهاتو خلک تکفيرول او بيا يې د مرګ حکم صادرول، د زنا حکم په متهمينو اجراء کول او د تبليغاتو په موخه د هغې ويډيو کول. سره له دې چې په ويډيو کې شهود نه معلوميږي او هيڅ پته نه لګيږي چې د زنا حد د چا په ګواهۍ نافذ شوی؟

په داسې حال کې چې اعدام بالذبح د امت د عالمانو په فتوی نارواء دی: القتل ذبحاً طريقةٌ لم تُعهد عن المسلمين منذ عهد النبي صلى الله عليه وسلم وصحابته و من بعدهم من اهل العلم والقضاء؛ فنسبة هذالامر الى السنة منكرٌ من القول وادعاءٌ بلا علم. وانما عُرفت هذه الطريقة في القتل عن الخوارج الاولين كما جاء في كتب التاريخ والسير أنهم ذبحوا عبدالله بن خباب

ketabton.com - The Digital Library

كما تُذبح الشاة ثم قربوا أم ولده فبقروها عما في بطنها فهي سنةٌ خارجيةٌ لا سنةٌ نبوية (د ذبحې په طريقه د يو چا وژل د مسلمانانو تر مينځ د رسول الله ص او صحابوؤ له زمانې او وروسته د علم او قضاء د خلکو څخه نه ده ثابته. دا کار سنتو ته منسوبول بده خبره ده او له علم پرته دعوه ده. د وژلو دا طريقه له لومړنيو خوارجو رامعلومه شوې ده، لکه د تاريخ او سيرت په کتابونو کې دي چې دوی مشهور صحابي عبدالله بن خباب داسې ذبح کړ لکه پسه چې ذبح کولی شي، بيا يې د هغه ښځه راوسته او د هغې خيټه يې څيرې کړه او هغه ماشوم او مور يې ذبح کړل، نو دا د خوارجو سنت دي نه نبوي ص سنت .

(فتوى هيئة العلماء1990/islamicsham.org)

حافظ ابن كثير وايي: فهم اول من سنَّ الذبح في القتل (دوی لومړی هغه څوک ؤ،چې په وژلو کې يې د ذبحې طريقه جاري کړه)

نو که دواعشو ته چيرته د ذبحې په اړه کوم ضعيف حديث هم معلوم وي رادې وړي، او د (جئناكم بالذبح) حديث خو لومړی په سند کې مقال دی او دويم دا چې آيا د الله رسول ص د قريشو سره دا عمل چيرته ترسره هم کړ؟ په هيڅ حديث سره څوک نشي ثابتولی چې رسول الله ص دې د مکې د فتحې په ورځ يو کافر هم ذبح کړی وي، او که (فاضربوا فوق الأعناق)آيت او (ضرب الرقاب و شد الوثاق) حديث په ذبح حمل کوي نو دا به يې له عربي علومو څخه د جهالت په سبب وي.

بله هغه فاحشه غلطي چې د داعش جاهل قاضيان يې په حدودو کې کوي هغه د غله لاس په ساطول پرې کول دي، په داسې حال کې چې لاس بايد له مړونده په چارې پرې کړل شي ترڅو د څنګلې هډوکې ته زيان ونه رسيږي خو په ساطول سره لاس پرې کولو سره طبعي ده چې د څنګلې هډوکی زيانمنيږي چې له مشروع حد څخه تجاوز او ظلم دی.

له متهم څخه په زور اعتراف اخيستل، د وهنو او شکنجو له لارې متهم مجبورول، د اسلام قانون خو څه چې د انګريز په قانون کې هم نشته، خو د عراق کمونيستې جنرالانو بيا له بنديانو سره هغه وحشتونه تر سره کوي چې کوټې يې له ليکلو شرميږي.

د حد د جاري کولو په وخت کې له محدود څخه ويډيو کول هيڅ شرعي اصل نه لري، د (وليشهدْ عذابهما طائفة من المؤمنين)آيت څخه د ويډيو جواز نه شي فهميدلی، ځکه په ويډيو کې د محدود تفضيح(رسوايي) کولی شي په داسې حال کې چې جلد او رجم د تفضيح لپاره ناسخ دی، چې د علم په خاوندانو دا پټه نه ده.

د امت جمهور علماء په دې آند دي چې هغه حدود چې د آدميانو په حقونو پورې تړلي نه وي، لکه د زنا حد او د غلا حد، د کافرانو سره د جنګ په وخت کې د هغې نافذول رواء نه دي، امام ترمذي په خپل سند سره له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نقل کوي: لا تُقطع الأيدي في الغزو(د کافرانو سره د جنګ په وخت کې به د غل لاسونه نه شي پرې کولی) سنن ترمذي ج ۲صـ۱۰۵ كتاب الحدود باب ماجاء أن لا تُقطع الأيدي في الغزو. لاندې تړې امام ترمذي ليکي: والعمل على هذا عند بعض أهل العلم منهم: الأوزاعي: لا يرون أن يقام الحد في الغزو بحضرة العدو مخافة أن يلحق من يقام عليه الحد بالعدو، فإذا

ketabton.com - The Digital Library

خرج الإمام من أرض الحرب ورجع إلى دار الإسلام أقام الحد على من أصابه كذلك قال الأوزاعي. (پخوانی حواله).

سعيد بن منصور په خپل سند سره له حضرت عمر رض څخه نقل کوي چې هغه رض ټولو عاملانو ته خط ولیږلو چې پکې لیکلی ؤ: أن لا يجلدن أمير جيش ولا سرية رجلا من المسلمين حدا وهو غاز حتى يقطع الدرب قافلا لئلا تحمله حمية الشيطان فيلحق بالكفار(سنن سعيد بن منصور ج۲ص۲۳۵ حديث رقم۲۵۰۰).

د قادسيې په جنګ کې سعد بن أبي وقاص ابومحجن د شرابو په چېښلو صرف بندي کړ او حد يې پرې جاري نه کړ. علامه ابن القيم د دې اثر لاندې ليکي: فهذا حد من حدود الله تعالى، وقد نهى عن إقامته في الغزو خشية أن يترتب عليه ما هو أبغض إلى الله من تعطيله أو تأخيره من لحوق صاحبه باالمشركين حمية وغضبا كما قاله عمر وأبو الدرداء وحذيفة وغيرهم، وقد نص أحمد وإسحاق بن راهويه والأوزاعي وغيرهم من علماء الإسلام على أن الحدود لا تقام في أرض العدو، وذكرها أبو القاسم الخرقي في مختصره فقال: لا يقام الحد على مسلم في أرض العدو، وقد «أتى بشر بن أرطاة برجل من الغزاة قد سرق مجنه فقال: لولا أني سمعت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يقول: لا تقطع الأيدي في الغزو لقطعت يدك» ، رواه أبو داود، وقال أبو محمد المقدسي: وهو إجماع الصحابة (إعلام الموقعين ج۳ص۱۳)

د دواعشو د قاضيانو بل جهالت دا دی چې دوی د سوريې په داسې سيمو کې هم له خلکو لاسونه پرې کړي چې هلته له لوږې خلک مري په داسې حال کې د أمت علماء په دې متفق دي چې په ايام المجاعة او ايام القحط (دلوږې او قحطۍ په ورځو) کې د غلا حد نه شي نافذولی.

د ماعز حديث چې د حديثو ټولو کتابونو رانقل کړی، کله چې هغه د کانو له درده ډير په تکليف شو نو منډه يې کړه، رسول المعترف يرجع عن اعترافه) نو که يو الله ص اوفرمايل: هلا ترکتموه؟ ولې مو نه پريښودو؟ امام دارمي باب منعقد کړی (باب څوک په ځان د يو حد اعتراف وکړي خو د حد په مينځ کې يا صراحةً يا اشارةً له خپل اعتراف وګرځي نو باقي حد به نشي پرې جاري کيدلی، خو دا اصل د داعش قاضيان نه پيژني.

داعشي جنګيالي په يوه ويډيو کې ليدل کيږي چې د جبهة النصرة يو غړی په داسې حال کې ذبح کوي چې هغه په مکرر ډول د ماسپښين د لمانځه لپاره د وخت غوښتنه کوي. نو که اومنو چې د جبهة النصرة دا غړی مرتد شوی نو د ماسپښين لمانځه لپاره د وخت غوښتنه د ده توبه نه ده؟

شپږمه شبهه

عدناني په خپل غږيز پيغام کې چې عنوان يې دی (هذا وعدالله) داسې وايي: مورږ ټولو مسلمانانو ته خبرداری ورکؤو، چې د خلافت د اعلان سره سم په ټولو مسلمانانو د خليفه ابراهيم (الله دې وساتي) بيعت او کومک واجب دی او ټول إمارتونه، ډلې، ولايتونه، تنظيمونه باطل شول.

ketabton.com - The Digital Library

دوی د (من مات وليس في عنقه الخ) حديث څخه استدلال کوي چې د خلافت په اعلان سره په ښځه او نر بيعت فرض شو. هغوی چې بيعت نه کوي د أمت د لوی ارمان، خلافت سره جفا کوي او د شهيدانو د ارمانونو سره خيانت کوي، ځکه هغوی د خلافت لپاره وينې ورکړي وې.

ځواب: د امت عالمانو د خلافت مسائل، احکام، شرائط په خورا تفصيل بيان کړي خو د دواعشو مفتيان د خپل خلافت د مشروعيت لپاره په سستو، مرجوحو، متروکو اقوالو استدلال کوي. د بيلګې په ډول: ابو همام الأثري په خپل کتاب (مد الأيادي لبيعة البغدادي) کې د اهل الحل والعقد په آړه د الأحکام السلطانية للماوردي هغه مرجو او ضعيف قول راخيستی چې وايي: خلافت د اهل الحل والعقد د پنځو او حتی د اهل الحل والعقد د يو کس لخوا هم منعقد کيدلی شي. په داسې حال کې چې د جمهورو رأيه دا ده چې : لاتنعقد الا بجمهور اهل الحل والعقد من کل بلدٍ (الأحکام السلطانية للماوردي ج۱ص۲۳)

علامه ابن تيمية ليکي: فانه لا يشترط في الخلافة الا اتفاق اهل الشوکة والجمهور الذين يُقام بهم الامر بحيث يُمکن أن تُقام بهم مقاصد الامامة .د خلافت لپاره د جمهورو او د قوت واله خلکو موافقه لازمه ده، هغه خلک چې د قدرت واکې په لاس کې لري، د دې لپاره چې د امامت هدف لاس ته راوړل شي {منهاج السنة النبوية ج۸ص۳۳۶}

حضرت عمر رض فرمايي: من بايع رجلاً عن غير مشورة من المسلمين فلا يُبايع هو ولا الذي بايعه، تغرّةً أن يُقتلا .قال ابن حجر رحمه الله: اى أن من فعل ذالک فقد غرّر بنفسه و بصاحبه و عرّضهما للقتل .څوک چې د مسلمانانو له مشورې پرته له يو سړي سره بيعت وکړي نو هغه او ځان په دوکه کې آچوي، ځکه دواړه ځان وژلو ته وړاندې کوي او دوی بايد اوژل شي{ فتح الباري ج۱۲ص۱۵۰}

خو د عراقي خوارجو بد صفت دا دی چې تنزيل د نصوصو له خپل ځای پرته په بل ځای کې کوي، له دې څوک منکريداي شي، چې د خلافت قيام په مسلمانانو فرض نه دی؟ له دې څوک منکريداي شي، چې د شرعي خليفه سره بيعت فرض نه دی؟ آيا د داسې دولت له قيام چې د الله په کتاب او د رسول په سنتو حکم کوي څوک منکريداي شي؟ دا خو مسلَّمات (د ټولو لخوا منل شوي) دي چې د خلافت اعاده او اقامه په مسلمانانو فرض ده، د خليفه سره بيعت فرض ده، د اهل بيتو تعظيم او وقار په مسلمانانو لازم ده، خو سوال دا ده چې آيا دا مکوّنات په تاسې کې شته؟

امام مسلم په خپل سند سره حديث نقل کوي، چې رسول الله ص اوفرمايل: ومن مات وليس في عُنقه بيعة، مات ميتة جاهلية .څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې په غاړه کې د شرعي امير بيعت نه لري، نو د جاهليت په مرک مړ شو .(مسلم ج۲ کتاب الامارة)

دواعش له دې حديث څخه د خپل خليفه لپاره د بيعت په وجوب دليل نيسي، حال دا چې دا تحريف دی ځکه هغه امام او هغه خليفه چې بيعت ورسره واجب دی بغدادي نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

خلال له احمد بن حنبل ؒ روايت کوي: أن احمد بن حنبل سُئل عن حديث النبي صلى الله عليه وسلم من مات وليس له امام مات ميتةً جاهليةً. ما معناه؟ قال أبو عبدالله: تدري ما الامام؟ الامام الذي يجمع المسلمون عليه، كلهم يقول: هذا امام، فهذا معناه {له امام احمد څخه د پورته حديث په آړه پوښتنه وشوه، نومورې په ځواب کې اويل: ته پوهيږې چې امام چاته وايي؟ امام هغه څوک دی چې ټول مسلمانان پرې راټول وي، او ټول وايي چې دا امام دی، دا يې معنی ده} (السنة لأبي بكر الخلال ج۱ص۸۰)

امام نووي ليکي: الأصح أن المعتبر بيعة اهل الحل والعقد من العلماء والرؤساء وسائر وجوه الناس الذين يتيسر حضورهم. صحيح قول دا دي چې د اهل الحل والعقد د عالمانو او مشرانو او د ټولو خلکو له مشرانو څخه، هغوی چې حاضريدل يې ممکن وي. {روضة الطالبين ج۱۰ص۴۳}

عجيبه دا ده چې همدا د امام نووي قول د داعش مفتيان د خپلې دعوی لپاره د دليل په ډول پيش کوي، او وايي چې په عراق کې چې د ځومره مجاهدينو، علماؤ حاضريدل ممکن ؤ د بغدادي بيعت ته حاضر شول او هغه مجاهدين قيادتونه چې په نورو ملکونو کې ؤ حضور يې ممکن نه ؤ نو له دوی سره سلا مشوره هم شرط نه وه، ځومره لوی تحريف؟ د نړۍ له کوټ کوټ څخه د غلو او اختطافکرو څخه بيعتونو راټولول ممکن دي خو د جهاد د امامانو څخه د خلافت په اهم کار کې مشوره اخيستل نه ؤ ممکن؟

امام شاطبي ؒ ليکي: ومنها تحريف الأدلة عن مواضعها بان يرد الدليل على مناطٍ فيصرف عن ذالک المناط الى امرٍ آخر موهماً أن المناطين واحدٌ، وهو من خفيات تحريف الكلم عن مواضعه، والعياذ بالله. او بل د دلايلو آړول دي له خپل ځاي څخه، چې يو دليل د يوې حادثې لپاره راوړل شوی وي خو هغه له خپل اصلي حادثې واړول شي او داسې توهم واچول شي، چې ګواکې دواړه حادثې يوه ده، دا هم له قرآني مذکور تحريف څخه دی، له الله پناه غواړو. {الاعتصام للشاطبي ج۱ص۲۴۹}

مورِ خلافت هم منو، مورِ د شرعي خليفه سره بيعت واجب هم بولو، خو هغه خلافت چې د عراق خوارجو اعلان کړی، شرعي نه دی، او نه بغدادي شرعي خليفه دی، او نه له ده سره بيعت رواء دی ځکه دا د مسلمانانو په وينو تويولو باندې بيعت دی، چې حرام دی.

عدناني په خپل غربيز پيغام کې د خلافت د مشروعيت لپاره د منعي دلايلو وروسته ويلي چې که اصلاً د اهل الحل والعقد بيعت موجود نه وي هم. أخذناها بحدالسيف قهراً، فالجماعة تغلبوا وحكموا بشرع الله فلماذا لانبايعهم. بغدادي ځکه خليفه او بيعت يې واجب دی چې هغه دا خلافت د تورې په زور نيولی دی.

دوی يو وار بغدادي د اهل الحل والعقد له لورې تاکل شوی بولي بل خوا يې متغلِب بولي چې د دواړو تر مينځ په احکامو او مفاهيمو کې ډير تفاوت دی. بلکې متغلب؛ علماء فاسق بولي. علامه ابن حجر ر ؒ ليکي: المتغلب فاسقٌ معاقَبٌ، لايستحق أن يبشر ولايُؤمر بالاحسان فيما تغلب عليه، بل انما يستحق الزجر والمقت والاعلام بقبيح أفعاله و فساد أحواله. متغلب فاسق او د سزا لايق ده، هغه د زيري لايق نه دی او د ده په مغلوبه سيمه کې به د ده سره د نيکۍ کولو امر نشي کولی، بلکې نومورې

ketabton.com - The Digital Library

د رټولو او غوصې وړ دی، او خلک باید د ده په قبیحو عملونو خبر کړل شي.{ الصواعق المحرقة على اهل الضلال والزندقة جـ۲ صـ۶۲۷}

علامه جويني متغلب ته په زمکه فساد کونکی ویلي دی{غياث الامم جـ۱ صـ۳۲۶} امام ماوردي د متغلب حاکم د اطاعت لپاره ۷ شرطونه بیان کړي چې یو یې هم په بغدادي کې وجود نه لري{ الاحكام السلطانية للماوردي جـ۱ صـ۶۶}

اوس نو بغدادي متغلب حاکم شو نه خلیفه، ځکه خلافت على منهاج النبوة خو د تغلب او زور له لارې نه شي راتلاي، بله دا چې بغدادي که متغلب دی خو د عراق او سوریې په یوځو ښارونو به متغلب وي نه د دنیا په ټولو مسلمانانو، په داسې حال کې چې نومورې ځان د نړی د ټولو مسلمانانو مشر بولي.

د اسلامي خلافت د قیام اهم هدف د مسلمانانو د مال،نفس، دین، عِرض ساتنه ده خو د عراق خلافت خو نه د مسلمانانو مال نه نفس نه عزت وساتلو بلکې دوی په دې جرم چې د دوی خلیفه سره یې بیعت ونه کړ، بشپړ قبیلي له منځه یوړې او قتل عام یې کړې چې ښه بیلکه یې د شعیطات د قبیلې عام وژنه وه.

«اوومه شپه»

اسلامي دولت د ټولو کافرانو په وړاندې واضح دریځ لري، په وطنیت او قومیت باور نه لري، د سایکس-بیکو حدود ردوي، په داسې حال کې چې طالبان یا نور اسلامي خوځښتونه په قومیت او وطنیت او د سایکس-بیکو په حدودو باور لري، چې د کافرانو په فیصلو باور کول دي او کفر دی.

ځواب:په ۱۹۱۶م کال د بریطانوي دیپلومات مارک سایکس او فرنسوي دیپلومات جورج پیکوټ تر مینځ د عثمانی خلافت له راپرځولو وروسته، یو ټرون رامینځ ته شو چې په مټ یې ټول منځنی ختیځ د بریطانیانو او فرانسویانو تر مینځ په وړو وړو دولتونو اویشل شو چې هماغه حدود تر اوسه په خپل حال دي، او د سایکس-پیکو حدودو په نوم یې یادونه کیږي.

دواعش د سایکس-پیکو حدودو ته ژمنتیا کفر بولي په داسې حال کې چې دوی لومړی خپل دولت په – الدولة الاسلامية في العراق- ونوماوه، وروسته دا نوم –الدولة الاسلامية في العراق والشام- ته واړول شو. سوال دا دی چې آیا دا عراق او شام هماغه د سایکس-پیکو حدود نه دي؟ چې تاسې لومړی خپل دولت تر عراقه بیا تر شام پورې وغځاوه؟ که دا عمل کفر وي خو بیا د دې کفر لومړی تاسې مرتکب شوي یې، او که تاسې له دې کفر توبه ایستلي وي نو اعلان کړی خپله توبه او له دې وروسته –الدولة الاسلامية في العراق والشام- مه لیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

مورِ په پولو باور نه لرو او دا پولې په مورِ تپل شوي دي چې فعلا يې مورِ د له منځه وړلو توان نه لرو او د خولې په لاپو شاپو الله تعالی نه يو مکلف کړي او نه د خولې لاپې شاپې د نبوي ص له سيرت سره آړخ لکوي. همدا ډول مورِ په قوم او وطن باور نه لرو خو ساحوي مجبوريتونو مورِ آړ کړي يو چې د خپلې مبارزې لپاره د حدودو د تاکلو غږ پورته کړو.

«اتمه شبهه»

د دواعشو ناخبره مفتيان خپلو اتباعو ته د مسلمانانو د وينو د تويولو لپاره دليل وايي: چې د اصلي کافرانو وړاندې بايد د دوی په اصطلا له مرتدينو سره جنګ وشي، او د أمت اجماع په دليل کې راوړي چې: قتال المرتد أولى من الكافر الأصلي.

<u>ځواب:</u> د اصولو د قانون له مخې چې مَبني په فاسد، فاسد وي. دوی دا دليل په يوې بلې فاسدې نظريې بنا کوي. هغه يو وار د مسلمانانو په شهاتو او ظنونو تکفير دی چې وروسته د همدې مسلمانانو وژل له کافرانو وړاندې بولي، او دليل وړاندې کوي چې د مرتد وژل له اصلي کافر څخه وړاندې دي.

مورِ د تکفير اسباب، شرايط، ظوابط، احکام وړاندې بيان کړي خو دلته د دوی د دې شبهې په ځواب کې په لنډو د امام ابن تيمية عبارت نقل کؤو، نوموړی وايی: فإنّهم يستحلّونَ دِماء أهل القِبلةِ لإعتقادهم أنّهم مُرتدون، أكثر ممّا يستحلّون من دماء الكفار – دوي د اهل قبله ؤ وينې په دې دليل د ځان لپاره حلالې بولې چې دا مرتدين دي، او د دوی وژل له کافرانو وړاندې دي{مجموع الفتاوى ج۲۸ ص۴۹۷}

«نهمه شبهه»

دواعش وايي: که اومنو چې زمورِ خلافت شرعي نه دی، بيا هم زمورِ په وړاندې جګړه د فتنې جنګ دی چې ترې اعتزال او ګوشه کيدل واجب دي.

<u>ځواب:</u> څومره ساده منطق؟ زما په وړاندې جنګ د فتنې جنګ دی او په مسلمانانو د دې جنګ څخه اعتزال لازم دی! نو جنګ خو د طرفينو په شتون کې کيږي، څومره له عقل لرې خبره ده چې يو وار دې جنګ هم د فتنې شي بيا دې يو طرف ځان په حقه اوبولي؟

«لسمه شبهه»

که فرضاً دوی خوارج هم شي، نو د دوی په صفونو کې خو داسې خلک هم شته چې دوکه کړل شوي، يا يې نيت د خير دی نو څنګه به په مطلق ډول د ټولو مرګ رواء شي؟

<u>ځواب:</u> کله چې د دوی ډله د خوارجو شوه او پر وړاندې يې جهاد فرض شو، نو دا حکم بيا ټولو افرادو ته شامل دی، امام نووي د بيداء د حديث لاندې ليکي: وفيه أن من كثّر سواد قومٍ، جرى عليه حكمهم في ظاهر عقوبات الدنيا .له دې حديث

ketabton.com - The Digital Library

معلومه شوه چې څوک چې د چا ډله زياته کړي، په دنياوي عقوباتو کې د همدې ډلې حکم پرې جاري کيږي .{شرح النووي جـ۱۸ صـ۷}

«يولسمه شبهه»

اسلامي دولت په طاغوت کافر دی په داسې حال کې چې اوسني ډير جهادي حرکات په طاغوت کافر نه دي بلکې له طاغوت سره موالاة او دوستي کوي.

ځواب: دا شبهه بيا تکفير ته ورل کيږي ځکه دواعش هغه چا ته هم طاغوت وايي چې ټول عمر يې په جهاد، هجرت، نصرت کې صرف کړی وي نو دلته بيا د تکفير بلا مکفر صورت دی چې مورږ ورانديې د تکفير په برخه کې پرې بحث کړی ؤ.

نهم فصل:

د داعش جنايات

څنګه چې په نبوي احاديثو کې د خوارجو په صفاتو کې يادونه وشوه چې دوی هغه څه وايي چې کوي يې نه، برّاق او ځليدونکي شعارونه کاروي، ولې په عمل کې بيا بل څه کوي. په عراق او شام کې د دوی جنايات او د دوی د ميډيا او ويندويانو کاذب شعارات سړي ته دا حديث ورپه يادوي: يُحسنون القِيل و يُسيئون الفعل.

د داعش وحشتونه جنايات له شميرنې وتلي خو مورږ يې يو څو نمونې ستاسو مخې ته ږدو.

ketabton.com - The Digital Library

د شيخ ابوخالد السوري بې رحمانه وژنه

د داعش د جرايمو په اوږده ليست کې د ابوخالد وژنه ترټولو شرمۍونکي او د دوی په مخونو لوی داغ دی ځکه ابوخالد د شيخ عزام، بن لادن او نورو د جهاد د مشهورو امامانو نړۍ ملګری تير شوی ؤ چې د داعش له لوړې په شهادت ورسول شو.

محمد بهيه، ابوعُميرالشامي چې وروسته يې په ابو خالد السوري شهرت وموند، د سوريې په حلب ښار کې په ۲۴/۱/۱۹۶۳م زيږيدلی ؤ. السوري د تيرې ميلادي پيړۍ په ۸۰يمه لسيزه کې له هغه وروسته پيښور ته راغلو کله چې په سوريه کې د حافظ اسد په وړاندې وسلوال پاڅون ناکام شو، چې نوموړی د پاڅون له مخکښانو څخه ؤ. دلته له عبدالله عزام سره يو ځای شو چې د عزام په توسط له بن لادن سره ملګری شو. نوموړی په ډيرو جهاتو کې وجنګيدو او د خپل شجاعت او ميړانې په مټ يې د ډيرو مجاهدينو توجه ځان ته راجلب کړه.

د روسانو له وتلو وروسته نوموړی بوسنيا ته لاړ هلته يې د سربانو په وړاندې د مسلمانانو په انتقامي بريدونو کې برخه واخيسته. وروسته نوموړي د عمر خطاب سره د هغه پيژندګلوی نه په استفادې چې د افغانستان په محاذ کې يې د ده سره لرله، له هغه سره يوځای شيشان (چيچنيا) ته لاړو. نوموړی هلته هم په بيلابيلو محاذونو کې وجنګيده چې په عراق له

ketabton.com - The Digital Library

امریکایي یرغل سره سم، نوموړی له چیچنیا څخه عراق ته راغلو او د لته له زرقاوي سره ملګری شو.

ابو خالد په اتیایمو کلونو کې د حافظ اسد، د بشارالاسد د پلار په وړاندې په وسلوال پاڅون کې هم برخه اخیستې وه چې په ۲۰۱۱م کال د بشار د نظام په وړاندې له وسلوال پاڅون سره سم نوموړی له عراقه سوریې ته راواؤښت او دلته یې د بن لادن په نوښت د احرارالشام الاسلامیة او دالجبهة الاسلامیة په نوم خوځښتونه تأسیس کړل. خو کله چې بغدادي خلافت اعلان کړ او له ابومحمد الجولاني سره یې ژور اختلافات پیدا شول ایمن الظواهري نوموړی د دوی تر مینځ حکم وتاکه چې همدا فیصله د ده په مرګ تمامه شوه.

ابوخالد السوري د جبهة النصرة په پلوی فیصله وکړه او له بغدادي یې وغوښتل چې خپل فعالیت تر عراق محدود کړي. نوموړي بغدادي او د ده ډله تورنه کړه چې په شام کې د مسلمانانو وینې په سستو او مزَخرَفو دلایلو ځان ته حلال بولې او

ketabton.com - The Digital Library

بغدادي يې په شام او عراق کې د جهاد فاسدونکی اوباله چې بالمقابل بغدادي د ده د وژلو فيصله صادره کړه.

۲۰۱۴م کال د فروری میاشتې په ۲۰ د جهاد او فداکاریو دنګ منار د سوریې په شمال کې د حلب ښار د حي الهلکة په سیمه کې د مجاهدینو ملګرو سره په سلا مشورو بوخت ؤ چې د بغدادي درې ځان وژونکو عسکرو د دوی په مرکز برید وکړ او نوموړی په دې برید کې د خپلو شپږو ملګرو سره یوځای په شهادت ورسیدو او د بغدادي عسکرو هغه څه ترسره کړل چې امریکا یې د ترسره کولو لپاره ۱۰ ملیونه ډالر جایزه ټاکلې وه. نوموړی چې د عمر دوه برخې یې د جهاد په مختلفو محاذونو، هجرت، نصرت، کې تیرې کړې وې، د امت علماؤ د ده د مظلومیت له کبله عثمان الشام (د شام عثمان) ونوماوه.

د بغداد خوارجو د نوموړي سابقې ته هم پام ونه کړ او هغه سپین کیږی چې ټول عمر یې د نړی په بیلابیلو جبهاتو کې کفار ټکولې ؤ، په شهادت ورساوه. ابوخالد السوري شهادت د شیخ بن لادن له شهادت وروسته دعرب مجاهدینو لپاره تر ټولو دردؤنکي پیښه وي.

ketabton.com - The Digital Library

د شيخ ابوسعد الخضرمی وژنه

ابراهيم سعيد العبدالله چې د سوريې د رقة ښار په جورنية کلي کې زيږيدلی ؤ، ډير عبادت ګذار، خوش اخلاقه انسان ؤ. نومورې چې په ابوسعد الخضرمي يې شهرت درلود، په عراق د امريکايي يرغل سره سم عراق ته لاړ او هلته يې د امريکايانو په وړاندې په جهاد کې برخه واخيسته چې په ۲۰۰۵م کال سوريې ته راستون شو. د بشار په وړاندې د پاڅون په لومړيو کې د بشار د استخباراتو له لورې دوه ځله بندي شو. په ۲۰۱۱م کال کې يې د بشار الاسد د رژيم په خلاف وسلې ته لاس کړ، او د ابومحمد الجولاني سره د عراق د محاذونه له تعارفه، ملګری شو او د رقة ښار لپاره د جبهة النصرة له لورې امير او د شرعي هيئت مشر وټاکل شو. نومورې د سوريايي پاڅون له مخکښانو څخه ؤ، په سوريه کې لومړی کس ؤ چې په لومړي وار يې د ټولې سوريې په سطحه د رقه ښار په بشپړ ډول فتح کړ او د اسد رژيم اولسمه مشهوره فرقه يې درې وړې کړه.

د بغدادي د خلافت له اعلان سره سم، نومورې له اسلامي دولت سره يوځای شو خو کله چې د اسلامي دولت له جبهة النصرة سره ستونزه راغله نو نومورې هم د شيخ ظواهري فيصلې ته منتظر شو، چې د ظواهري له فيصلې وروسته نومورې له اسلامي دولت سره خپل پريکون اعلان کړ او بغدادي يې په دې وجه باغي اوباله چې له ظواهري سره يې خپل بيعت مات کړی.

شل ورځې وروسته نومورې وتښتول شو چې په لومړي سر کې دواعشو داسې اوازې خپرولې چې ګڼې نومورې د يو څو قبايلي مشرانو له لخوا د اسد رژيم ته سپارل شوی دی چې له ځلورو مياشتو تيريدو وروسته عدناني په يوه بيان کې د هغه د وژلو پړه په غاړه واخيسته او نومورې يې مرتد اوباله او ځانونه يې د هغه په حق کې د الله د حکم نافذوونکي وبلل.

ketabton.com - The Digital Library

د ابومحمد الفاتح اود ده د کورنۍ د ټولو غړو وژنه

ابو محمد الفاتح په ۱۹۸۳م کال د سوريې د دمشق په ښار کې په يوه متدينه کورنۍ کې زيږدلی ؤ، نوموړي خپلې ابتدايي زده کړې له خپل پلار څخه په خپل کلي کې تکميل کړې چې د لوړو زده کړو لپاره د مصر د ازهر پوهنتون ته لاړ چې په ۲۰۰۴م کال کې يې په نبوي احاديثو کې دُکتورا ترلاسه کړه او په ۲۰۱۱م کال د لبنان د جامعة الجِنان څخه ماجيسترا حاصله کړه او خپلې سيمې ته راستون شو.

نوموړي په ۲۰۱۲م کال کې د شباب الهدی په نوم مسلح کروپ جوړ کړ او د بشار الاسد په وړاندې يې وسله واله مبارزه پيل کړه چې په ډيره کمه موده کې يې ډيرې سيمې فتحه کړې. وروسته يې د الاتحاد الاسلامي لاجناد الشام په نوم حرکت چې د

جبهة النصرة مربوط ؤ، مشري په غاړه واخيسته.

ketabton.com - The Digital Library

په ۱۵/۴/۲۰۱۴م تاریخ د ابو محمد کور ته د داعش له لوري څلور کسان ولیږل شول چې کواکې دوی میلمانه دي. دوی د شپې په ډیر قساوت ابو محمد او د ده ښځه، لور، دوه ځامن، یو ورور، او د هغه ښځه په شهادت ورسول. هغه څه چې په افغانستان کې وحشي امریکایي رابرټ بیلز د پنجوایي د ښځو او ماشومانو په حق کې ترسره کړل داعشیانو د سوریې د حارم په ښار کې د ستر غازي ابومحمد الفاتح د کورنۍ د ښځو او ماشومانو په حق کې ترسره کړل.

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

آيا انساني وجدان به دا اومني، چې د دې تنکيو ماشومانو سينې دې په ګولیو سورې سورې کړل شي؟ آيا دا د امريکايي ځناورو وحشت نه دی، چې په صليبي عقيده د مسلمانانو ماشومان په دومره وحشت شهيدانوي؟ آيا خلافت به داسې ځنګلي حيوانان قايموي؟

د شيخ جلال بابرلي شهادت

ketabton.com - The Digital Library

جلال بايرلي د سوريې دلاذقيه ښار د جبل التركمان اوسيدونکی ؤ نوموړی يو لوی فقيه، حنفي عالم ؤ، چې په خپله سيمه کې په الفقيه الحنفي باندې مشهور ؤ لوی عالم، زاهد، مجاهد ؤ.

نوموړی د لاذقيه د شرعي هيئت غړی ؤ، کله چې د داعش وسلوالو او د کتائب الهجرة الی الله تر مينځ په لاذقيه کې جنګ رامينځ ته شو او داعشي وسلوالو د ربيعة هسپتال قبضه کړ، نوموړی د دې لپاره چې د دواړو لوريو تر مينځ د ثالث رول اداء کړي او جنګ بند شي، ابوايمن العراقي ته ورغلو ترڅو د اوربند په اړه ورسره خبرې وکړي. خو کله چې ابوايمن ته معلومه شوه چې نوموړی د سيمې د شرعي شورى غړی دی هغه شورى چې د سيمې خلکو له لورې په دې منظور جوړه شوې وه، ترڅو د دوی ترمينځ نزاعات د شريعت له لارې حل شي، ابوايمن نوموړی په خپل لاس په ډزو شهيد کړ.

د ابوايمن په اړه مو د داعش د تشکيل په برخه کې خبرې کړي وې. نوموړی د صدام د بعثي حکومت په دوران کې د هوايي استخباراتو په برخه کې فعال غړی ؤ چې اوس په سوريه کې د داعش وسله والو مشري په غاړه لري. نوموړی د ډيرو مجاهدينو په قتل تورن دی.

شيخ ابو حازم البلد شهادت

ketabton.com - The Digital Library

د سوریايي مجاهدينو ترمينځ ابو حازم البلد د بشارالاسد د استخباراتو د عمومي مسئول جنرال جامع جامع په قاتل پيژندل کيدو. نوموړي غازي په يوه بي ساري تکتيک سره جامع جامع اواژه او په ټول سوریايي جهاد کې پي په لومړي وار د اسد رژيم ته دروند زيان ورواړاوه.

جامع جامع د اسد د رژيم د استخباراتو عمومي مسئول ؤ، چې د ډيرو مجاهدينو قاتل ؤ. نوموړی په جيلونو کې د سوريايانو په تعذيب ډير مشهور ؤ. په يوټيوب کې د ده د جيل د تعذيب کليپونه اوس هم شته چې همدا مجرم د صفوان الحنت ابوحازم البلد په لاس اوژل شو.

ابو حازم د جبهة النصرة له لورې د دير الزور والي ؤ چې د غدر په لاس شهيد کړل شو. نوموړی د داعش لخوا په دې وجه مرتد اوبلل شو چې د دوی مزعوم خليفه سره يې له بيعته انکار وکړ او په شهادت ورسول شو.

نقيب ادريس اوغلي

ابوعبدو په دير الزور کې د جبهة النصرة وتلی نظامي قومندان ؤ چې د داعش له لورې په شهادت ورسول شو. اوغلي په سوريه کې د امريکايانو له لورې د مطلوبينو په ليست کې ؤ.

ابوبصير اللاذقاني

ابو بصير د کتائب عزالدين عبدالسلام مسئول ؤ او د سوريې په لاذقيه کې د داعش په لاس شهيد کړل شو

ketabton.com - The Digital Library

ابو المقدام (قناص الدبابات)

مثنی عبدالکریم الحسین چې په ابو المقدام يې شهرت درلوده، د سوريې په ادلب ښار کې زیږیدلی ؤ چې په ۲۰۱۲م کال کې د سوریايي پاڅون کونکو سره ملګری شو. نوموړی د حرکة احرارالشام سره ملګری شو او د سوریايي نظام په وړاندې يې په ډیرو معرکو کې برخه واخیسته. ابوالمقدام د کورنیت، ټانک ضد توغندي په ویشتلو کې خاص مهارت درلود چې له امله يې د دشمن تر اتیا پورې زغروال ټانکونه په همدې توغندي د اور خوراک کړي ؤ. مجاهدینو به چې کله په کومه سیمه کې د غټ برید پلان درلود، ابو المقدام به يې دعوت کولو. نوموړی د مجاهدینو تر مینځ په قناص الدبابات (د ټانکونو ښکاري) باندې

مشهور ؤ.

ketabton.com - The Digital Library

په ۱۶/۵/۲۰۱۴ نومورې د داعش د تلاشی له يوې پوستې تيريده چې کله هغوی اوپژنده راکوز يې کړ او د ارتداد په تور يې د ده مرۍ په چاړه پرې کړه او د اسلام دا لوی مجاهد يې په ډير وحشت او قساوت شهيد کړ.

ابوعبيدة البنشي

بنشي د حلب په يوه هسپتال کې د کومکي ډاکټر په توګه دنده ترسره کوله چې د داعش له لورې اوژل شو خو په لومړي سر کې دوی د بنشي له وژلو انکار کاوه، دا چې بنشي په تنظيمي لحاظ په حرکة احرارالشام الاسلامية پورې تړلی ؤ نو دوی د بنشي د قتل په اړه د داعش څخه د يوې مستقلې شرعي محکمې غوښتنه وکړه چې له دير ټال مټال وروسته دا دوسيه وتړل شوه.

د داعش له لورې په سوريه کې وژل شوي مجاهدينو اجمالي لست

۱ - ابو خالد السوری

پوست : امير حلب

تنظيم : الجبهه الاسلاميه

۲ - ابو حسين الديک

پوست : نظامي قومندان

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۳ - ابو ريان

ketabton.com - The Digital Library

پوسټ : قومندان تل ابيض

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۴ - ابوعبيده البنشی

پوسټ : المسئول الاغاثی

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۵ - عبدالقادر العجيل

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۶ - ابو المقدادم

پوسټ : مسئول توپچي

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۷ - عدنان بکور

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۸ - عمار ليلی

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۹ - عمر قدور

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۱۰ - ابو الخطاب

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۱۱ - ابو هارون

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

ketabton.com - The Digital Library

۱۲ - ابو عبد السميع

پوسټ : مسئول شرعی

تنظيم: الجبهه الاسلاميه

۱۳ - ابو دجانه

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: جبهه النصره

۱۴ - ابو حازم

پوسټ : امير دير الزور

تنظيم: جبهه النصره

۱۵ - ادريس اوغلی

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: جبهه النصره

۱۶ - ابو اسامه

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: جبهه النصره

۱۷ - ابو البراء التونسی

پوسټ : مسئول شرعی

تنظيم: جبهه النصره

۱۸ - ابو المثنی

پوسټ : نظامي قومندان

تنظيم: جبهه النصره

۱۹ – علي الهجر

پوسټ : مسئول شرعی

تنظيم: جبهه النصره

۲۰ - ابو اليمان

پوسټ : نظامي قومندان

ketabton.com - The Digital Library

تنظيم: جبهه النصره

۲۱ - وليد الاجدع

پوست : نظامي قومندان

تنظيم: جبهه النصره

۲۲ - ابو فيصل

پوست : مسئول شرعی

تنظيم: جبهه النصره

۲۳ - ابو محمد الفاتح

پوست : امير ادلب

تنظيم: جبهه النصره

۲۴ - ابو سعد الحضرمی

پوست : امير الرقه

تنظيم: جبهه النصره

۲۵ - ابو جندل

پوست : امير البوکمال

تنظيم: جبهه النصره

۲۶ - ابو سراج الانصاری

پوست : مسئول شرعی

تنظيم: جبهه النصره

۲۷ - ابو عائشه العراقی

پوست : نظامي قومندان

تنظيم: جبهه النصره

۲۸ - ابو الليث

پوست : قاضی شرعی

تنظيم: الهيئه الشرعيه

۲۹ - عبدالحافظ الجريان

ketabton.com - The Digital Library

پوسټ : قومندان

تنظيم: جماعه التوحيد و الجهاد

۳۰ - ابو سليمان الحموی

پوسټ : قومندان

تنظيم: جند الشام

۳۱ - ابو بصير

پوسټ : قومندان

تنظيم: کتائب العز بن عبد السلام

۳۲ - ابوبکر الادلبی

پوسټ : قومندان گردان

تنظيم: جيش الحر

۳۳ - جلال بايرلی

پوسټ : مسئول شرعی

تنظيم: الهيئه الشرعيه

۳۴ - ابو اسلام

پوسټ : قومندان گردان

تنظيم: جيش الحر

دا په سوريه کې د داعش له لورې د وژل شويو هغو مجاهدينو ليست ده چې رسمي مسئولين او لوی لوی قومندانان ؤ، خو د عراق بعثي جنرالانو په دې جرم وژلي چې د دوی مزعوم خليفه سره يې له بيعته انکار کړی ؤ.

د داعش له لورې په سوريه کې د مسلمانانو عام وژنه

د شعيطات عام وژنه(مجزرة الشعيطات)

شعيطات دسوريې د ختيځ په ديرالزور کې يوه مشهوره قبيله ده چې د عکيدات قبيلې يو شاخ دی او د ديرالزورپه درو کليو ابو حمام، الکشکية، غرانيج کې اباد دي. شعيطات په سوريه کې لومړنۍ قبيله وه، چې د بشار په وړاندې يې سوله ييزې مظاهرې وسله وال پاڅون ته واړولې او دير الزور يې په بشپړ ډول له سورياي رژيم څخه پاک کړ. شعيطات د ټولو سورياي قبايلو تر مينځ په ميلمه پالنه، زړورتيا، شهرت لري. کله چې بغدادي د خلافت دعوی وکړه او خپل قوت يې د سوريې په لورې

ketabton.com - The Digital Library

نقل کړ، په شعيطات قبيله يې له دې وجې سترګې خښې شوې چې د سوريې په سطحه شعيطات تر ټولو ډير د تيلو څاګان لري چې ترټولو مشهور او لوی څاه يې د حقل العمر په نوم دی.

ابو علي الشعيطي د شعيطات له قبيلې څخه د بغدادي سره بيعت وکړ او له ټولې قبيلې يې د بغدادي سره د بيعت غوښتنه وکړه چې د شوری المجاهدين له لورې ونه منل شوه. شوری المجاهدين د سوريې د مجاهدينو له مختلفو ډلو لکه جبهة النصرة، احرارالشام او نورو څخه جوړ شوی د شعيطات قبيلې د مجاهدينو تشکيل ؤ. د بغدادي عسکرو په شعيطات د برید تکل وکړو خو دا چې شعيطات د اسد رژيم څخه په لوی مقدار سپکې او درنې وسلې نيولې وې نو داعش پرې حملې ته زړه ښه نه کړ او د راتلونکې کومې موقع په انتظار پاتې شول او د شعيطات سره يې يو ټرون لاسليک کړ چې داعش به د دوی په چارو کې لاسوهنه نه کوي او په بدل کې به شعيطات د داعش په وړاندې له جنګه لاس اخلي.

خو دا معاهده هغه وخت د داعش په غدر ماته شوه چې کله دوی د دې قبيلې د يوه ځوان د واده په مراسمو چاپه اوهله او دغه ځوان يې اواژه، چې بالمقابل د شعيطات قبيلې ځوانانو د داعش په مرکز چاپاؤ راوړ او د داعش ځايي مشر يې اواژه او د دوی سيمه ييز مرکز يې وسوځاوه. داعش د فرقة القصاص په نوم يوه لويه قوه چې په سپکو او درنو وسلو سمبال وه، د شعيطات د عام وژنې لپاره راولېږله چې له څلورو لوريو يې د دوی کليو ته امريکايي توپونه نصب کړل.

ابوعبدالله الکويتي د داعش هغه مفتي ؤ چې د شعيطات د قضيې په اړه فيصله ورته وسپارل شوه. نومورې د دوی په هکله د بنوقريظه ؤ فيصله وکړه، هغه چې سعد بن معاذ د يهودانو په هکله کړې وه، چې د دوی هر محتلم (بالغ) کس دې اوژل شي او ټول مالونه او کورونه دې يې غنيمت کړل شي او ښځې دې وينځې وګرځول شي. ابوعبدالله همدا فيصله د شعيطات د سني مسلمانو قبائلو په هکله واؤروله، چې د داعش له لورې له څلورويشتو ورځو جنګ وروسته دوی د شعيطات درو کليو ته ننوتل او په عام وژنه يې پيل وکړ.

د يادونې وړ ده چې د داعش دا لوی مفتي ابوعبدالله الکويتي تير کال په خپله د داعش له لورې په دې تور اوژل شو چې نومورې د سويس د استخباراتو جاسوس دی او هغوی ته يې جاسوسي کوله. الله اکبر د دوه نيم زره کسانو د قتل مفتي د سويس د استخباراتو ايجنټ وخوت!!!

داعشيان چې کله دير الزور ته ننوتل، ټول شعيطيان ښځې او نر يې راټول کړل او له ځوارلسو کالو پورته ځوانانو په وژلو او نيولو يې لاس پورې کړ، چې په ۲۴ ساعتونو کې يې ۱۲۰۰ کسان له تيغه تير کړل او اتلس سوه کسان ژوندي ورک شول. دا هغه کسان نه ؤ چې د دوی سره يې مخامخ جګړه کړې وه ځکه هغوی ډيری له منطقې وتلي ؤ، يواځې عام کليوال او بې ګناه عام وګړي پاتې ؤ.

https://issdarat.net/2014/09/07/fshared2/

دوه مياشتې وروسته د داعش ساحرې او کاذبې ميډيا د الاعتصام په نوم رسمي ستوډيو د (فشرد بهم من خلفهم) د لړۍ دويمه برخه نشر کړه چې په لومړي سر کې پکې د يوه هوايي ډګر د فتحې عمليات ځای شوي او په ۱۵ دقيقه کې همدا د

ketabton.com - The Digital Library

شعيطات قبيلې سني ځوانان ليدل کيږي چې په بدن قميص اوپرتوګ نه لري او په نيکرونو کې په لويو لويو مزدو موټرو کې بارول کيږي. لاندې ترې ليکل شوي (نصيري پوځ د خپل انجام په لوړې) چې کواکې دا کسان د پوځ منصبدران دي او دوی ژوندي نيولي او اوس يې اعداموي په داسې حال کې چې په لاندې لينک کې مشاهده کولی شی چې نوموړي کسان اصلا د شعيطات قبيلې پې دفاع او پې ګناه ولسي وکړي دي چې د سويس د استخباراتو د يو جاسوس په فتوی ترې قميص او پرتوګ ايستل شوي او د نصيري پوځ په نوم وژل کيږي.

https://m.youtube.com/watch?v.Q4OMmuwOunI

ځومره لوی تحريف او تزوير؟ لومړی خو په هغوی د بنوقريظه ؤ حکم کول، د داعش د جاهلو مفتيانو له احکامو ناخبري په ډاکه کوي. ځنګه دوی په يوه مسلمانه سني قبيله چې يواځنۍ جرم يې د بغدادي له بيعته انکار دی، د بنوقريظه ؤ حکم کوي؟ چې اصلا هغه حکم د يهودانو غدارانو په اړه شوی ؤ ځکه هغوی له مسلسلو غداريو سره سره، وروستی لويه غداري په مسلمانانو پسې د احزابو راټولول ؤ، چې له امله يې مسلمانانو ته سخت درد ورسيدو. بيا د دوی د ميډيا دومره لوی تحريف چې د شعيطيانو عام وژنې ته يې د نصيري پوځ د عسکرو نوم ورکړ.

داعش له دې درواغو او تحريف ځخه د ميډيا په زور په خلکو رعب غورځول غواړي چې د صدام د پوځ بعثي جنرالان په دې برخه کې خورا لوړه تجربه لري.

شعيطيان له کورونو وشړل شول او د دوی ټول مالونه، ځاوري، او نور سامانونه د داعشي غازيانو له لوړې غنيمت کړل شول، چې له ډيرې مودې وروسته نورو قبايلو د داعش مشر بغدادي ته درخواست وکړ چې شعيطيان معاف کړي او پريږدي چې خپلو کورونو ته واپس شي.

بغدادي په لاندې شروطو موافقه وکړه چې شعيطيان دې خپلو کورونو ته واپس شي.

(۱) هر شعيطي به په خپل ځان د کفر اعتراف کوي، له نوي سره به کلمه وايي، چې د توبې په هغه اوراقو کې چې په شعيطيانو به تقسيميدې لومړی همدا شرط ليکل شوی ؤ.

(۲) تر ابده پورې، که د هر شعيطي سره وسله کيږ شوه په همدې خپله وسله به وژل کيږي.

(۳) که اسلامي دولت ته کوم مطلوب کس د چا په کور کې ونيول شو نو د هغه کور به د ده او د ده د فاميل په سر راړنګول کيږي او ټول فاميل به يې وژل کيږي.

(۴) هر شعيطي به د داعش د نفوسو د ثبت مرکز سره خپل ځان راجيستر کوي چې د ګوتو نشانونه او عکسونه به يې هلته ثبتيږي.

ketabton.com - The Digital Library

(۵) هر شعيطي چې عمر يې له ۱۴ کالو اوښتی وي، د داعش له لورې په سيمه کې جوړو شويو شرعي دورو کې به شرکت کوي، چې دا شرعي دورې د د ورځې په جريان کې يو ساعت د سهار له خوا يو ساعت د ماښام لخوا وي. د يادونې وړ ده چې داعش چې کله کومه سيمه لاندې کړي، هلته د خپل تکفيري، خارجي فکر د خورولو لپاره عامو خلکو ته شرعي دورې شروع کوي چې په ځايي اوسيدونکو دغو دورو ته حاضريدل اجباري وي.

په لاندې لينک کيکاږلو سره د شعيطاتو د پيښې په اړه په مستند ډول ډير څه ليدلی شی

http://m.youtube.com/watch?sts.16903&utcoffset.300&v.UDXRFl0mCP4&has_verified.1&client.mv-google&layout.mobile

د بوکمال عام وژنه (مجزرة البوکمال)

بوکمال د سوريې په ختيځ کې پروت ښارګوټی دی چې د دير الزور مربوط دی او د فرات سيند د عراق سره د بوکمال له حدودو نښليدلی، چې د عراق له تدمر سره پوله لري او په سوريه کې تر ټولو د نفطو غني سيمه بلل کيږي چې ترټولو لوی ځاه پکې د کونيکو په نوم ياديږي. بوکمال په ۲۰۱۴ م کال کې د جبهة النصرة او جيش الحر په ګډو عملياتو کې د اسد له رژيم څخه په مکمل ډول تصفيه شو. جبهة النصرة هلته د اداري چارو سمبالښت په غاړه واخيست او د الهيئة الشرعية د تشکيل لپاره يې ابواللیث د مسئول په توګه وټاکه.

صدام الجمل چې د احفاد الرسول په نوم لوا مسئول ؤ، په سيمه کې د شرعي هيئت له لورې په ناروا وژنو، غلاؤ، اختطافونو مجرم اوپيژندل شو چې له سيمې وتښتيدو او د دواعشو له خليفه سره يې بيعت وکړ. دواعش چې له وخته موقې ته په طمع ؤ، دا فرصت يې غنيمت اوباله او د بوکمال اهميت ته په پام يې د دې ښارګوټي د نيولو لپاره قوا وليږله چې هغوی لومړی په عامه ځايونو کې ځانوژوکي بريدونه تر سره کړل او بيا يې هلته د عامو مسلمانانو په وژنه پيل وکړ.

د بوکمال په عام وژنه کې د جبهة النصرة سيمه ييز مسئول ابواللیث هم اوژل شو او د لواء القادسية مجاهدينو ته لومړی د داعش له لورې امن ورکړل شو چې وروسته په غدر ټول شهيدان کړل شول. د بوکمال په عام وژنه کې د داعش په لاس په ۱۰ ساعتونو کې ۱۸۰ کسان اوژل شول. په بوکمال کې د داعش مستند وحشتونه په لاندې ويډيويي لينک کې کتلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.wmAWr9qoEWM

https://m.youtube.com/watch?feature.youtu.be&v.F9LLkFQbPd4

ketabton.com - The Digital Library

صدام الجمل چې په سيمه کې يو لوی غل او اختطافکر بلل کيده، د داعش سره له بيعت وروسته الشيخ المجاهد شو او د سيمه ييزو مسلمانانو په کورونو يې بريدونه او چاپې پيل کړې، چې مستنده ويډيو يې په لاندې لينک کتلی شی

http://youtu.be/qtPkr8iGbLU

د رقة عام وژنه (مجزرة الرقة)

رقه ښار د سوريې په شمال کې پروت، د سوريې تر ټولو لوی او تاريخي ښار دی چې د تيلو لوی لوی څاه کان لري. داعش چې سوريې ته راننوت نو لومړی يې په همدې ښار قبضه وکړه. دا په دې خاطر چې دوی نه غوښتل چې د دوی د مزعوم خلافت مرکز دې عراق وي ځکه دوی د هغو احاديثو څخه په ويره کې ؤ، چې د عراق د فتنو په اړه وارد شوي دي نو دوی غوښتل چې د امت له دې تنقيده ځان وژغوري. رقه ښار د جبهة النصرة او احرارالشام له لورې د سوريايي نظام څخه ونيول شو، خو دواعشو اوغوښتل چې دا مهم ستراتيژيک ښار تر خپلې ولکې لاندې راولي، چې له څو اونيو پرلپسې بريدونو وروسته دوی وتوانيدل چې دې ښار ته ننوځي. د احرارالشام او جبهة النصرة په سلګونو مجاهدينو د سوريايي نظام ۱۷فرقه محاصره کړي وه چې دواعشو دوی ته کلکې وعدې ورکړې، چې که دوی خپلې اسلحې ورته وسپاري نو په رقه کې به د وينو د تويدو مخه ونيول شي. مجاهدينو همداسې وکړل او د دوی په وعدو يې باور وکړو او دوی له څو ورځو سلا مشورو وروسته پريکړه وکړه چې خپلې وسلې دوی ته وسپاري. خو دواعشو د دوی سره له کلکو لوزونو باوجود، دوی ته لاسونه د شا لخوا وروټرل او ټول ۱۷۰ کسان يې په مرميو او چرو اوژل.

د رقه ښار په سلوک سيمه کې د هوته په نوم يو لوی غار موجود دی چې ژوروالی يې زرګونو فوټه ته رسيږي، د داعش جنګيالي په يوه ويډيو کې ليدل کيږي چې د دوی له لورې وژل شوي مجاهدين همدغه غار ته غورځوي.

کله چې دواعشو د رقه ښار ونيو، د جبهة النصرة د ځايي مشر ابوسعد الخضرمي له وژلو ورسته يې هلته نور په لسګونه مجاهدين په عام محضر کې د دې ايت په استناد اوژل، چې إنّما جزاء الذين يحاربون الله الآية.

د رستين عام وژنه (مجزرة الرستين)

رستن د حمص د ريف يو ښارګوټی ده چې د داعش له ورتک وراندې د سيمې خلکو د داعش په خلاف مظاهرې وکړې او په يوه صادر شوي بيان کې يې د دوی سيمې ته د داعش ورتلل وغندل. خو کله چې دوی په کلي حمله وکړه لومړی يې د خالد بن الوليد د لواء مشر همام الديک اواړه وروسته يې د هغو خلکو په نيولو او وژلو پيل وکړ چې په مظاهرو کې يې کډون کړی ؤ. دوی په يوه برید کې د ۵ښځو او۴ماشومانو په کډون ۱۶ بې ګناه عام وګړي اوژل. د رستين د وژنو مستنده ويډيو په لاندې لينک کتلی شی

ketabton.com - The Digital Library

https://m.youtube.com/watch?v.FjrPq5HFg4I

په جرابلس کې د لواء التوحيد د غړو عام وژنه (مجزرة جرابلس)

د جرابلس ښارګوټی د سوريې په شمال ختيځ د حلب په ريف کې پروت دی. جرابلس ته له ننوتو سره سم دواعشو د لواء التوحيد په غړو حمله وکړه چې په يو دم يې ۸۰ کسان اوژل چې د دوی سرونه يې په ځيخونو کوږي کړل او بيا يې ورسره افتخاري او يادګاري عکسونه واخيستل. په لاندې ورکړل شوي لينک کې د جرابلس عام وژنه ليدلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.rfh5wVPtb3A

د حارم په زندان کې عام وژنه (مجزرة سجن حارم)

حارم د ادلب په ريف کې يو ښارګوټی دی کله چې پرې د بغدادي پلويانو خپله ولکه ټينګه کړه نو ځايي خلک يې په ډول ډول بهانو او جنايي جرمونو د حارم په مشهور زندان کې بنديان کړل، خو چې په دوی د مجاهدينو پريکنده بريدونه شروع شول او دوی ار شول چې دا ښار پريږدي، په دې زندان کې ټول بنديان هغه که سياسي ؤ او که جنايي؛ اوژل. په دې پيښه کې د داعش په لاس ۶۶ کسان په داسې حال کې وژل شوي ؤ چې لاسونه يې ترشا تړل شوي ؤ. چې په مستند ډول يې په لاندې لينک کې کتلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.0T9KQTagqK8

http://www.youtube.com/watch?v.4iPZnjiGUhA&feature.youtu.beد حارم د زندان د عام وژنو بله مستنده ويډيو:

د کفرحمرة په ښارګوټي کې په معهد الکهرباء کې عام وژنه(مجزرة معهدالکهرباء)

کله چې دواعش د حلب د کفرحمرة له ښارګوټي وشړل شول شاته يې لويه عام وژنه پريښوده. په معهدالکهرباء نومي ودانی کې د دې ښار د عامو خلکو په لسګونه جسدونه اومندل شول، هغه چې دوی په يوه او بل تور له ځان سره بنديان کړي ؤ. د دوی ترمينځ کم عمره ماشومان هم ؤ، چې د ټولو وژل شويو شمير ۱۷۰ کسانو ته رسيدو. په لاندې لينک کې د معهد الکهرباء د عام وژنه ويډيو کتلی شی

https://m.youtube.com/watch?v.P9tUWRwwASw

دا هم د معهد الکهرباء بله زړه بورنونکي ويډيو چې داعشيانو د کلي په لسګونه عام خلک وژلي او بيا يې ځاه ګانو ته د دوی جسدونه غورځولي دي.

ketabton.com - The Digital Library

https://m.youtube.com/watch?v.LmVrN_iMDoI+%E2%80%A6+%28https%3A%2F%2Fwww.youtube.com%2Fwatch%3Fv%3DLmVrN_iMDoI%C2%A0%E2%80%A6%29

د حلب د روغتون عام وژنه(مجزرة مشفى حلب)

په حلب ښار کې ځايي اوسيدونکي د داعش د ځينو کړنو په وړاندې په سوله ييزو مظاهرو راوتل چې د داعش د ځايي مشر ابواللیث الانصاري په حکم ټول مظاهره کوونکي د حلب روغتون ته راټول کړل شول او په ډليز ډول اوژل شول چې شمېره يې تر ۲۳۰کسانو رسيده. د وژل شويو په مينځ کې داسې ماشومان هم شامل ؤ چې عمرونه يې له ۱۲ کالو ښکته ؤ. په لاندې لينک کې په دې اړه ليدلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.yVd4AvLPdfw

او دا هم د حلب د روغتون د عام وژنې بله مستنده ويډيو

https://m.youtube.com/watch?v.RynUqIq_JFI

او دا يې بله

(https://www.youtube.com/watch?v.J021SwRtitA%C2%A0%E2%80%A6)

په حلب کې د خبريالانو عام وژنه (مجزرة الاعلاميين حلب)

په ۲۰/۱/۲۰۱۴م داعشيانو په حلب کې ټول خبريالان او د مطبوعاتو کارکوونکي راغوند کړل. دا کسان چې شمېر يې ۸۸ کسانو ته رسيدو تر ډيره وخته د داعش سره بنديان ؤ خو کله چې دواعش له حلب څخه وشړل شول، پرته د ښه او بد د تميز پې ټول خبريالان په جماعي ډول اوژل. چې په لاندې لينک کې يې په مستند ډول ليدلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.nsPWKEvxGAc

د رتيان عام وژنه (مجزرة رتيان)

دواعشو په حلب کې بله بوږنونکي عام وژنه په رتيان ښارګوټي کې ترسره کړه چې قربانيان يې تر ۶۷ رسيدل او ټول عام بې ګناه خلک ؤ. په لاندې لينک کې يې اوګورئ.

https://m.youtube.com/watch?v.O43rg1OH3t4

د مِنغ د هوايي ډګرعام وژنه (مجزرة مطارمِنغ)

منغ په حلب کې نظامي هوايي اډه ده چې د سوريايي مجاهدينو له لورې ونيول شوه او داعشيان ترې وشړل شول خو دوی بيا

ketabton.com - The Digital Library

هم هلته د دوی سره ټول بندیان په ډلییز ډول اوژل، چې په لاندې ویډیو کې یې په لیدلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.sTwtyk_gZZI

د حریتان عام وژنه (مجزرة حریتان)

حریتان د حلب په شمال لویدیځ کې پروت دی چې دلته هم داعشیانو د عام ولس په وړاندې نه بښونکی جنایت ترسره کړ. دوی چې کله له حلب وشړل شول شاته یې د ځایي ولسي خلکو ډلییز قبرونه پریښودل چې په لاندې ویډیویي لینک کې کتلی شی چې په څومره قساوت بی دفاع ولسي خلک وژل شوي دي.

https://m.youtube.com/watch?v.LmVrN_iMDoI

دا یې دویم ویډیویي لینک چې د داعش په یوه قرارګاه کې د ولسي خلکو یو ډلییز قبر موندل کیږي

https://m.youtube.com/watch?v.NiwX9FZ-Kmc

په شیخ نجارکې عام وژنه (مجزرة شیخ نجار)

شیخ نجار د سوریې د حلب مربوط ښارګوټی دی چې د داعش له وتلو وروسته هلته هم یو ډلییز قبر اومندل شو چې پکې د هغه خلکو مړي اومندل شول چې د داعش له لورې په یوه او بله بهانه نیول شوي ؤ.

https://m.youtube.com/watch?v.DbhT7jVEnSY+%E2%80%A6

د دیرحسان عام وژنه (مجزرة دیرحسان)

دیر حسان د سوریې د ادلب ښار مربوط ښارګوټی دی چې هلته هم داعش ورته وحشتونه کړي دی او د دوی له وتلو وروسته هلته ډلییز قبر اومندل شو چې تر ۴۸ کسانو مړي پکې اومندل شول.

په لاندې لینک کې یې لیدلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.3HQCn1b_z6s+%E2%80%A6+%28https%3A%2F%2Ft.co%2FFY2cnmWw74%29

د اعزازد الفیصل په ژرنده کې ډلییزقبراوعام وژنه (مجزرة اعزاز)

اعزاز د حلب په شمال کې پروت ښارګوټی دی. کله چې داعشیان د دې ښار څخه شړل کیدل نو لومړی یې د الفیصل په نوم لویه ژرنده چې ۴۰۰ کسانو مزدورانو پکې کار کولو، ړنکه کړه بیا هلته د اعزاز په ځایي روغتون کې، هغه چې د ولسي وکړو لپاره ؤ ټول درمل وسوځول. په دې هم بسنه ونه شوه بلکې د دوی له وتلو وروسته هلته ډلییز قبر اومندل شو چې د سیمې د هغو خلکو مړي پکې وومندل شول چې د داعش له لورې له خپلو کورونو نیول شوي ؤ. په لاندې لینک کې یې په مستند ډول اوګورئ.

https://m.youtube.com/watch?v.7L5p0Ok3SUA+%E2%80%A6

ketabton.com - The Digital Library

دا هم په اعزاز کې د ډلییزو وژنو بله ویډیو.

https://m.youtube.com/watch?v.Ed_pnozDPVo

دلته بله ویډیو هم لیدلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.wMl5x-cJWB8

دا هم په اعزاز کې د داعش د وحشت او ظلم بل ثبوت.

https://m.youtube.com/watch?v.z3CQw0Zhuw0

په مرکدة ښارګوټي کې عام وژنه (مجزرة مرکدة)

مرکدة د سوریې د حسکة ښار مربوط ښارګوټی دی. کله چې د سیمې اوسیدونکو د داعش د شړلو لپاره عملیات پیل کړل، داعشیانو د غراد په نوم د امریکایي توپونو خولې د کلي د عامو اوسیدونکو په لوري وروړولې چې په دې بریدونو لسګونه عام کلیوال اوژل شول. په لاندې لینک کې یې لیدلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.TDG9J5KVwHM

دا هم د دې وحشت لپاره بل ویډیویي ثبوت

https://m.youtube.com/watch?v.TDG9J5KVwHM

په دانا کې ډلییز قبر او عام وژنه (مجزرة دانا)

دانا د ادلب په ۳۶ کیلومتری کې پروت د دې ولایت مربوط ښارګوټی دی، چې هلته هم داعش ډلیزه عام وژنه کړې او د دوی له وتلو وروسته د دوی په یوه قرارګاه کې د کلي د عامو وګړو یو ډلییز قبر اومندل شو. په لاندې ویډیویي لینک یې کتلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.0uJ7YihEW4s+%E2%80%A6

د رام حمدان عام وژنه (مجزرة رام حمدان)

رام حمدان د ادلب په مرکز کې پروت ښارګوټی ده چې هلته هم دواعشو د عام ولس په وړاندې نه بښونکی جنایت ترسره کړی. په لاندې ویډیویي لینک کې یې اوګورئ.

https://m.youtube.com/watch?v.aKXdMDUG5V8

https://m.youtube.com/watch?v.6IR8mZR60SE

د تل رفعت عام وژنه او ډلییز قبر (مجزرة تل رفعت)

تل رفعت د سوریې د حلب ولایت مربوط ښارګوټی دی، چې دلته هم داعش د مالکیه په کلي کې د مسلمانانو عام وژنه وکړه

ketabton.com - The Digital Library

چې له سيمې څخه د دوی له شړل کيدو وروسته هلته ډليز قبر اومندل شو چې قربانيان يې تر ۴۰ کسانو رسيدل. دا هم تاسو او دا مو د دې عام وژنې ويډيو.

https://m.youtube.com/watch?v.a0R7q1KW1z0

دا يې هم دويمه ويډيو

https://m.youtube.com/watch?v.W-CRlpDhPL8

او دا هم دريمه ويډيو له يوې دردونکي عربي تراني سره

https://m.youtube.com/watch?v.pQxXCrCXpvs

په حلب کې د يوه فاميل د ټولو غړو، د ښځو ماشومانو وژنه. په لاندې ويډيوې لينک کې

https://m.youtube.com/watch?v.fwpImIKWjqI

الله اکبر! څومره دردۀنکي؟ څومره سوي سوي کړيکي؟ ايا الله تعالی به د دې مظلومانو انتقام نه اخلي؟ ايا داسې ځناور به اسلامي خلافت قايموي؟ ايا اسلامي خلافت د مسلمانانو د وينو په تويولو قايميداي شي؟

په يوه مياشت کې ۴۶ ځان وژونکي بريدونه

لاندې درته د ۲۰۱۴م کال د يوې مياشتې احصائيه مخې ته ږدو. داعشي جنګياليو په سوريه کې په مجاهدينو په يوه مياشت کې ۴۶ ځان وژونکي بريدونه ترسره کړي دي چې په دې موده کې يې د اسد په رژيم يو برید هم نه دی ترسره کړی.

شماره	هدف	ځای	تاریخ	د قربانیانو شمیر
۱	د احرارالشام یوه پوسته	رام حمدان (حلب)	۱۳/۱/۲۰۱۴	۲۱ شهیدان
۲	الجبهة الاسلامية	الاتارب (حلب)	۱۶/۱/۲۰۱۴	۲ شهیدان
۳	لواء التوحيد (الجبهة الاسلامية)	قرية جازر (اعزاز)	۱۷/۱/۲۰۱۴	۹شهیدان
۴	صقورالشام (الجبهة الاسلامية)	قرية افس (ادلب)	۱۱/۱/۲۰۱۴	۳شهیدان
۵	د سيوف الحق مجاهدينو يوه قرارگاه	سراقب(ادلب)	۱۱/۱/۲۰۱۴	۴شهیدان
۶	لواءالتوحيد(الجبهة الاسلامية)	د هنانو کلی(حلب)	۱۱/۱/۲۰۱۴	۵شهیدان
۷	د جبهة الاسلامية قرارگاه	د هنانو کلی (حلب)	۱۱/۱/۲۰۱۴	۷شهیدان
۸	حرکة احرارالشام	الميادين(ديرالزور)	۸/۱/۲۰۱۴	۴شهیدان
۹	لواءالتوحيد	الباب(حلب)	۸/۱/۲۰۱۴	۴شهیدان
۱۰	لواءالتوحيد (الجبهة الاسلامية)	جرابلس	۱۵/۱/۲۰۱۴	۳۰شهیدان
۱۱	لواءالتوحيد (الجبهة الاسلامية)	جرابلس	۱۵/۱/۲۰۱۴	۷شهیدان
۱۲	لواءالتوحيد (الجبهة الاسلامية)	تل رفعت(حلب)	۱۶/۱/۲۰۱۴	
۱۳	لواءالتوحيد (الجبهة الاسلامية)	کفرنايا	۱۶/۱/۲۰۱۴	

ketabton.com - The Digital Library

١٤	لواءالتوحيد (الجبهة الاسلامية)	منبج(حلب)	١٧/١/٢٠١٤	٦شهيدان
١٥	لواءالتوحيد (الجبهة الاسلامية)	معبرباب السلامة	١١/١/٢٠١٤	٤شهيدان
١٦	الجبهة الاسلامية	البريج	٢/١/٢٠١٤	١٢شهيدان
١٧	الجبهة الاسلامية	قرب باب السلامة	١١/١/٢٠١٤	٨شهيدان
١٨		ادلب	٧/١/٢٠١٤	٦شهيدان
١٩	منطقة سجو	حلب	٢٠/١/٢٠١٤	٢شهيدان
٢٠	جيش المجاهدين	معارة الارنيق(حلب)	٢٦/١/٢٠١٤	٣شهيدان
٢١	لواء الاقصى	تلقرا (حلب)	١٣/٢/٢٠١٤	١شهيد
٢٢	جيش المجاهدين	باشكوى(جلب)	٨/٢/٢٠١٤	٥شهيدان
٢٣	جبهة النصرة	رتيان (حلب)	١٤/٢/٢٠١٤	٢شهيدان
٢٤	جبهة النصرة	عويجل(حلب)	١٢/١/٢٠١٤	١شهيد
٢٥	جبهة النصرة	مقام اويس(الرقة)	١٤/١/٢٠١٤	١شهيد
٢٦	ثوار المنطقة	كفرحمرة	٦/٢/٢٠١٤	٩شهيدان
٢٧	جيش المجاهدين	اورم الكبرى(حلب)	١٩/١/٢٠١٤	
٢٨	احرارالشام	لميادين(ديرالزور)	١٧/٢/٢٠١٤	٤شهيدان
٢٩	جبهة النصرة	غريبة(ديرالزور)	١٢/٢/٢٠١٤	٥شهيدان
٣٠	لواءالتوحيد	الراعي(حلب)	٣/٢/٢٠١٤	١٦شهيدان
٣١	لواءالتوحيد	قباسين (حلب)	٩/١/٢٠١٤	٤شهيدان
٣٢	الجبهة الاسلامية	باب السلامة	٢٠/٢/٢٠١٤	٣٧شهيدان
٣٣	لواءالتوحيد	كفرنايا(حلب)	١٧/١/٢٠١٤	
٣٤	احرارالشام	الشعار(حلب)	٢٢/٢/٢٠١٤	٤شهيدان
٣٥	ثوار بنين	بينين(حلب)	١٥/٢/٢٠١٤	١شهيد
٣٦	جيش مؤتة	الشحيل(ديرالزور)	١٩/٢/٢٠١٤	٦شهيدان
٣٧	جبهةالنصرة	الشحيل(ديرالزور)	١٩/٢/٢٠١٤	١شهيد
٣٨	جبهةالنصرة	البصيرة (ديرالزور)	٩/٢/٢٠١٤	٢٢شهيدان
٣٩	ثوارالصور	الصور(ديرالزور)	٢١/٢/٢٠١٤	٣شهيدان
٤٠	جبهةالنصرة	الجفرة (ديرالزور)	١٠/٢/٢٠١٤	٥شهيدان
٤١	احرارالشام	درنج (ديرالزور)	٢٢/٢/٢٠١٤	
٤٢	جبهة النصرة	مركدة (الحسكة)	٢٣/٢/٢٠١٤	٣شهيدان
٤٣	جيش المجاهدين	الاتارب (حلب)	١٦/١/٢٠١٤	٣شهيدان
٤٤	الجبهة الاسلامية	جرابلس(حلب)	١٥/١/٢٠١٤	٣٠شهيدان
٤٥	الجبهة الاسلامية	الباب (حلب)	٨/١/٢٠١٤	٧شهيدان
٤٦	جبهة النصرة	الشميطية	٢٥/٢/٢٠١٤	٢شخې شهيداني

ketabton.com - The Digital Library

لسم فصل:

د داعش رسوایی (انځوریز)

د بغداد د بعث جنرالان کوشش کوي تر څو د نوعمره ځوانانو عواطف خپل کړي. دوی د خپلې ساحرې او هالیوودي بالیوودي میډیا په زور تل هڅه کړې، تر څو هغه حقایق پټ کړي چې د پردې تر شا دي. خو دوی په دې کار کې ورځ تر بلې د ناکامۍ او رسوایۍ په لور روان دي. د لیکنو په دې لړۍ کې درسره هغه انځوریزې رسوایۍ شریکوو چې مورږ یې په لاس کې لرو.

په ۲۰۱۳م د نومبر په ۱۶مه داعشیانو په حلب کې په یوه روغتون برید وکړ او محمد فارس، زخمي مجاهد، هغه چې د سوریایي رژیم سره په جګړه کې زخمي شوی ؤ، په زخمي حالت کې هلته پروت، دوی یې سر په چاړه له تنه جدا کړ او شهید یې کړ.

ketabton.com - The Digital Library

په ۳۱/۱۲/۲۰۱۳م د احرارالشام مربوط یو ډاکټر ابوریان مړی د داعش له زندانه په داسې حال کې ترلاسه شو چې په بدن یې د تعذیب نښې نښانې ښکاریدې.

ketabton.com - The Digital Library

په۱۵/۱/۲۰۱۴م د خلافت له زندانه بنديان راخوشي شول چې په بدن يې د تعذيب داسې نښانې وې.

په رقه ښار کې دا ميرمن د خپلې ورانې جونګړې مخې ته ولاړه ده او په چيغو چيغو ژاړي. د دې بودۍ جرم دا ؤ چې ځوی يې د احرارالشام غړی ؤ، چې د خلافت مدعيانو په همدې جرم د دې بودۍ جونګړه ورورانه کړه.

ketabton.com - The Digital Library

ترکیه چې په ناټو کې غړیتوب لري او داعش یې لوی کافر بولي، تیر کال د ترکیې پوځ د سوریې په منبج ښار کې د خپل نیکه سلیمان شاه مړي د رایستلو لپاره عملیات ترسره کړل. دا سیمه د داعش د واک لاندې سیمه ده خو هغوی دا عملیات په ډاډمنه فضا کې ترسره کړل او د هیڅ کومې امنیتي ستونزې سره مخ نه شول بلکې دواعشو یې امنیت تأمین کړ. دا پیښه هغه وخت رامینځ ته شوه چې د خلافت زمریانو حتی د یونس علیه السلام قبر هم په دې دلیل ونړاوه چې دا د شرک څلي دي. خو د ترکانو د نیکه قبر وساتل شو او مړی یې ترکي پوځ ته د دوی په بدرګه وسپارل شو. تر اوسه هم معلومه نه ده چې د کومې معاملې په اساس د ترکانو د نیکه د شرک څلی وژغورل شو او د یونس علیه السلام قبر ونړول شو.

ابو عبدالرحمن العراقي چې تاسې یې په لاندې تصویر کې وینی د بعث د ګوند غړی ؤ. د امریکایانو د اشغال سره هم مهاله نوموړي له عراق هالیند ته پناه یوړه او هلته میشت شو. خو کله چې بغدادي واک ته ورسیدو نو د داعش په صفونو کې د بعثیانو جلب شروع شو، چې ابوعبدالرحمن هم له هالیند څخه راغلو ترڅو دلته د خلافت په نوم د مسلمانانو او مجاهدینو وینې اوبهوي. هماغه ؤ چې له راتګ سره سم نوموړی سوریې ته راولیږل شو او هلته یې د القاعدې د مجاهدینو

ketabton.com - The Digital Library

سره جګړه پيل کړه. نوموړی اوس په خلافت کې د مسلمانانو او مجاهدينو سرغوڅونکی بلل کيږي. د ده مخې ته پراته پنځه واړه سرونه د جبهة النصرة د مجاهدينو دي.

د داعش په دين کې يواځې هغه وخت يو مسلمان د دوی له وحشت او ظلم څخه نجات موندلی شي چې د دوی په وړاندې په خپل کفر اعتراف وکړي. د صکوک الغفران په نوم هغه پاڼې اوګورئ چې داعش يې په هغه خلکو تقسيموي چې دوی ته تسليميږي او يا په خپل کور اوسيدل غواړي.

د پورتني مضمون ژباړه:

د شرعي ورور..... په وړاندې خالد صالح بن محمد حاضر شو او په خپل ځان يې د کفر اعتراف وکړ(چې زه کافر شوی وم) ځکه نوموړی له کافرانو سره دوستی کونکی ؤ. نوموړی ژمنه کوي چې د اسلامي دولت په وړاندې به د هيڅ ډلې په ملاتړ وسله نه پورته کوي نو د دولت له غړو غوښتنه کيږي چې نوموړي ته ضرر ونه رسوي.

ketabton.com - The Digital Library

اوس به يې هم ډير عقل مسخ شوي نه مني چې د بغدادي ډله خوارج نه دي. پخوانيو خوارجو هم له حضرت علي رض سره د جنګ د نه کولو لپاره شرط ايښی ؤ چې نوموړی به په خپل ځان د کفر اعتراف کوي .(تاريخ الطبري بتصرف ج۵ص۷۴ ،البدايةوالنهاية ج۷ص۴۸۳)

دواعش چې کله د رقه ښار ته ننوتل او هلته يې د احرارالشام هغه مجاهدين چې د اسد د نظام ۱۷فرقه يې محاصره کړي وه په غدر شهيدان کړل، دوی لومړی مجاهدينو ته د صلح او امان وړاندیز وکړ او وروسته يې ورسره غدر وکړ او ټول يې د پسونو په څير ذبح کړل.

تاسې به فکر کوی چې دا وحشت به سربانو د بوسنيا د مسلمانانو په وړاندې ترسره کړی وي. يا به فکر کوی چې دا به د منځنی افريقا مظلوم مسلمان ماشومان وي چې نصرانيانو وژلي ؤ. شايد اوايی چې دا به د بورما مسلمان وي چې د بودايانو له لورې ورسره دومره وحشت شوی دی. ممکن فکر وکړی چې دا به دپنجوايی د پيښې قربانيان وي هغه چې د يوه ځناور د وحشت په ژرنده کې دل شوي ؤ. نو آيا دا هغه ماشومان دي چې د شيندندو په امريکايي وحشت کې وژل شوي ؤ؟ يا هغه ماشومان دي چې په عراق کې د امريکايی ځناورانو له لورې وژل شوي دي؟ نه نه، بلکې دا ماشومان د هغه چا له لورې وژل شوي چې ځان د ټولو مسلمانانو خليفه بولي او د اسلامي امت د يو بغله کشتی د نجات درواغجنې ډنډورې غږوي. دا ماشومان د هغه چا له لاسه وژل شوي چې ځان د ابوبکر، عمر، عثمان، علي، رضی الله عنهم په منصب ناست بولي. دا ماشومان د بغدادي دلښکر له لورې وژل شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

او دا هم د ابو محمد الفاتح د کورنی ښځې او ماشومان چې د بغدادي د عسکرو په لاس وژل شوي دي. ایا خلافت د داسې خلکو په لاس قایمیدی شي؟ ایا خلافت د مسلمانو ماشومانو په وینو قایمیږي؟

ketabton.com - The Digital Library

د خلافت عسکرو د جبهة النصرة ۱۰۰ هغه مجاهدين چې د بشار د رژيم سره په سنګر کې پراته ؤ، په مرکدة بشارګوتي کې اوژل.

داعش د حلب د حريتان په سيمه کې د سيمې بې دفاع ولسي وکړي خپلو قرارګاؤ ته بوتلل او د دوی له وتلو وروسته د دې خلکو مړي په يوه ډليز قبر کې اومندل شول.

ketabton.com - The Digital Library

داعش تر اوسه د جبهة النصرة ۱۴۰۰ غړي په شهادت رسولي چې ۲۹ يې هغه لوړپوړي قومندانان دي چې امريکايانو يې په سر مليونونه ډالر جايزه ټاکلې وه، دا هغه احصائيه ده چې د تروريزم ضد جګړه کې ښکيلو دولتونو تر اوسه نه ده ترلاسه کړې.

اسلامي امت بايد پوه شي چې داعش په سوريه کې دومره مجاهدين وژلي چې د بشار نظام هغومره مجاهدين نه دي وژلي. لاندې شميرنه تر ۲۰۱۴م کال پورې ده. داچې له هغې وروسته داعش څومره کدرونه وژلي په ښکنيو ليکنو کې مو تشريح کړل.

ketabton.com - The Digital Library

اسم الفصيل	عدد الشهداء	عدد الجرحى
الجبهة الإسلامية	٩٥٠	١٧٠٠
جبهة النصرة	٥٠٠	٤٥٠
جيش المجاهدين	١٢٠	٢٠٠
جبهة الأصالة والتنمية	٣٠	٦٠
لواء عمر المختار	٥٠	٨٠
ألوية الفرقان	٤٠	-
عاصفة الشمال	٧٥	-
جيش سوتة	٢٥	٦٠
فصائل أخرى	٢٥٠	٣٠٠
المجموع	٢٠٠٠	٢٨٥٠

په لاندې انځور کې وينې چې د داعش قواوې د رقه ښار څخه بوکمال ته د جبهة النصرة سره د جګړې لپاره د السخنة له ښارګوټي تيريږي. السخنة ښارګوټی د بشارالاسد د رژيم په لاس کې دی، نو څه فکر کوی چې دواعش چې د السخنة له ښاره تيريږي څه راز يې ترشا دی؟

د داعش د ټويټر او فيسبوک دجالي فعالين څومره له هاليوود او باليوودِه الهام اخلي؟! د ديرالزور په الشحيل ښارګوټي کې د داعش په يوه ځانوژونکي بريد کې ښځې او ماشومان اوژل شول خو د ټويټر داعشي دجالانو دا مبارک عمليات ونومول او د مجاهدينو د يوې قرارګاه د له منځه وړلو ادعا يې وکړه.

ketabton.com - The Digital Library

په سوريه کې د ائتلاف طيارو داسې لويشت ځمکه پرينه ښوده چې هغه يې بمبارد نه کړه، ولې د داعش له دې اسمان څکو ودانيو څخه يې سترګې پټې دي. دا ودانۍ په تنظيمي شعارونه پوښل شوي دي چې له ورايه معلوميږي چې دا د داعش قرارګاه ده. ولې يې مؤتلفين نه په نښه کوي؟ له همدې ځايه مور وايو چې نړيوال کفر د داعش په وړاندې جنګ کې ريښتينی نه دی. دوی نه غواړي داعش يومخيز له منځه يوړل شي او دومره کمزوری شي چې د نړۍ په لربر کې جهادي خوځښتونه ونه ننګوي. په عين حال کې نه غواړي چې دومره قوت لاسته کړي چې لويديځ مستقيماً وګواښي. په لاندينۍ انځور کې وينی چې داعش په خپلو نفوذي سيمو کې څرګندې اداري ودانۍ او قرارګاوې لري.

ketabton.com - The Digital Library

په شام او عراق کې د القاعدې ډير لوړ لوړ کدرونه په نښه شول او د ائتلافيانو له لورې په شهادت ورسول شول خو د رقه په ښار کې د قصرالخليفة په نوم مانۍ چې د داعش د مشرانو د يوځای کيدو مرکز بلل کيږي او د داعش مشر بغدادي هم وخت ناوخت دې مانۍ ته تګ راتګ کوي خو د ائتلاف له هغه سلګونه پروازونو څخه د ا مانۍ په جادويي ډول خوندي ده چې يو ميتر سوريايي ځمکه يې له ګوزاره محفوظه پاتې نه شوه. څه فکر وکړو آيا په معمايي ډول اومنو چې مؤتلفين د داعش سره په جګړه بوخت دي؟

دا هم په رقه ښار کې د نصرانيانو هغه عبادتځاي چې داعش ترې اوس د اسلامي بلنې په نوم مرکز جوړ کړی او د داعش سلګونه جنګيالي دلته ميشت دي چې د امريکايي او ائتلافي جنګي الوتکې پرې کار نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

د خلافت زمریانو د لواء التوحید مجاهدین ذبح کړي او سرونه یې د پخوانیو خوارجو په څیر ځورند کړي او یادګاري انځورونه یې ورسره اخیستي.

د داعش جاهل قاضیان د قضا له اصولو ناخبره دي چې ښه بیلکه یې د یو دولس کلن ماشوم چې لا یې په مخ ویښتان نشته په دې تور اعدام کړی چې نوموړي د ښار یوه ښځه تښتولې وه چې درحقیقت دا ماشوم د احرارالشام د یوه غړي ځوی ؤ چې

ketabton.com - The Digital Library

په همدې جرم په دار ځړول شوی دی.

داعش د سوريې ولسي وګړي په عامه ځايونو کې په دې جرم په دار ځړوي چې دوی له جبهة النصرة يا احرارالشام يا نورو سوريايي جهادي ډلو سره خواخوږي لري.

ketabton.com - The Digital Library

د داعش په زندانونو کې له مجاهدينو سره داسې وحشي چلند کيږي چې امريکايانو به په ګوانتنامو او ابو غريب کې هم نه وي کړی، خو بل لوري ته بيا دوی هغه فرنسويان چې د دوی سره بنديان ؤ په ډير عزت خلاص او خپلو کورونو ته واستول په داسې حال کې چې فرانسوي دولت په صومالیه کې د دوی د نيول شويو کسانو په بدل کې د القاعدې سره هيڅ معاملې ته تيار نه ؤ.

ketabton.com - The Digital Library

ابو الهيجاء چې د داعش له لورې د اعزاز والي دی، پخوا د امريکا د جمهور رئيس مرستيال جان مکين باډي کارډ ؤ. لاندې تصوير ته زير شی او د فوټوشاپ ماهرين دې قضاوت وکړي چې دا انځور جعلي دي؟

ابو الهيجاء د اعزاز والي، د جبهة النصرة په ضد يې هلته د جنګ قومانده په غاړه لرله، چې وروسته داعش په دې تور د ده د نيولو امر صادر کړ، چې نومورې د لويديځ د استخباراتو جاسوس دی. چې نومورې اردن ته په داسې حال کې په تيښته بريالی شو چې د بغدادي په قيادت کې يې د سلګونو مخلصو مجاهدينو وينې بهولې وې.

ketabton.com - The Digital Library

د بعث ګوند تازه مفتيانو د عربي هيوادونو څخه ورغلي مجاهدين په دې دوکه کړل چې ګواکې د دوی سره د خپل ملکونو پاسپورتونو کفري شعارات دي او دا بايد د کامرو مخې ته ځيرې کړل شي. له دې څخه د بعثي جنرالانو مهم هدف دا ؤ تر څو د عربي دولتونو څخه راغلي ځوانان بيا خپلو ملکونو ته د تړ لار ونه لري چې يا به همدلته وژل کيږي او يا به جنګيږي. دا په داسې حال کې ده چې د حجي بکر له وژل کيدو وروسته د ده له کوره د ايران پاسپورټ ترلاسه شو او نور ډير د داعش مشران پاسپورتونه لري چې پرې ځينو هيوادونو ته سفر کوي او ډير ځله ليدل شوي چې د داعش مشران يا ترکي يا اردن يا کوم بل هيواد ته تښتيدلي دي، چې په نړۍ تير کې د ابوالهيجاء تيښته او د داعش د تيلو د وزير ترکي ته تيښته وه.

په دغه ځوان د داعش د مفتيانو په حکم، شرعي حد قايم شوی، تاسې يې وينی، ايا په شرعي حد کې به محدود په دورو دومره سخت وهل کيږي؟ بيا نو دوی وايي چې مونږ خو د الله حدود قايم کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

دواعش چې کله د بشار د نظام لورپوري جنرالان ونيسي د معاملې په بدل کې يې خوشي کړي خو د سوريې د مجاهدينو بنديان بيا فورا ذبح کوي. لاندې تصوير کې هغه سورياېي جنرالان وينې چې داعش سره اسيران شوي ؤ خو وروسته خوشي شوي.

ketabton.com - The Digital Library

عائشه چې د داعش يو ځانمرګی يې کور ته ورنتلی ؤ يواځې په دې جرم سوری سوری شوې چې ورور يې د جبهة النصرة غړی ؤ.

يولسم فصل

ketabton.com - The Digital Library

(د داعش مطبوعاتي جګړه)

مطبوعاتي جګړه چې په سړې جګړې هم یادیږي د نظامي جګړې برابر ارزښت لري. دا جګړه نئ نه ده بلکې ډیر له پخوا رارونه ده، ځومره چې نظامي جګړه اوږده تاریخچه لري همدومره مطبوعاتي جګړه. ځنګه چې نظامي جګړه خپل ماهرین غواړي همدا ډول مطبوعاتي جګړه د دې جګړې د ماهرینو له لورې پرمخ بیول کیږي.

په ۲۰ مه میلادي پیړۍ کې ترټولو مؤثره مطبوعاتي جګړه امریکایانو پرمخ یوړه چې له امله یې زمور ډیر ځوانان بې لارې کړل. اشغال یې ازادي ازادي یې اشغال معرفي کړه، غلامان یې ازادي خواه ازادي خواه یې غلامان معرفي کړل، زمور ملي ارزښتونه ملي نوامیس یې له خاورو سره خاورې کړل، خو تاریخ ته که ځیر شو، هر وخت د باطل لومړۍ حمله زوروره وي خو وروسته یې زور، مؤثریت اوبه شي او خلکو ته یې ناروا والی روښانه شي.

د داعش میډیایي جنګ د لویدیځ ځخه راغلي هغه نومسلم ځوانان پرمخ وړي چې د دې جګړې زده کړې یې هملته په لویدیځ کې سرته رسولې، بلکې ځینې یې د بالیوډ او هالیوډ فلمي ستوري ؤ چې دلته له راتګ سره سم یې په فوټوشاپي جګړه پیل وکړ. د خپل مخالف په وړاندې له ټولو پولو اوتل او دا دی دا لرې تراوسه دوام لري خو مؤثریت یې ځکه کم شوی چې مور وړاندې اویل چې د باطل زور ډیر زر اوبه کیږي.

د داعش د مطبوعاتي چارو مسئول سوریایي الاصله امریکایی احمد ابوسمرة په غاړه لري. احمد چې اصلا د حلب دی، ټول عمر په امریکا کې تیر کړی او هلته یې لوړې زده کړې کړي.

داعش په میډیایي برخه کې ډیرې پانې او ادرسونه لري چې ځینې یې رسمي دي چې عبارت دی له الفرقان، اصدارات الخلافة، الاعتصام، الحیاة، الأعماق او غیر رسمي چې عبارت دی له مؤسسة البتار، مجلة دابق، عبوة لاصقة، ترجمان الأساورتي،سیرالمعارک، النصرة الشامیة او داسې نور. داعش د میډیا په زور وکولی شول چې په لویدیځ کې د القاعدې د الذئاب المنفردة په نوم پروګرام شنډ کړي. داعش وتوانید چې د لویدیځ ځخه د هجرت په نوم ځوانان یوې محدودې ساحې ته راټول کړي ترڅو غربي شیطانان په خپلو ملکونو کې د ارام ساه واخلي.

داعش په ټولنیزو رسنیو کې ډیر فعال بریښي چې په حقیقت کې د دوی د میډیا په افرادي قوت دلیل نه دی بلکې د دوی مطبوعاتي فعالان هر یو په لسګونه حسابونه لري چې په یوه وخت کې له ټولو ځخه نشرات کولی شی. د دواعشو د مطبوعاتي جګړې لومړی اړخ په ټولنیزو رسنیو کې ډیر حسابونه فعالول دي تر څو خلک فکر وکړي چې داعش په ټولنیزو رسنیو کې خورا ډیر فعالان لري. لاندې یې په مستند ډول اوګورئ.

ketabton.com - The Digital Library

جيش الانصار يو ټويټري فعال دی. نوموړی په خپل اعلان کې وايي: هغه وروڼو چې ډير حسابونه لري بايد له ټاکلي نيټې سره سم خپل ټول حسابونه فعال کړي. لاندې له دې وروسته ټويټ اوکورئ

د پورتني ټويټ په ځواب کې سنية عراقية ارهابية چې د يو ټويټري داعشي حساب دی او بل سيف الدولة ليکي:له ۱۱ حسابونو سره حاضر يم .

د داعش ټويټري فعالان د خپلو اکاونټونو په پروفايلونو عام انځورونه لکوي د بيلکې په ډول د دوی ډير حسابونو ته فوټبال انځور لګيدلی وي. ځينو نورو د ژوند د نورو مختلفو ورځني کارونو انځورونه لګولې تر څو خلکو ته وښيي، دوی د ټولنې په هر قشر کې نفوذ کړی.

د داعش د ټولينزو رسنيو ډير فعالان د ښځو په نوم حسابونه جوړوي تر څو له يوې خوا خپل هراړخيزوالی خلکو ته څرګند کړي او له بلې خوا له لويديځ او نورو هيوادونو څخه ښځې راجلب کړي. لاندې تصوير ته ځير شئ

ketabton.com - The Digital Library

الخنساء الموحدة چې يو داعشي فعال دی، يو څوک ترې پوښتنه کوي، چې تاسو خو پخوا له السحاب سره کار نه کولو؟ داعشي په ځاي د دې چې فکر پې شي چې ما خو د ښځې په نوم حساب جوړ کړی، بايد په خطاب کې د ځان لپاره ښځينه ضمير استعمال کړم، د نر ضمير ځان ته استعمالوي او غير اختياري خپل حقيقت جوتوي او وايي: من قال لک أني اعلامي. نوموړي ته په کار وه چې د اعلامي په ځای پې اعلامية لفظ کارولی واي.

د داعش د ميډيايي جنک بله برخه په خيالي او فرضي شيانو اتکاء کول دي چې ډير وخت دوی داسې خوبونه نشروي چې ليدونکي پې معلوم نه وي او دا دوی د نويو ځوانانو د دوکه کولو غوره وسيله بولي. لاندې انځور ته ځير شئ.

ketabton.com - The Digital Library

ابو سلطان ليكي: خوب او زيرى: رسول الله صلى الله عليه وسلم روان ؤ او د ده شاته په زرګونه خلک روان ؤ، خو د رسول الله صلى الله عليه وسلم شاته متصل ابوبكر البغدادي روان ؤ.

ابومصعب داعشي ليكي: يو فرانسوي ورور په زخمي او بې هوښه حالت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خوب ليدلى چې فرمايل يې: اسلامي دولت به باقي وي.

ابو العيناء الخراساني ليكي: په هغه ذات قسم چې اسمان يې بې ستنو پورته کړى، يوه ورور په خوب کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلى چې ورته يې ويلي: بغدادي او د ده ملګرو ته اوايه چې محكم شئ.

ketabton.com - The Digital Library

پورتني ټويټ کې محمد السبيعي وايي:په الله قسم چې يو صالح انسان خوب ليدلی چې بغدادي ته به الله تعالی په سمندر هم واک ورکوي او امريکا به په سختو ويرونکو وسلو له منځه يوسي.

داعش په مطبوعاتي جکړه کې ځليدونکي شعارونه کاروي، جذباتي انځورونه پورته کوي تر څو خلک اوغولوي. څه موده وړاندې چې کله دوی د سايکس-پيکو د حدودو شعار پورته کړ، ډيره مطبوعاتي ګټه يې ترې پورته کړه او مسلمانانو ته يې داسې څرګنده کړه چې ګني همدوی يواځې د دې پولو ماتوونکي دي. انځور ته ځير شئ

د سايکس-پيکو پوله د هيوادونو ترمينځ کوم ديوالي شکل نه لري نه نور کوم لوی لوی موانع د دې پولو په اوږدو کې نصب شوي چې ودې نړول شي، بلکې سيميز نومونه د پولې د پورې او راپورې غاړې لپاره ټاکل شوي دي خو دواعشو په خوشي دښته کې بلډوزران په کار اخته کړي او ترې عکاسي کوي او تبليغوي چې دوی د سايکس-پيکو پولې ونړولې.

ketabton.com - The Digital Library

څومره خندونکي؟ عدناني په شړه دښته کې د کامرو مخ ته په بلډوزر سپور دی او د سایکس-پیکو حدود نړوي. همدا فرضي او خیالي شیان د دوی د میډیا برخه جوړوي.

د خپلو مخالفینو په وړاندې د داعش مطبوعاتي جګړه.

کله چې داعش اوغواړي چې یو څوک په مطبوعاتي ډګر کې په نښه کړي، لومړی د ده د رسوایۍ لپاره د داعش غیر رسمي مؤسسات په کار لاس پوري کړي. په وړاندې یې جعلي کلیپونه، د فوټوشاپ انځورونه جوړوي. د بیلګې په ډول کله چې دوی اوغوښتل چې د شیخ ظواهري په وړاندې سنګر ونیسي، لومړی د داعش غیر رسمي مؤسسات لکه ترجمان الاساورتي مؤسسة البتار..... د ظواهري بدنامولو لپاره تبلیغات پیل کړل چې وروسته د دوی رسمي ادرسونو د ده په اړه متې رابډ وهلې چې بیا د وروستي قدم په توګه عدناني په خپلو بیانونو کې هغه کله د سفیه، کله منحرف، کله ګمراه او دا دی په خپله وروستی لیکنه کې یې نومورې کافر اوباله (العیاذبالله).

داعش په ټوپټر کې د خپلو مخالفینو په نوم لومړی جعلي اکاونټونه جوړوي وروسته له همدغه اکاؤنټونو داسې شیان نشروي چې بیا دوی خپلو پلویانو ته همدا شیان د دوی د ګمراهۍ په دلیل کې پیش کوي. څه موده وړاندې دواعشو په ټوپټر کې د شیخ ابومحمد المقدسي او ابوقتادة الفلسطیني او دکتور عبدالحلیم په نوم اکاونټونه جوړ کړل له دغو اکاؤنټونو یې کفریات نشر کړل او وروسته یې په خپلو حسابونو کې د دوی په خلاف دا شیان د دلیل په ډول وړاندې کړل.

څه موده وړاندې دواعشو د جبهة النصرة د حلب د څانګې د رسمي حساب په نوم جعلي حساب جوړ کړ او دا اعلان یې پکې نشر کړ.

ketabton.com - The Digital Library

دواعشو په سوريه کې له ټولو پاڅون والو د کومک غوښتنې اعلان د پورتني جعلي ادرس څخه خپور کړ چې وروسته دواعشو همدا جعلي اعلان د جبهة النصرة د ارتداد د دليل په توګه وړاندې کړ.

ketabton.com - The Digital Library

چې وروسته د جبهة النصرة له لورې دا حساب جعلي وبلل شو او رد کړل شو.

ketabton.com - The Digital Library

په ټويټر کې د ابوعبدالله الافغاني په نوم کوم خليج ميشتی تاجر په امارت پسې بدې ردې وايي. نوموړي د بغدادي سره بيعت کړی خو خپل بيعت نه څرګندوي او داسې ښيي چې ګواکې نوموړی اوس هم د اسلامي امارت خواخوږی دی خو په عين حال کې په اسلامي امارت بې ځايه تنقيدونه کوي چې همدا تنقيدونه بيا د داعش ميډياوال د دليل په ډول وړاندې کوي.

ketabton.com - The Digital Library

ابوعبدالله وايي: د ملا عمر څخه وروسته د ملا منصور په پاکستان کې تاکنه او د پاکستان په هوايي ډګرونو کې د ده تګ راتګ شاته ډير رازونه لري.

يمني چې په ټولنيزه ميډيا کې يو داعشي فعال ده. لاندې ترې ليکي: دا خبرې اوس تاسو ته ګټه نه درکوي تاسو ته اسلامي دولت نصيحت کړی ؤ او د ده کفر پې درته واضح کړی ؤ.

يعنې يمني داسې ښيي چې ګڼې ابوعبدالله داعشي د امارت کوم کس دی.

ketabton.com - The Digital Library

د داعش ميډيا عيناً د لوېديځې ميډيا په څير غواړي حقيقي جهاد او مجاهدين بدنام کړي. دوی د لوېديځ د مطبوعاتو په څير د خپل مخاالف په وراندې هيڅ اخلاقي پوله نه پيژني او داسې څه وايي چې شايد وروسته به دوی خپله هم پرې شرمېږي.

يمني کذاب د اميرالمؤمنين له شهادت وروسته داسې وليکل:

دا چې لوېديځو استخباراتي کړيو تير کال په يوې خپل منځي نښتې کې د اميرالمؤمنين د وژل کيدو ادعاء کړي وه چې وروسته اميرالمؤمنين په يوه صوتي پيغام کې هغه رد کړه خو د داعش مطبوعاتي دجالانو د هماغه لوېديځو ويښانو لينکونه د اميرالمؤمنين د شهادت په ورځ راوړل او استدلال يې کاوه چې ګڼې نومورې پخوا وژل شوی ؤ چې طالبانو يې مړينه اوس جوته کړه خو دوی دومره د دين له احکامو ناخبره دي چې فکر نه کوي چې د کافر ګواهي د مسلمان په حق کې کله قبليدی شي؟

ketabton.com - The Digital Library

څومره حماقت؟ يمني وايي: طالبانو له امريکايانو غوښتي ؤ چې د دوی د مشر د وژلو پړه واخلي او اعلان وکړي. دا نظر خو دلته په کابل کې د ميشتو سکشويانوهم نه دی چې مورِ پې ډير د ډالرو ليونيان بولو.

ketabton.com - The Digital Library

رښتيا ده چې درواغجن حافظه نه لري! دا کذاب پورته يوځل وايي چې ملامنصور په خپل منځي نښته کې وژل شوی خو په ورپسې پيراګراف کې د يو خو ثانيو په ځنډ په خپله د ځان تکذيب کوي او وايي چې نوموړی په يوه امريکايي برید کې په داسې حال کې وژل شوی چې له ايران راروان ؤ.

د داعش مطبوعاتي درواغ

ketabton.com - The Digital Library

ترجمان الاساورتي د داعش د مطبوعاتي فعالينو يوه ډله ده چې په دې نوم نشرات کوي. دوی په درواغو دومره شهرت لري چې آن د ده په عامه نشراتو هم خلک باور نه لري. څه موده وړاندې د سوريې په حلب کې د تجمع عشائر سوريا په نوم د اربکيانو يو مشر اوژل شو چې د ځيرې له اړخه د داعش يوه غړي ابوزکريا التونسي ته شوی ؤ. ترجمان الاساورتي په خپل ټويټ کې وليکل چې د جبهة النصرة مجاهدينو يو تونسي مهاجر وژلی دی.

د سيف الدولة په نوم بل داعشي داسې وليکل.

ketabton.com - The Digital Library

نوموړي دا کس مهاجر بللی او د ده وژونکي يې مرتدين بللي.

خو د مقتول او ابو زکريا ترمينځ فرق اوګورئ

د مقتول د ږيرې ويښتان سپين دي خو د تونسي ويښتان تور دي.

ketabton.com - The Digital Library

په لاندې انځور کې يې د غورځونو ترمينځ فرق اوګورئ

دوی تل په همداسې بې بنسټه تورونو غواړي خپل مخالف بدنام کړي.

د داعش د مطبوعاتي کمراهې بل اړخ د خپل مخالف په تکفير کې د لويديځې ميډيا په راپور باور کول دي بلکې دوی د مجاهدينو د تکفير لپاره تل د لويديځو استخباراتي کړيو دروغجن راپورنه د دليل په ډول وړاندې کوي.

ketabton.com - The Digital Library

MUTE

يمني دجال د الجزيرې پاڼې راپور د احرارالشام د ارتداد لپاره د لاسوند په توګه وړاندې کړی.

ketabton.com - The Digital Library

الشرق الاوسط ليكي:د ايران انقلابي كارد وايى : ملا منصور د وژل كيدو وراندې د دوۀ مياشتو راهيسې له ايران سره خبرې اترې روانې كړي وې، چې يمني دجال د دې سيكولر ورځپانې راپور پرته له دې چې د كره والې تحقيق پې وكړي نشر كړى او لاندې يې ترې ليكلي: د طالبانو او القاعدې وژل شوى مرتد امير (العياذ بالله) د ايراني مجوسيانو په ميلمستيا كې ۀ او له دوى سره يې خبرې روانې وې.

ketabton.com - The Digital Library

النصرة الشامية د رويټرز راپور نقل کړی، چې وايي: د سوريې په حلب کې د ائتلاف ځواکونو وسله والو ته د هوا له لارې وسلې راغورځولې دي، چې د سوريې ټولو اسلامي ډلو د تکفير لپاره د داعش مطبوعاتي دجالان دا راپورونه کافي بولي.

دولسم فصل

(داعش له د ننه څخه)

ketabton.com - The Digital Library

د داعش حازميه او بنغليه دوه ډلې

له څه مودې راهيسې په عربي ميډيا کې پرلپسې داسې راپورووونه ورکول کيږي چې د داعش تر مينځ اختلافات راټوکيدلي. دا اختلافات تر کومې کچې دي او پايلې يې څه دي؟

داعش د تشکيل له پلوه په دؤو څانګو ويشل شوی، چې دوی يوه ته عسکري قيادت وايي چې عبارت ؤ له حجي بکر، ابومسلم التركماني، ابوعلي الانباري، عاصي العبيدي، ابومهند السويداوي، ابوعبدالرحمن البيلاوي،عمرالشيشاني، ابوأيمن العراقي، ابواسامة العراقي چې د شيشاني پرته ټول د صدام د پوځ جنرالان دي او شيشاني بيا د ګورجستان د استخباراتو پخواني ضابط ؤ. په دوی کې ډيرې يې وژل شوي خو د داعش مؤسسين همدا خلک دي. او بل ته يې شرعي قيادت وايي، چې عبارت ؤ له عثمان آل النازﷺ، عمر القحطاني، تركي البنغلي، ابوجعفرالحطاب، ابومصعب التونسي، احمدابوعمر الحازمي، ابوخباب العراقي، ابوميمون العراقي، ابوعمرالكويتي، ابوعبدالله الكويتي. خو د دواړو له منځه بيا مجلس الشورى جوړه ده چې د دوی په ژبه د امير د نصب او عزل واک لري او په ترکيب کې يې شپږ غړي دي چې د وخت او زمان په مقتضى هغه بدليږي رابدليږي. د بيلګې په ډول د خلافت د اعلان په وخت کې د مجلس الشورى غړی درې له عسکري قيادت څخه ؤ چې حجي بکر، ابوعلي الانباري، عاصي العبيدي او درې له شرعي قيادت څخه چې ابومحمدالعدناني، عثمان آل النازﷺ، عمرالقحطاني ؤ.

کله چې حجي بکر په تل رفعت کې د لواء التوحيد مجاهدينو له خوا اوژل شو، د مجلس الشوري څوکۍ ته يې ابومسلم التركماني پورته کړل شو، همدا ډول کله چې انباري اوژل شو ځای يې ابوأيمن العراقي ونيوو. چې د عسکري قيادت پورته ذکر شوي کسان ټول په خپل توبت د مجلس الشورى غړيتوب ترلاسه کړ. عينا د شرعي قيادت په آړخ کې هم همداسې ده کله چې عثمان آل النازﷺ اوژل شو ځای يې تركي البنغلي ونيؤ.

د تكفير العاذر باالجهل مسئله

د تکفير په آړه مو د دې لړۍ په شپږمه برخه کې تفصيلي خيړنه کړي وه چې اهل السنة د تکفير د څلورو موانعو د شتون په صورت کې په يو چا د کفر حکم رواء نه بولي چې يو له هغه څلورو موانعو څخه جهل ؤ. هغه څوک چې جاهل معذور بولي هغه ته عاذر بالجهل ويل کيږي چې د ټولو اوسنيوخوارجو په باور جهل عذر نه دی خو د عاذر بالجهل په اړه د دوی تر مينځ اختلاف دی. حازميه وايي: عاذر بالجهل هم کافر دی. بنغليه وايي: عاذر بالجهل کافر نه دی په دې معنی چې که يوڅوک د ده جهل په وجه څوک کافر ونه بولي نو همدا سړی په خپله کافر ګرځي.

حازميه ډله د احمد بن عمر الحازمي المكي پلويان دي. نوموړی د سعودي د مکې مکرمې اوسيدونکی ؤ چې لومړی تونس ته لاړ اوهلته د تونس په هغه ټولنه کې چې څلويښت کاله يې د زين العابدين د کورنۍ لاندې په جهالت کې تير کړي ؤ، په

ketabton.com - The Digital Library

خارجي فکر ښورولو پيل وکړ چې له هغه ځايه راوشړل شو او عراق ته راغی. د داعش سره يوځای شو او دلته يې د خارجي فکر په ښورولو پيل وکړ. دلته يې ډير همفکران پيدا کړل چې ډيری يې په اسلامي دولت کې لوړپوړي قاضيان او شرعيان ؤ. ابومصعب التونسي، ابوجعفرالحطاب، ابوعمرالکويتي، ابوعبدالله الکويتي، ابوميمون العراقي، ابوخباب العراقي، هغه لوړپوړي حازميان دي چې په اسلامي دولت کې لوړې دندې لري.

بنغليه بيا د ترکي البنغلي پلويان دي چې د ابوهمام الاثري او ابوسفيان السلمي په نومونو پژندل کيږي او په ترکي البنغلي شهرت لري. عمرالقحطاني، عثمان آل النازﷺ، او ځينې نور سعودي او خليجي نوعمره شيخان بيا د ترکي البنغلي پلويان دي .

د بنغليانو عقيده دا ده چې عاذر بالجهل کافر نه دی، په دې معنی چې که يو څوک په ناپوهۍ سره يو مکفِّر(کافروونکی) کار ترسره کړي هغه کافر دی خو که يوڅوک دا سړی کافر ونه بولي هغه کافر نه جوړيږي. بنغليان او حازميان په خپل مينځ کې په دې يوه خوله دې چې ناپوهي د کفر لپاره عذر مانع نه شي جوړيدلی خو په دې کې يې اختلاف دی چې د دې کس کافر نه شميرونکی کافر ده او کنه؟ حازميان عاذر بالجهل هم کافر بولي خوبنغليان بيا عاذر بالجهل کافر نه بولي.

د دواړو ډلو شاليد

د حازميانو مشر احمد ابوعمر الحازمي د سوريې د مُنبج په جامع جومات کې د جمعې د خطبې پر مهال داسې اويل: العياذبالله

رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل عمر دوه برخې په شرک او کفر کې تيرې کړې وې، د عمر دريمه برخه يې په اسلام کې تيره کړې وه ځکه چې هغه صلی الله عليه وسلم په ۴۰ کلنۍ کې په پيغمبرۍ راولېږل شو او په ۶۳ کلنۍ کې وفات شو نو دا ۴۰ کاله يې په شرک او کفر کې تير کړي ؤ(العياذبالله ثم العياذبالله) د حازمي دغه بيان خلک سخت وپارول او د داعش په دننه کې يې هم غبرګونونه ولړل چې د همدغه بيان وروسته حازمي ژوندی ژک ورک شو او تراوسه يې حال معلوم نه دی چې غالب ګومان دا دی چې نوموړی وژل شوی دی.

د حازميانو د ډلې يو شرعي ابو عمرالکويتي د ديرالزور په جامع مسجد کې په خپل بيان کې داسې اويل: حضرت عمر رض هم هغه وخت مرتد شو (العياذبالله) چې کله يې ابوبکرصديق د مرتدينو له جنګ څخه منع کړو او ابوبکر صديق ته يې اويل: د اسامه رض لښکر مه لېږه. نوموړی بيرته هغه وخت مسلمان شو چې د ابوبکرصديق رأيې ته يې واپسي وکړه او ويې ويل: فلم يزل أبوبکر يراجعني حتی شرﷺ الله صدري لما شرﷺ له صدر أبوبکر.

چون حازمي فکره کسان په داعش کې خورا نفوذ لري نو د حازمي له مرموزې ورکيده وروسته د حازميانو مشري ابوجعفرالحطاب واخيسته او داعش په دې خاطر چې په دولت دننه کې د حازميانو له غبرګونه ځان وژغوري ابوجعفر الحطاب د مجلس الشوری د شرعي قيادت غړی وټاکه.

ketabton.com - The Digital Library

تر ۲۳/۴/۲۰۱۶م تاريخ پورې داعش په خپلو رسمي او غير رسمي بيانونو کې أيمن الظواهري ګمراه، له مسيره خطاء، أحمق..... باله خو په ۲۳/۴/۲۰۱۶م تاريخ عدناني د أبوميسرة الشامي په نوم د طمس الرموز تر عنوان لاندې د بغدادي په امر يوه اوږده مقاله وليکله چې پکې په لومړي ځل ظواهري کافر اوبلل شو. نومورې مقاله د خراسان څانګې پښتو ته هم وژباړله خو د دې ليکنې ترشا کوم اهداف ؤ؟ ولې اوس ظواهري کافر اوبلل شو؟ د دې موضوع عمق په بل ځاي کې ؤ؛ هغه داسې:

ابوجعفر الحطاب چې د حازميانو فکري مشر ؤ د دؤو هدفونو لپاره مجلس الشورى ته پورته کړل شو. لومړی هدف دا ؤ چې فعلا د داعش په مينځ کې د تونسيانو راجلبولو ته ضرورت ؤ چې همدا تونسي د دې لپاره وتاکل شو ترڅو تونسيان راجلب کړي. دويم هدف دا ؤ چې د حازمي له تري تم کيدو وروسته بعثيانو د حازميانو له غبرګون څخه د ځان ژغورلو په منظور حطاب مجلس الشورى ته پورته کړ.

خو له لرې مودې تيريدو وروسته لوبه بدله شوه، حطاب د بغدادي له اجازې پرته سوريې ته راغلو او خپلو ټولو پلويانو ته يې اويل چې بغدادي په دې وجه کافر دى چې أيمن الظواهري کافر نه بولي نو مور به د ده اطاعت ترهغه وخته کولو چې څرګند کفر(کفربوا ﷺ) تري نه ؤ صادر شوى. اوس له نومورې څرګند کفر صادر شو نو مور نور د ده تر بيعت لاندې نه پاتې کيږو او د خپل ځان لپاره يې د بيعتونو په راټولولو پيل وکړ.

د عاذر بالجهل مسئله بيا کرمه شوه او په رقه کې د داعش د حازميه او بنغليه ډلو ترمينځ نښته رامينځ ته شوه. بعثي جنرالانو دا ستونزه زر قابو کړه خو بيا هم د داعش شرعي قيادت د حازميانو په کتې پريکړه وکړه. له بله پلوه داعش د ابوجعفر الحطاب ستونزه هم په ډيره زيرکتيا کنټرول کړه.

ابوجعفر الحطاب د خپلو ۱۵ لوړپوړو ملکرو سره يوځاي ونيول شو او له څه مودې بند وروسته ټول کسان اعدام شول چې په ټويټر کې حازميانو د بغدادي په وړاندې سنګر ونيؤ.

ketabton.com - The Digital Library

أم العبدين په تويټر کې يوه حازم پلوه داعشی ده هغه د دې هاشتاق لاندې چې .کشف النقاب عن ظلم البغدادي للحطاب .د ابوجعفر الحطاب له نيولو پرده پورته کړه. هغه ليکي: لا تراوسه هم د دولت زندانونه په مؤحدينو او مهاجرينو ډک دي، دقيقا دا په کوم تهمت؟

أم البراء بله حازم پلوه داعشی د همدې هاشتاق لاندې داسې ليکي:

مور د نيول شويو کونډو ته دا ډيرې مياشتې د خپلو خاوندانو هيڅ احوال نه معلوميږي، ځکه دوی له مور څخه لومړني حقوق چې د خپلو بندي خاوندانو سره ملاقات دی، هم اخيستې او نه مو پريږدي چې ورسره ملاقات وکړو. أم البراء او أم العبدين دواړه د تونس دي او د خپلو خاوندانو سره يوځای داعش ته راغلې وې، چې خاوندان يې د حطاب سره يوځای اوژل شول.

د أم البراء خاوند هم د هغو پنځلسو کسانو په ډله کې ؤ چې د بغدادي په خلاف يې کودتا تنظيم کړي وه او د ده لخوا يې د وژلو امر وشو.

د ابوجعفر الحطاب په وژل کيدو حازميان ډير غوصه شول او د تکفير العاذر مسئلې بيا زور واخيست چې بغدادې او ورسره بعثي جنرالانو دا ځل بيا له زيرکتيا څخه کار واخيست. چون حازميان په اسلامي دولت کې ډير قوي او د نفوذ خاوندان دي نو بغدادي د دوی غوښتنه اومنله. عدناني ته امر وشو چې يوه مقاله وليکي چې پکې د ظواهري د کفر حکم شوی وي، چې هماغسې وشول. عدناني د ابوميسرة الشامي په نوم د طمس الرموز تر عنوان لاندې مقاله وليکله چې پکې ظواهري کافر اوبلل شو(العياذبالله) له هماغه مقالې وروسته د داعش په رسمي او غير رسمي ميديا کې اوس د ظواهري لپاره پخواني القاب نه کارول کيږي بلکې د مرتد، کافر، طاغوت په نومونو يادول کيږي چې ترشا يې همدا راز پروت ؤ.

ketabton.com - The Digital Library

د حازميانو سره بعثي جنرالان دوه مخې چلند کوي چې هم يې د خپلو مخالفينو په وړاندې د شرعي سپر په ډول استعمالوي او هم يې له فکري انحرافه دوی هم ويره لري چې هسې نه چې د بغدادي په وړاندې پاڅون وکړي، چې د ابوجعفرالحطاب پيښې دا هر څه په ډاګه کړل.

د داعش په داخل کې له دوه پلوه لوی انحراف شتون لري، په نظامي اړخ کې د بعث ګوند پخواني مجرمين واکمن دي چې هيڅ شرعي حدود نه پيژني او په شرعي اړخ کې بيا تونسي حازميان واکمن دي چې دوی په تکفير کې د جنون حالت ته رسيدلي. تونس چې څلويښت کاله د زين العابدين تر واکمنۍ لاندې ؤ، په هر ډول اسلامي دعوت مرګونې بنديز ؤ، هيڅ ديني مکتب، مدرسې شتون نه درلود، خو يوناڅاپه داعش ته راغلي ټول تونسيان د داعش شرعيان او لوړپوړي قاضيان شول. سوال دا دی چې په دومره يوه شاته پاتې ټولنه او له دينه لرې يوه جامعه کې څنګه په يو څو کلونو کې دومره لوی لوی مفتيان قاضيان پيدا شول؟ دوی په کوم جامعه کې خپل تحصيل سرته ورساوه؟ د کوم استاذ نه يې علوم زده کړل؟

د ابوجعفرالحطاب له وژل کيدو وروسته ابوخباب العراقي او ابوميمون العراقي دواړه د مجلس الشورى غړي شول. ځکه دا مهال د عراق له جبهې څخه د ځوانانو د جلبولو ضرورت دی نو بايد له عراقيانو استفاده وشي. ابوخباب او ابو ميمون دواړه په فکري لحاظ حازميان دي.

د داعش په مينځ کې حازميان ډير نفوذ لري ځکه دوی په جامع جوماتونو کې عامو خلکو او مجاهدينو ته شرعي دورې ورکوي او دغه شرعي دورو ته حاضريدل د سيمې په خلکو لازمي دي که ورته حاضر نشي د تعذيب لاندې نيول کيږي.

څه موده وړاندې حازميانو د بنغليانو مشر او د دوی ټول مربوط شرعيان راجمع کړل او له هغوی څخه يې استتابه(د توبې غوښتنه) وکړه. شرعي قيادت د انکار په صورت کې، د دوی د وژلو پريکړه وکړه ځکه دوی د تکفير العاذر په مسئله کې د عاذر د کفر حکم نه کوي نو د خوارجو د قاعدې مطابق (څوک چې کافر ته کافر نه وايي کافر دی) بنغليان ټول کافران دی نو بايد لومړی تر ې استتابه وشي، د انکار په صورت کې بايد اوژل شي. په دولت کې د بنغليانو د کمزورۍ له امله دوی مجبور شول چې په عام محضر کې له خپل کفر توبه اوباسي چې د داعش ميډيا غوښتل چې موضوع پټه کړي ولې په ټويټر کې د (استتابة البنغلي) د هاشتاق لاندې دا موضوع رسوا شوه.

بنغلي چې د داعش تکړه ليکوال بلل کيده او د داعش په مطبوعاتي برخه کې خورا فعال ؤ او د بغدادي په اړه يې يو مادحانه کتاب هم ليکلی ؤ، دا ډيره موده يې څرک نه معلوميږي، ځکه د شرعي قيادت له لوري د نومورې په هر راز فعاليت بنديز لګيدلی. دا نه يوائې بنغلي بلکې د ده په ټولو پلويانو بنديز دی.

د داعش عسکري قيادت چې د پخوانيو بعثي جنرالانو په لاس کې ده، د يوه استخباراتي اداري په څير تل د هغه کسانو په څار او مراقبت کې زيار باسي، چې يا له فکري پلوه له دوی سره سل په سلو کې جوړ نه وي يا بالقوه د دوی لپاره کوم کواښ ايجادولی شي.

ketabton.com - The Digital Library

د همدې لړۍ لومړی قرباني عمرالقحطاني ؤ. نومورې هغه وخت د عسکري قيادت له لورې په نظر کې واخيستل شو، چې کله نومورې د ټول دولت شرعي مسئول ؤ او په يوه ويډيويي کليپ کې يې اويل: که أيمن ظواهري د بغدادي له خلافت انکار کړي نو ټول بيعت کونکي محلول البيعة ګرځي. د ظواهري له وضاحت وروسته نومورې هغه مهال ژوندی ژک ورک شو، چې له رقه ښار څخه موصل ته پرلاړه ؤ. يونيم کال وروسته هم د نومورې هيڅ درک معلوم نه شو، په داسې حال کې چې نومورې په ټويټر کې حساب درلود او خورا فعال ؤ.

ابوعبدالله الکويتي حازمي فکره ؤ. د شعيطات د قبيلې د ۱۲۰۰ کسانو د وژلو حکم هم نومورې صادر کړی ؤ. نومورې هم په دې تور چې د کويت د استخباراتو ايجنټ دی د داعش د عسکري قيادت له لورې اوژل شو.

د داعش په آړه له دوی څخه د بيلو شويو ګواهی

د ابو ذر العراقي ګواهي

ابوذرالعراقي په ۲۰۰۳م کال د زرقاوي له ډلې سره يوځای شو. نومورې ډير وخت په عراق کې ؤ. د ۲۰۱۴ په لومړيو کې سوريې ته راغلو او هلته لومړی د حسکة اداري مدير (الاداري العام) وروسته د الميادين والي وټاکل شو. نومورې په يوه ويډيويي کليپ کې له ډيرو هغه جرائمو پرده پورته کړې، چې په سوريه کې داعش ډلې ترسره کړي دي. نومورې وايي: کله چې زه د الميادين والي وم، د احرارالشام ډلې ځايي مشر ابواسامة راته پيغام ولېږلو ترڅو له هغه سره ليدنه وکړم او د خپل منځي ستونزو په حل سره خبرې وکړو. لس بجې زمونږ ترمينځ رسمي ليدنه روانه وه چې خبر شو چې په الميادين کې د احرارالشام په مرکز د داعش له لورې ځانمرګی برید ترسره شو چې د لسګونو مجاهدينو د وژل کيدو او د لسګونو د زخمي کيدو سبب شو. زه حيران شوم او عامرالرفدان چې د ديرالزور والي او د ځانمرګو بريدونو مسئول، سره مې ليدنه وکړه. له هغه څخه مې وپوښتل چې تاسو ولې د احرارالشام په مجاهدينو پسې بريدګر رالېږلی ؤ؟ ايا هغوی مسلمان، مجاهدين نه دي؟ خو عامرالرفدان ماته په ځواب کې همدومره اويل چې دا د دولت پاليسي ده او ته په دې نه پوهيږې او زه يې له دندې ګوښه کړم. زه ابو مصعب التونسي ته چې د ديرالزور شرعي ؤ، ورغلم هغه ته مې شکايت وکړ خو هغه هم دوی مرتدين اوبلل.

عراقي په ويډيويي کليپ کې بغدادي ته خطاب کوي: اې بغدادي له الله څخه اويريږه او د قيامت په ورځ به د الله په وړاندې د عبدالکريم ابن باز، ابومصطفی، ابوبکر السبعاوي د وينو څه ځواب وايی؟ هغه انصار چې ستا په امر اوژل شول او جرم يې يواځې دا ؤ، چې ستا له بيعت يې انکار کړی ؤ(دا درې واړه په اسلامي دولت کې لوړپوړي قومندانان ؤ)

عراقي زياتوي: اې دواعشو تاسې چې زما دا ويډيو اوګورئ، په ما به هم د مرتد حکم وکړی. د الله په ذات قسم زه موحّد يم او د صليبيانو او رافضيانو په وړاندې مې جهاد کړی دی. د عراق په هر محاذ کې جنګيدلی يم چې په خپله تاسو ته دا خبره معلومه ده.

د ابو ذر العراقي د شاهدۍ بشپړ تفصيل په لاندې ويډيو لينک کې ليدلی شی.

ketabton.com - The Digital Library

https://m.youtube.com/watch?v.FlcFh3Lh4aY

د ابومصعب التونسي ګواهي

ابومصعب التونسي د تونس ده. نومورې د اسلامي دولت سره د يوځاي کيدو په هدف لومړی ليبيا ته راغلو له هغه ځايه شام ته راغلو. نومورې خپله قصه داسې بيانوي: کله چې شام ته راغلو، په ادلب کې د داعش په مرکز کې ميشت شو او لس ورځې راته د داعش د مؤظفو شرعيانو له لورې فکري روزنه راکړل شوه. له لسو ورځو انتظار وروسته د داعش د بهرنيانو د چارو مسئول راته اويل چې ته څه کول غواړې؟ ما ورته اويل غواړم فدايي تعرضي عمليات ترسره کړم.

مورِ د ابوعلي الانباري سره وليدل هغه راته اويل: چې ستاسو عمليات به د نورالدين زنګي په مرتدينو باندې وي. مورِ ته معلومه نه وه چې د نورالدين زنګي مربوط کسان څوک دي او دا نوم څوک کاروي؟ مورِ ته معلومه نه وه چې دولت او القاعده په فکري ډول جدا دي بلکې مورِ ويل چې دواړه يو مجاهدين دي. مورِ د بصراتون په سيمه کې د داعش د ځانمرګو بريدونو يو معسکر ته راولېږدول شو او هلته مو څه موده پوځي روزنه ترلاسه کړه چې وروسته يوې نامعلومې خواته ولېږدول شو. مورِ حق نه درلود چې پوښتنه وکړو چې کومې خواته ځو او که به چا دا پوښتنه کوله هغه په جاسوسۍ تورن کيده. بس مورِ ته دومره اويل شول چې ستاسو عمليات به د پي کې کې په مرتدينو باندې وي خو کله چې مورِ هدف ته ورسيدو او هغه مرکز ته داخل شو او برید مو پيل کړ، دجبهة النصرة بيرغ مو وليدو.

د ډزو له لرې تبادلې وروسته راته واضحه شوه چې مورِ د پي کې کې نه بلکې د جبهة النصرة په مجاهدينو برید کړی. مورِ له دوی څخه امن اوغوښتو او له دوی څخه مو اوغوښتل چې ستاسې شرعي دې زمورِ سره خبره وکړي. د دوی د شرعي سره له خبرو وروسته مو خپله ټوله اسلحه او بارودي واسکټ دوی ته وسپارل.

نومورې وايي: په الله قسم د داعش مطبوعات چې څه نشروي، په ساحه کې حقائق له هغې ډير خلاف دي. د دوی له ميډيا څخه مورِ الهام اخيستی ؤ چې کنې دلته يو اسلامي خلافت قايم شوی چې حقيقت بل ډول ؤ. مورِ د جبهة النصرة له چلند څخه ډير شرمنده يو. دوی زمورِ سره ډير د وروری چلند وکړ. د ابومصعب التونسي د ګواهۍ بشپړ ويډيو په دې لينک کې کتلای شی

https://m.youtube.com/watch?v.bZb-GQByzx0

د بوډا مصري ګواهي

ابواليسر محمود عبدالجبار د مصر د اسکندريې ولايت اوسيدونکی دی. ۷۲ کلن بوډا د داعش له لورې د جبهة النصرة په لورې د موټر بم سره د دې لپاره لېږل شوی ؤ چې په دوی ځان وژونکی برید ترسره کړي. نومورې چې د جبهة النصرة د

ketabton.com - The Digital Library

مجاهدينو د چاؤديدونکو توکو ډک موټر سره نيولی، خپله قصه داسې بيانوي: په ۲۰۱۳م کال د ترکيې له لارې سوريې ته د مجاهدينو سره د يوځای کيدو لپاره راغلم. لومړی په جبل الاکراد کې وم هلته مې ۷ مياشتې تيرې کړې. ابوايوب التونسي راته د استشهادي برید وړاندیز وکړ. ما ورسره اومنله او نيت مې د الله رضا حاصولول ؤ خو ما په دوی شرط کړه چې د بشار په پوځ به راته برید تنظيموي. دوی په غدر زه په مجاهدينو پسې راولېږلم. نومورې د مجاهدينو له نيک چلند څخه ډير خوښ دی. د ابواليسر بابا د کواهی بشپړ ويډيو په دې لينک کې کتلی شی.

د ابوالبراء الجوفي کواهي

ابوالبراء الجوفي چې د داعش له لورې د جبهة النصرة په مجاهدينو پسې رالېږل شوی ؤ خپله قصه داسي کوي: زه دلته د مسلمانانو د کومک لپاره سوريې ته راغلم او دلته له اسلامي دولت ډلې سره يوځای شوم او په حلب کې د دوی په يوه معسکر کې مقيم شوم. ما غوښتل چې شهادت غوښتونکی برید ترسره کړم. له ډير انتظار وروسته راته ابوعمارة العراقي اويل: په ادلب کې د مرتدينو په يوه مرکز ستاسو برید تيار دی. وړاندې راته هيڅ معلومات رانکړل شول چې دا مرکز د چا دی او د عملياتو تنفيذ به کله وي؟ کله چې د برید ځای ته تقريبا ۵۰۰ متره نږدې شوم نو راته اويل شول چې په دې کلي کې يو کور دی په هغې کې مرتدين دي د دوی په مينځ کې به برید ترسره کوې. ما ترې وپوښتل: دلته خو به عام خلک نه وي؟ هغوی راته اويل نه دا ټول کافران دي. نومورې کور د جبهة النصرة د ځايي مشر ؤ.

مور چې کله هغه کور ته ورسيدو لومړی زما بل ملګري ابوسعد د خپل واسکټ په توسط د جبهة النصرة په مجاهدينو برید ترسره کړ. وروسته زه کور ته داخل شوم، ګورم هلته ښځې او ماشومان دي او يو بودا سړي راته په چيغو کې اويل: زه له هرڅه بيزاره يم زه يو عام سړی يم. زه پورته چت ته پورته شوم او ډزې مې شروع کړې. له لږ ځنډ وروسته راته معلومه شوه چې د دولت له لورې زمور سره غدر شوی او مور په مسلمانانو پسې رالېږل شوي يو. ما له دوی څخه اوغوښتل چې ماته ستاسو يو شرعي راولئ چې شرعي په راتلو مې خپل واسکټ او اسلحه دوی ته تسليم کړه.

نومورې په يوه ويډيو کې له ډيرو نورو حقائقو پرده پورته کړي چې په لاندې لينک کې دا ويډيو کتلی شی

https://m.youtube.com/watch?v.QNJDi2MrauI

ابو ذر الجزراوي کواهي

ابوذر چې غوښتل يې د جبهة النصرة په يوه مرکز ځان وژونکی برید وکړي، د جبهة النصرة د مجاهدينو له لورې ژوندی ونيول شو. په يوه ويډيو کې نومورې له ډيرو ناويلو حقائقو پرده پورته کړې. نومورې وايي: زه شام ته د جهاد په موخه راغلم او دلته له اسلامي دولت ډلې سره يوځای شوم چې په الشدادي ښار کې له معسکر وروسته مې وغوښتل چې استشهادي برید ترسره کړم. د ابوعمارة العراقي له لورې راته په جبهةالنصرة د برید وړاندیز وشو چې ما رد کړ. درې ځله د ابوعمارة له لورې په جبهة

ketabton.com - The Digital Library

النصرة د برید وړاندیز راته وشو چې ما رد کړ خو په اخیري ځل نومورې راته اویل: ستا برید په مرتدینو دی او ته باید تیاری ونیسې. ترهغه وخته راته د برید مشخصات نه ؤ ښودل شوي، ترڅو چې د خپل هدف ته پنځه سوه متره نږدې شوؤ راته اویل شول چې فلانی کور چې د مرتدینو یوه غونده پکې روانه ده ستاسې هدف دی.

مورِ چې کله په کور برید وکړ او هلته داخل شؤو نو د ښځو او ماشومانو چیغې مو واؤریدې چې په زړه کې مو داسې شک پیدا شو چې کواکې مورِ په عامو مسلمانانو برید کړی. له لږ ځنډ وروسته راته واضحه شوه چې زمورِ سره غدر شوی. له دوی څخه مو د شرعي غوښتنه وکړه. له هغه سره له خبرو وروسته مورِ دوی ته تسلیم شؤو. ابوذر چې د مجاهدینو له ښه چلند څخه خجالت احساسوي ژاړي او وایي چې دوی زمورِ سره د ورونو په څیر چلند وکړ. د ابوذر د ګواهۍ ویډیو په دې لینک کې کتلی شی.

https://m.youtube.com/watch?v.jAnDEdclqc8

د ابوعبدالله المغربي ګواهي

ابوعبدالله چې له مراکش څخه د داعش سره د یوځای کیدو لپاره سوریې ته راغلی ؤ، داسې وایي: لومړی مې معسکر وکړ وروسته حلب ته ولیږل شوم او هلته مې په یوه سرحدي پوسته کې دنده ترسره کوله چې د استشهادي برید غوښتنه مې وکړه. مورِ د رقه ښار ته راوړل شؤو. له هغه ځایه راته امر وشو چې د پي کې کې مرتدینو په خلاف عملیات دي. مورِ د برید په هدف روان شو. کله چې مورِ برید د دوی مرکز ته ننوتو مجاهدین مو په لمانځه ولیدل او راته جوته شوه چې مورِ په مجاهدینو برید کړی. نومورې د برید نور جزیات په لاندې ویډیویي لینک کې بیانوي.

https://drive.google.com/file/d/0B_Zs_99Tv5vxVk54SC1Ddk5nR1U/view?usp.drivesdk

د قاضي ابوشعیب المصري ګواهي

ابوشعیب المصري چې لوی عالم دی په لیبیا کې د داعش د سترې محکمې عمومي قاضي پاتې شوی. نومورې په یوه صوتي مقطع کې د داعش څخه د خپل جلاوالي دلایل داسې بیانوي: زه چې کوم حقائق بیانوم په دې الله ګواه جوړوم او د دولت په مینځ کې ټول هغه کسان چې زما سره یوځای اوسیدلي په دې حقائقو ښه خبر دي. زما هدف له دې څخه یوائې د الله او د مسلمانانو په وړاندې د خپل مسئولیت اداء کول دي ترڅو امت د دې ډلې له انحرافه خبر شي. دویم مهم هدف مې د هغو مخلصو مجاهدینو او استشهادیانو د وینې ساتل دي چې د پاکې اسلامي جذبې په اساس غواړي فدایي بریدونه ترسره کړي. د داعش مشران په ځای د دې چې دوی په اساسي اهدافو کې وکاروي او د کافرانو خلاف یې استعمال کړي، د مجاهدینو مرکزونو ته یې لیږي او د هغو مجاهدینو د شهادت سبب ګرځي او هم د دې پاک زړو د دنیا او اخرت تباه کوي. نومورې په دې

ketabton.com - The Digital Library

لږ کې د ابوسلمان السوډاني چې له کوره د شهادت غوښتنې په مینه راوتلی ؤ، یادونه کوي چې په مجاهدینو یې ځان وژونکی برید ترسره او د داعش مشرانو د نوموړي دنیا او اخرت دواړه ورتباه کړل.

نوموړی وایي: زه هم د نورو مسلمانانو په څیر چې کله خلافت اعلان شو، ومې ویل: چې د خلافت خوبونه مو رښتیا شول. دا چې د خلیفه ټاکل فرض دي او د مشروع خلیفه سره بیعت هم فرض دی نو ما هم د خلافت له کاروان سره په بیړه د پیوست کیدو عزم وکړ او راغلم لیبیا ته ترڅو دلته د خلافت له کاروان سره یوځای شم. چې کله لیبیا ته راغلم دلته د شرعي محکمې مدیر وټاکل شوم. ما له لومړی ورځې مې حس کړه چې دلته مهاجرین ترکلکې محاصرې لاندې دي. هغوی نه پریښودل کیدل چې له چا سره په کومه موضوع خبرې وکړي. خو ما به په دې دلایلو ځان ته ډاډ ورکاوه چې ګڼې دولت د امنیتي دلائلو په اساس غواړي له بهر څخه راتلونکي کسان تر امنیتي کنټرول لاندې ونیسي. ما چې کله په شرعي محکمه کې کار پیل کړ، راته اویل شول چې د درنۍ د مجاهدینو شوری مرتدین دي ځکه هغوی د مرتدینو سره ائتلاف کړی او په طاغوت باندې کفر نه کوي. کله چې د دوی سره زموږ جنګ رامنځته شواو موږد دوی سره اسیران شو، د دوی شرعي راغلو او موږ ورسره خبرې وکړې. د دوی نیک چلند مو ولیدو راته څرګنده شوه چې دا مرتدین نه دي بلکې د داعش د عادت له مخې څوګ چې د دوی سره بیعت نه کوي لومړی دوی د هغوی په اسلحه او وسلو قبضه کول غواړي که هغه ډله د دوی د تیري د مخنیوي په خاطر په متقابل عمل لاس پورې کوي، بیا یې دوی مرتدین بولي او مال او نفس یې حلال بولي. د نوموړي قاضي د خبرو پوره تفصیل په لاندې لینک کې اوریدلی شی.

https://drive.google.com/file/d/0B_Zs_99Tv5vxSHpIMlBSc216Ukk/view?usp.drivesdk

د ابوتراب المجاهد کواهي

ابوتراب له اصله امریکایي دی او د داعش سره په ۲۰۱۳ م کال یوځای شوی دی. نوموړی چې عسکري خبرې لري په دیرالزور کې د داعش د یوه معسکر مسئول او روزونکی ؤ. نوموړي په یوه ویډیو کې چې انکلیسي ژبه خبرې کوي، د بغدادي په دولت کې مخلصو مجاهدینو ته په خطاب کې داسې وایي: اې د بغدادي په دولت کې هغو مهاجرینو، چې شام ته مو د ضعیفانو سره د مرستې لپاره او د دین د امداد لپاره هجرت کړی: زه د دیر الزور په معسکر کې روزنکی وم. د داعش د غړو سره د څلورو مهاجرینوملګرو په تکفیر بحث شو چې د داعش د غړو په نظر هر هغه څوګ چې د دوی مخالفت کوي کافر دی. څلورو مهاجرو ملګرو د مرکز څخه د تیښتې اراده وکړه چې درې یې د داعش له لورې په ډیرې بې دردۍ اوژل شول اویو یې په تیښته بریالی شو. دغه زما نظر بدل کړ او دا سوال راسره پیدا شو چې آیا زه د یو داسې ډلې لپاره خپل ژوند مصرفوم چې کمراه ده؟ همدا سبب شو چې له داعش څخه جدا شوم او د القاعدې سره یوځای شوم هغوی چې د جهاد اصلي ممثلین دي.

ketabton.com - The Digital Library

نوموړی وايي: د بغدادي د دولت او د آل سعود د دولت ترمينځ څه فرق دی؟ که د غله څخه لاس پرې کول، د رناکار په درو وهل اسلام وي بيا د آل سعود دولت هم اسلامي دولت دی ځکه هغوی هم حدود نافذوي. دوی په ديرالزور کې هغه مجاهدين د شا لخوا محاصره کړي چې د بشار پوځ سره په جګړه بوخت دي. نوموړی داعش ته په خطاب کې وايي: مورږ په کوم دليل مرتدين يو؟ آيا همدا د کافرانو طيارې، د دوی ټانکونه، د دوی توپونه په مورږ بريدونه نه کوي؟ ايا تاسو يې نه وينی؟ زمورږ په هستوګنځايونو کې تاسې اذان نه اوری؟

نوموړی وړاندې وايي: تاسې بايد درک کړی چې په سوريه کې مهاجرين د جنګ لومړيو لیکو ته لېږدول کيږي او انصار چې ډيری يې د اسد د شبيحې غړي دي او په وروستيو کې د دې لپاره چې د مجاهدينو له محکمې ځان وژغوري، د بغدادي سره بيعت کړی. په لويو لويو جنګونو کې شرکت نه کوي. تاسې ولې د بعث ګوند جنرالان د مسلمانانو په ګردنونو واکمن کړل؟ ابو مصعب الزرقاوي خو بعثيانو ته د دوی د فاسدو عقائدو په وجه دوی ته په تنظيم کې د غړيتوب اجازه نه ورکوله. تاسو خو دوی اميران جوړ کړل ولې؟ ځنګه چې د آل السلول سعودي دولت مسلمانان دوکه کوي همداسې تاسو د امت ځوانان دوکه کړل. دوی هم د توحيد بيرغ پورته کړی، قرآن کريم چاپوي، د غله لاس پرې کوي، زناکار په درو وهي، خو ورسره يې د حرمينو په خاوره کې امريکايان ميشت کړي چې د لويديځ د ګټو ساتنه کوي. همدا ډول تاسو هم د مجاهدينو په خلاف جنګ شروع کړی. همدا ډول تاسو د نصيرسانو څخه نيول شوي، د طبقة هوايي ډګر، ۱۷فرقه، ۹۳لواء د بشار پوځ ته وسپارل او تاسې ديرالزور ته د مجاهدينود جنګ لپاره لاړی.

ځنګه چې د سعودي کافر نظام ظاهرا د شريعت د تحکيم چيغې وهي او بل پلو ته يې سياسي زندانونه جوړکړي چې مسلمانانو او مجاهدينو ته پکې شکنجې ورکول کيږي، دا هرڅه د دې لپاره چې د دوی واک او قدرت دوام وکړي، همدا ډول د بغدادي دولت ظاهرا د شريعت د تحکيم چيغې وهي خو مشران يې د دې لپاره چې تل په قدرت کې پاتې شي، سياسي زندانونه يې جوړ کړي چې مجاهدين او مسلمانان پکې تعذيبيږي. د ابوتراب بشپړ ويډيو په لاندې لينک کې کتلی شی.

https://www.youtube.com/watch?v.WLPBL2nXC7c&feature.youtu.be

طه حمام فلاحه(الشيخ ابومحمد العدناني)

د عدناني انحرافات

طه حمام فلاحة د سوريې د ادلب ښار د بنش د سيمې اوسيدونکی دی. د ادلب د فوټبال د ملي ټيم لوبغاړی تر ۲۰۰۳کال پورې د لوبو يو اتل ؤ چې په ۲۰۰۵ م کال عراق ته لاړ اوهلته د زرقاوي سره يوځای شو. د ابوعمرالبغدادي له وژل کيدو وروسته، چې کله ابوبکر البغدادي د اسلامي دولت مشر وټاکل شو، نوموړی د دولت رسمي ويانډ او د مجلس الشوری غړی

ketabton.com - The Digital Library

شو. له داعش څخه د بيلو شويو له قوله عدناني يو چاپلوس صفته، تملق کونکی، اديب دی چې له همدې وجې د بعثيانو په دوره کې نومورې رسمي وياند وټاکل شو.

نومورې د نړۍ د مجاهدينو تر مينځ هغه وخت ډير شهرت وموند چې کله يې د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په اړه يوه ادبي، مدحيه ترانه اويله. نومورې اميرالمؤمنين د مسلمانانو يو اتل اوباله، خو د بغدادي د خلافت له اعلان وروسته عدناني د خپلو مخالفينو په وړاندې مطبوعاتي سنګر ونيوو.

عدناني له علمي پلوه ډير خام ؤ. د نومورې علمي عمق د ده له غږيزو پيغامونه ښه معلوميدلی شي، نومورې تل په ځای د دې چې د خپلو مخالفينو تنقدينو ته په منطق ځواب اوايي، د تهديد، شتم، سپکو سپورو لاره غوره کوله.

د عدناني مباهله

مباهله د مفاعلې دروازه ده چې اصل يې بهل دی او بهل په عربي لغت کې په ښيرا کې ډير مشقت کولو ته وايی چې بيا ځيني لغت پوهان يې د عربو له دې جملې څخه بولي(عليه بهلة الله) ای لعنته يعنې بهل لعنت ته وايي چې مباهله د خپلې مدعا د تکذيب په صورت کې په خپل ځان لعنت ليږلو ته وايي. د نجران نصارا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل او د عيسى مسيح په اړه او د رسول الله د رسالت په اړه يې بحث وکړ چې په پای کې دوی له رسول الله صلى الله سره د مباهلې غوښتنه وکړه چې په مائده سورت کې د مباهلې ايت نازل شو، خو نصاراؤ د مباهلې څخه انکار وکړ.

په ۲۰۱۴ کال چې کله بغدادي ځان د خليفه په توګه اعلان کړ او په سوريه کې يې د مجاهدينو له ټولو ډلو وغوښتل، چې يا دې د دوی مزعوم خليفه سره بيعت وکړي يا دې خپلې وسلې دوی ته وسپاري او کورونو ته دې لاړ شي. د دوی تر مينځ اخ او ډب رامينځ ته شو او هر لوري مقابل طرف پر باله چې د جبهة النصرة مجاهدين د دې فتنې تر ټولو لومړي قربانيان ؤ. ابو عبدالله الشامي چې د جبهة النصرة شرعي مسئول ؤ، په خپل يوه غږيز پيغام کې د ټولو وژنو پره په داعش وروارله چې ابو محمد العدناني د ده د غږيز پيغام په ځواب کې د (ثم نبتهل فنجعل لعنة الله على الكاذبين) تر عنوان لاندې يوه غږيزه وينا خپره کړه. عدناني په دې وينا کې الشامي ته د مباهلې بلنه ورکړه. عدناني په ۱۸ دقيقه ۱۷ ثانيه کې داسې وايي: ما د ابوعبدالله الشامي کذاب وينا واؤريده، نو اې مسلمانانو شامي که ريښتينی وي زما سره دې مباهله وکړي. اې مسلمانانو تاسې زما په بد دعاؤ امين اوايئ او په درواغجنو لعنت اوايئ. اې الله شامي ګمان کوي چې اسلامي دولت د جبهة النصرة د ستونزې قضيه شيخ ظواهري ته وړاندې کړي وه، دولت د جهاد د امامانو د عقيدې په اړه ناروا انځور وړاندې کوي، دولت لومړی د مخالفينو په جهاتو برید کړی..... او دولت هر هغه څوک چې د دوی په وړاندې جګړه کوي کافر او له ملت وتلی بولي..... اې الله زه تا ګواه جوړوم هغه څه چې ما يې يادونه وکړه او شامي يې په دولت پورې تړي دا په دولت باندې درواغ او تهمت دی، دا زمور تګلاره نه ده او نه په دې عقيده يو. اې الله په مور دواړو کې چې کوم يو درواغجن وي په هغې خپل لعنت راولېږه، مور ته په هغه کې ستا د قدرت نشانې وښيه، د نورو لپاره يې عبرت وګرځوه(نومورې دا جملې درې ځله تکراروي) اې

ketabton.com - The Digital Library

الله څوک چې د جهاد او مجاهدينو لپاره دسيسې جوړوي، د ده مکر د ده په ګردن کې واپس کړه. رسوا يې کړه. د نورو لپاره يې عبرت وګرځوه.

(http://www.archive.org/download/al.adnani/n.mp3)

نوموړی بيا د (ما کان هذا منهجنا) تر عنوان لاندې په ۱۶دقيقه ۱۷ ثانيه کې داسې وايي: اې الله که دا دولت د خوارجو دولت وي، ملا يې ماته کړه، مشران يې اوژنه، بيرغ يې رانسکور کړه،

(http://www.gulfup.com/?Cp1BCq)

د عدناني سره مباهله کونکی، شيخ ابوعبدالله الشامي بيا د عدناني په خواب کې په خپل غږيز پيغام کې په ډير شفقت او لطف داسې اويل:اې عدناني د مباهلې امر ډير خطرناک دی او پام چې د مجاهدينو ترمينځ دا لار مه تيروه. تا په ډير خطرناک کار د اقدام کولو اراده کړې. زه تاته بيا هم وخت درکوم او وايم چې اې عدناني د الله په مخ کې به ستا پيشې کيږي نو له الله اويريږه او له مباهلې وګرځه. ممکن د هغه څه په اړه چې ته مباهله کوې، ستا له علمه د باندې وي يا غصې نيولی وې او زه الله تعالی په دې ګواه جوړوم چې دا خبرې زه تهربا يا د ويرې او ډار له وجې نه کوم بلکې د الله د رضا لپاره ستا خيرخواهي کوم. که ته له مباهلې واپس شوې خو ښه ده کنه زه ستا سره مباهلې ته تيار يم او بيا هم وايم او الله تعالی ګواه جوړوم چې زه ستا لخوا مباهلې ته مجبور کړی شوی يم او خپل شکايت الله تعالی ته وړاندې کوم. نوموړی وړاندې وايي: اې الله زه تا ګواه جوړوم چې زه د عدناني لخوا مباهلې ته مجبور کړی شوی يم او که له مباهلې شاتک او زما چوپتيا د دوی د باطلې تګلارې لپاره دليل نه جوړيدی؛ ما به د ده سره مباهله نه وی کړي. اې د جبريل او ميکائيل ربه: اې د زمکې او اسمانونو پيدا کونکيه: ته د بندګانو ترمينځ د دوی د لانجو ښه فيصله کونکی يې. زموږ ترمينځ فيصله وکړه او موږ ته د نيکې لارې هدايت وکړه.

د عدناني له مباهلې وروسته د داعش لومړی مشر ابوعلي الانباري ؤ چې اوژل شو. انباري د بغدادي نائب او د داعش د ټولو چارو مسئول ؤ. له هغه وروسته سويداوي، بيلاوي، ترکماني چې تر ۱۴ قيادي مشران يې اوژل شول. تر ټولو وروستنی يې شيشاني، عدناني، فاروق عراقي ؤ. د مقابل لوري جبهة النصرة ټول قيادي مشران لا هم ژوندي دي او د مباهلې د فريق چې جبهة النصرة ده هيڅ قيادي مشر نه دی وژل شوی په داسې حال کې چې د جنګ په لومړيو ليکو کې شتون لري.

د داعش ځينې مطبوعاتي دجالان د اميرالمؤمنين شهادت يا د القاعدې د نورو ځانګود مشرانو شهادت د مباهلې له وجې بولي په داسې حال کې چې مباهله د عدناني او جبهة النصرة تر مينځ شوې وه او د القاعدې نورې ځانګې يا اسلامي امارت نه د دې مباهلې اړخ ؤ او نه اصلا ترې خبر ؤ.

ketabton.com - The Digital Library

د موبایلو لپاره د جوړ شوي اپلیکېشن څو سکرین شاټونه

د کتاب د نشرولوحق له ټولو مسلمانانو سره خوندي ده

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English